يَسْمَعُوْنَ ﴿٢٦﴾ اَوَ لَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ

دوی نه اوري (دا دلائل)* ایا دوی نه ګوري چې یقینا مونږه بیایو اوبـه لره

اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا

زمکې بنجرې ته پس راوباسو مونږ په دې سره فصل

تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَ اَنْفُسُهُمْ ؕ اَفَلَا

چې خوري د دې نه څاروي د دوی او دوی خپله ، آیا نه

يُبْصِرُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَ يَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

وینې دوی (دا دلائل) * او وائي دوی کله به وي دا

الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ

فیصله که یئ تاسو رښتیني * اووایه ورځ د

الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اِيْمَانُهُمْ

فتح (فیصلې) چې ده فائده به نه ورکوي هغه کسانو ته چې کفر ئې کړے دے ایمانونه د دوی

وَ لَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ

او نه به دوی ته مهلت ورکړے شي * نو مــــخ واړوه د دوی نه

وَ انْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿٣٠﴾

او انتظار کوه (د دوی د انجام) یقینًا دوی انتظار کونکي دي *

اٰیاتها ٧٣ سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوین ٣٣ نزول ٩٠ رکوعاتها ٩

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَ لَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

اے پیغمبره یره کوه (همیشه) د الله نه او مه منه د کافرانو

ربط د سورت الأحزاب : سُوۡرَۃُ الاَحۡزَابِ

(۱) ما قبل کښې رد د شرک اوشو دلته رد د رسم باطل کیږي.

(۲) ما قبل کښې اثبات د توحید په نفی د شفاعت قهریه اوشو دلته اهمیت د توحید ذکر کیږي.

(۳) ما قبل آیت ۳ کښې د کافرو اعتراض ذکر شو په نبي علیه السلام چه دۀ قرآن د ځان نه جوړ کړے دے دلته آیت ۵۷ کښې د داسې خلقو سزا ذکرکیږي.

امتیازات د سورت الأحزاب :

(۱) دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په ذکر د غزوه خندق باندي.

(۲) په دریو مثالونو د پاره د وضاحت د توحید .

(۳) په نوم د زید رضی الله عنه باندي.

امتیازات د سورت الأحزاب :

التشجیع والتحضیض فی التبلیغ و رد الرسومات الباطلة .

خلاصه د سورت الأحزاب :

سورت کښې التحضیض فی التبلیغ، رد د رسم باطل او په اثبات د توحید او رسالت باندي دری مثالونه ذکرکیږی.

څنګه چه یو سینه کښې دوه زړونه نه شی کیدے دارنګه یو عالم کښې دوه الهه نه شی کیدے (دا اثبات د توحید شو) .

څنګه چه یو سینه کښې دوه زړونه نه شی کیدے دارنګه یو امت کښې دوه پیغمبران نه شی کیدے (د موسی او هارون علیهم السلام شریعت یو وو) دا اثبات د رسالت شو.

څنګه چه ښځه مور نه شی کیدے نو دارنګه غیر الله، الله نه شی کیدے، او غیر نبي، نبي نه شی کیدے

څنګه چې متنبی ځوئے نه شي کیدے دارنګه غیر الله نه شي کیدے.

دارنګه دولس (۱۲)خطابات نبي علیه السلام ته ذکرکوی.

دارنګه دولس (۱۲)خطابات امت ته دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ الْمُنٰفِقِيْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ﴿۱﴾

او د منافقانو ، يقينًا الله دے پوهه حکمت والا ٠

وَّ اتَّبِعْ مَا يُوْحٰۤى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او تابع دار شه د هغه چي وحي کولے شي تا ته د طرفه د رب ستا نه ، يقينًا الله

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ﴿۲﴾ وَّ تَوَكَّلْ عَلَى

دے په هغه چي تاسو عمل کوئ خبردار ٠ او ځان اوسپاره په

اللّٰهِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۳﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ

الله باندي او کافي دے الله ذمه دار ٠ ندي گرځولي الله پاک

لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِیْ جَوْفِهٖ ۚ وَ مَا جَعَلَ

د پاره د يو سړي دوه زړونه په خيټه د ده کښې او نه دي گرځولي الله پاک

اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ

بيبياني ستاسو هغه چي ظهار کوئ تاسو هغوي سره ميندي ستاسو ،

وَ مَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ

او نه ئي دي گرځولي د حلے زامن (متبناگان) ستاسو (حقيقي) زامن ستاسو ، دا

قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَ

وينا ستاسو ده په خلو ستاسو باندي ، او الله وائي حق (خبره) او

هُوَ يَهْدِی السَّبِيْلَ ﴿۴﴾ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ

دا الله ښائي سمه لار ٠ منسوب کړئ دوی لره پلارانو د دوی ته

هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا

دا ديره د انصاف خبره ده په نزد د الله باندي ، پس که نه پيژنئ تاسو

اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِی الدِّيْنِ وَ مَوَالِيْكُمْ ؕ

پلاران د دوی نو دا رونړه ستاسو دي په دين کښې او دوستان ستاسو دي ،

وَ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ فِيۡمَاۤ اَخۡطَاۡتُمۡ بِهٖ ۙ وَ

او نشته په تاسو باندې گناه په هغه څه كښې چې خطا شوئ تاسو په هغې سره

لٰكِنۡ مَّا تَعَمَّدَتۡ قُلُوۡبُكُمۡ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ

ليكن په هغه چې قصد كړے وو زړونه ستاسو ، او دے الله

غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۝۵ اَلنَّبِىُّ اَوۡلٰى بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ

بښونكے مهربان • پيغبر (عليه السلام) ډېر نزدې دے مومنانو ته

مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ وَ اَزۡوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمۡ ؕ وَ اُولُوا

د نفسونو د دوى نه او بيبيانې د پيغمبر (عليه السلام) ميندې د دوى دي (شرافت كښې) ، او خاوندان د

الۡاَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى بِبَعۡضٍ فِىۡ كِتٰبِ

خپلولۍ بعضې د دوى نه نزدې دي بعضو ته په كتاب د

اللّٰهِ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَ الۡمُهٰجِرِيۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ

الله كښې د مومنانو نه او مهاجرينو نه مگر دا چې

تَفۡعَلُوۡۤا اِلٰٓى اَوۡلِيٰٓـئِكُمۡ مَّعۡرُوۡفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

اوكړئ تاسو د خپلو دوستانو سره ښيگړه ، دے دا كار

فِى الۡكِتٰبِ مَسۡطُوۡرًا ۝۶ وَ اِذۡ اَخَذۡنَا مِنَ

په كتاب كښې ليكلے شوے • او كله چې واغسته مونږه د

النَّبِيّٖنَ مِيۡثَاقَهُمۡ وَ مِنۡكَ وَ مِنۡ نُّوۡحٍ وَّ

پيغمبرانو نه پخه وعده د دوى او ستا نه هم او د نوح (عليه السلام) او د

اِبۡرٰهِيۡمَ وَ مُوۡسٰى وَ عِيۡسَى ابۡنِ مَرۡيَمَ ۖ وَ

ابراهيم عليه السلام او د موسى عليه السلام او د عيسى عليه السلام زوے د مريم او

اَخَذۡنَا مِنۡهُمۡ مِّيۡثَاقًا غَلِيۡظًا ۝۷ لِّيَسۡـَٔلَ

اغستې و مونږه د دوى نه وعده پخه • دي د پاره چې تپوس اوكړي (الله)

Maktaba Tul Ishaat.com

الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ

د رشتینونه په باره د رشتیاو د هغوي کښې او تیار کړے ږي دے د پاره د کافرانو

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا ع ۱

عذاب دردناک ۰ اے ایمـــــــان والو یـــــاد کړئ

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ

نعمت د الله په تاسو باندي کله چي راغلي تاسو ته لښکري (د کافرو)

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ

نو راولیږ موږ په دوی باندي باد او لښکري (فرښتي) چي تاسو نه لیدي هغي لره،

وَ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٩﴾ اِذْ

او دے الله په هغه چي تاسو ئي کوئ لیدونکے ۰ کله چي

جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَ مِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ

راغلل تاسو ته دوی د بره طرف ستاسو نه او د لاندي طرف ستاسو نه

وَ اِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَ بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ

او کله چي هیبت زده شوي سترګي ستاسو او اورسیدل زړونه

الْحَنَاجِرَ وَ تَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ﴿١٠﴾

مرکندونو ته او ګمانونه کول تاسو په الله باندي نا جائز ګمانونه ۰

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ زُلْزِلُوْا زِلْزَالًا

په دغه وخت کښې امتحان اوکړے شو په مومنانو باندي او اوجړ کولے شو په جړ کولو

شَدِيْدًا ﴿١١﴾ وَ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَ الَّذِيْنَ

سختو سره ۰ او کله چي وئیل منافقانو او هغه کسانو

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗٓ

چي په زړونو د هغوي کښې مرض وو چي وعده نه ده کړي موږ سره الله او پیغمبر د هغه

اِلَّا غُرُوۡرًا ﴿۱۲﴾ وَ اِذۡ قَالَتۡ طَّآئِفَةٌ مِّنۡهُمۡ

مگر د دهوکې • او کله چې اوئیل یوې ډلې د دوی نه

یٰۤاَهۡلَ یَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَکُمۡ فَارۡجِعُوۡا ۚ

اے مدینې والـو نشتے تېنګیدل تاسو لره نو واپس شئ

وَ یَسۡتَاۡذِنُ فَرِیۡقٌ مِّنۡهُمُ النَّبِیَّ یَقُوۡلُوۡنَ

او اجازت غوښتلو یو ډلې د دوی د پیغمبر علیه السلام نه وئیل دوی

اِنَّ بُیُوۡتَنَا عَوۡرَةٌ ۛؕ وَ مَا هِیَ بِعَوۡرَةٍ ۚۛ اِنۡ

چې یقینًا کورونه زمونږه خوشي (خالي) دي، او نه وو دا (کورونه د دوی) خوشي (خالي)،

یُّرِیۡدُوۡنَ اِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾ وَ لَوۡ دُخِلَتۡ عَلَیۡهِمۡ

دوی اراده نه کوله مگر د تېختې • او که داخل شوے وے په دوی باندې (کافران)

مِّنۡ اَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الۡفِتۡنَةَ لَاٰتَوۡهَا

د اطرافو د مدینې نه بیا تپوس شوے وو د دوی نه د شرک خامخا راتلل به دوی هغې ته

وَ مَا تَلَبَّثُوۡا بِهَاۤ اِلَّا یَسِیۡرًا ﴿۱۴﴾ وَ لَقَدۡ کَانُوۡا

او وخت به ئې نه وے تیر کړے په منلو د شرک باندې مگر لږ • او تحقیق سره وو دوی

عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنۡ قَبۡلُ لَا یُوَلُّوۡنَ الۡاَدۡبَارَ ؕ

چې وعدې ئې کړې وې د الله سره پخـوا چې نه به اړوي شاګانې •

وَ کَانَ عَهۡدُ اللّٰهِ مَسۡـُٔوۡلًا ﴿۱۵﴾ قُلۡ لَّنۡ

او ده وعده د الله تپوس کړے شوې • اووایه هرګز

یَّنۡفَعَکُمُ الۡفِرَارُ اِنۡ فَرَرۡتُمۡ مِّنَ الۡمَوۡتِ

فائده به درنه کې تاسو ته تېخته که تاسو تختئ د مرګ نه

اَوِ الۡقَتۡلِ وَ اِذًا لَّا تُمَتَّعُوۡنَ اِلَّا قَلِیۡلًا ﴿۱۶﴾ قُلۡ

یا د قتل نه او په دغه وخت کښې فائده به درنه کړے شي مگر لږه • اووایه

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ ذَا الَّذِیْ یَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ

څوک دے هغه کس چې بچ به کړي تاسو د (عذاب د) الله نه که اراده اوکي

بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَلَا یَجِدُوْنَ

په تاسو باندې د عذاب یا اراده اوکي په تاسو باندې د مهربانۍ ، او اوبه نه مومي دوی

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّ لَا نَصِیْرًا ﴿۱۷﴾

خپلو ځانونو لره سیــــــوا د الله نه څوک دوست او نه څوک امدادي ٭

قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِیْنَ مِنْكُمْ وَ الْقَآئِلِیْنَ

تحقیق سره پیژني الله منع کونکي (د جهاد نه) خلقو لره ستاسو نه او ویونکي

لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَیْنَا ۚ وَ لَا یَاْتُوْنَ الْبَاْسَ

خپلو رونړو ته راشئ موږ سره ، او نه راځي دوی جنګ ته

اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَیْكُمْ ۖۚ فَاِذَا جَآءَ

مګر لږ ٭ بخیلان دي ستاسو (فائدې) باندې ، پس کله چې راشي

الْخَوْفُ رَاَیْتَهُمْ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ تَدُوْرُ

یره وبنې به ته دوی لره چې ګوري به تا ته چورلي به

اَعْیُنُهُمْ كَالَّذِیْ یُغْشٰی عَلَیْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ

سترګې د دوی په شان د هغه سړي چې بے هوښي راغلي وي په هغه باندې د مرګ نه ،

فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ

پس کله چې لاړه شي یره مخامخ کیږي به دوی تاسو ته په ژبو

حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَی الْخَیْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ لَمْ

تیرو تیرو سره بخیلان دي په فائدے ستاسو باندې ، دغه کسانو ندے

یُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَ كَانَ ذٰلِكَ

راوړے ایمان نو برباد کړل الله عملونه د دوی ، او دے دا کار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ
په الله باندې آسان • گمان کې دوی په دلو (د کافرو) چې نه دي
يَذْهَبُوْا ۚ وَ اِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ
تلي ، او که راشي (بیا) دلې (د کافرو) نو خوښې به دوی کاش
اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ عَنْ
که دوی اوسیدے په باندو کښې تپوس ئې کولے د
اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ وَ لَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْۤا اِلَّا
خبرونو ستاسو ، او که وو دوی په تاسو کښې نو جنګ به ئې نه وو کړے مګر
قَلِيْلًا ﴿٢٠﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ
لږ • په تحقیق سره ده ستاسو د پاره په تابعدارۍ د پیغمبر د الله کښې
اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَ
طریقه ښائسته د پاره د هغه چا چې عقیده ساتي د رضا د الله او
الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَ ذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَ لَمَّا رَاَ
ورځ د آخرت او یادوي الله لره ډیر • او هر کله چې اولیدلې
الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا
مومنانو دلې (د کافرو) ، اوئیل دوی دا هغه وخت دے چې وعده کړې وه مونږه سره
اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ صَدَقَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ ۬ وَ
الله او پیغمبر د الله او رشتیا ویلي دي الله او پیغمبر د الله او
مَا زَادَهُمْ اِلَّاۤ اِيْمَانًا وَّ تَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ
نه ښکاره کې دوی لره مګر اثر د ایمان او غاړه کیښودل • د
الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا
مومنانو نه سړي دي چې رشتیا ئې کړل هغه چې وعدې ئې کړې وې

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهَ عَلَيۡهِ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ قَضٰى نَحۡبَهٗ وَ

الله سره په هغې باندې، پس بعضې د دوی نه هغه څوک وو چې پوره ئې کړه خپله نيته او

مِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّنۡتَظِرُ ۖ وَ مَا بَدَّلُوۡا تَبۡدِيۡلًا ﴿۲۳﴾

بعضې د دوی نه هغه څوک دي چې انتظار کوي، او بدل نه که دوی (۱) په بدلولو سره.

لِّيَجۡزِيَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيۡنَ بِصِدۡقِهِمۡ

دې د پاره چې بدله ورکړي الله رشتينو ته د رشتياو د دوی

وَ يُعَذِّبَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ اِنۡ شَآءَ اَوۡ يَتُوۡبَ

او سزا ورکړي منافقانو ته که خوښه ئې شي يا به مهرباني اوکړي

عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۲۴﴾ وَ رَدَّ

په دوی باندې ، يقيناً الله دے ښښونکے مهربانه . او واپس کړل

اللّٰهُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُوۡا

الله هغه کسان چې کفر ئې کړے وو سره د خپلو غصو نه او نه مونده دوی

خَيۡرًا ؕ وَ كَفَى اللّٰهُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ الۡقِتَالَ ؕ

هيڅ خير (فتح)، او کافي دے الله مومنانو لره په جنګ کښې ،

وَ كَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيۡزًا ﴿۲۵﴾ وَ اَنۡزَلَ الَّذِيۡنَ

او دے الله طاقت والا زورآور ذات . او راکوز ئې کړل هغه کسان

ظَاهَرُوۡهُمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ مِنۡ صَيَاصِيۡهِمۡ

چې امداد ئې کړے وو د دې کافرانو سره د اهل کتابو نه د قلعو د هغوی نه

وَ قَذَفَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمُ الرُّعۡبَ فَرِيۡقًا

او او ئې غورځوله په زړونو د هغوی کښې يره يوه ډله (د کافرانو)

تَقۡتُلُوۡنَ وَ تَاۡسِرُوۡنَ فَرِيۡقًا ﴿۲۶﴾ وَ اَوۡرَثَكُمۡ

وژله تاسو او قيد کوله به تاسو بله ډله . او په ميراث کښې ئې درکړه تاسو ته

(۱) حکم د الله په وخت د امتحان کښې.

اَرْضَهُمْ وَ دِيَارَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ وَ اَرْضًا
زمکه د هغوي او کورونه د هغوي او مالونه د هغوي او داسي زمکه

لَّمْ تَطَـُٔوْهَا ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ
چي نه وه پيمال کړي تاسو هغي لره، او دے الله په هر يو شي باندي

قَدِيْرًا ﴿۲۷﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ
قدرت والا ٭ اے پیغمبره اووايه خپلو بيبيانو ته که

كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا
تاسو اراده کوئ د ژوند د دنيا او د نمائش د هغي

فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَ اُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا
نو راشئ چي جوړه جامه درکم تاسو او پريږدم تاسو لره په پيرخودو

جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَ
ښائسته سره ٭ او که تاسو اراده کوئ د (رضامنتيا د) الله او د

رَسُوْلَهٗ وَ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ
(ازدواج) د پيغمبر د هغه او (د اجر) د کور د آخرت پس يقينًا الله تيار کړے دے

لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ
د پاره د نيکانو ښځو ستاسو نه اجر لوئي ٭ اے بيبيانو د

النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ
پيغمبر جا چي راتلل اوکړل ستاسو نه په يو کار خلاف د سنت

مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ
ښکاره دوچند به کړے شي هغي د پاره عذاب په دوچندئ سره،

وَ كَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾
او دے دا کار په الله باندي آسان ٭

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ مَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تَعْمَلْ
او چا چي عاجزي اوکړه ستاسو نه الله او پیغمبر د الله ته او عمل ئې اوکه
صَالِحًا نُّؤْتِهَاۤ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَ اَعْتَدْنَا لَهَا
نیک وربه کو مونږ دي ته اجر د دي دوه ځله (دوچند) او تیار کړے دے مونږ دي لره
رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ
رزق عزتمند ۰ اے بیبیانو د نبي علیه السلام نه یئ تاسو په شان د یوے تنے
مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ
د (عامو) زنانو که یریږئ تاسو نو نرمي مه کوئ
بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ
په وینا کښې ځکه طمع به اوساتي هغه سړے چي په زړه د هغه کښې وي مرض (د شهوت)
وَّ قُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَ قَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ
او وایئ وینا ښه ۰ او (بندي) اوسیږئ تاسو په کورونو خپلو کښې
وَ لَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَ
او مه راوځئ تاسو د کورونو نه په شان د راوتلو د جـاهلیت ړومبني او
اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَ اَطِعْنَ
پابندي کوئ د مونځ او ورکئ زکوٰة او تابعداري کوئ
اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ
د الله او د پیغمبر د الله ، یقینًا اراده کئ الله چي لرې کي
عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَ يُطَهِّرَكُمْ
ستاسو نه بد نامي لره اے کور والو او پاکې کي تاسو لره
تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾ وَ اذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ
په پاکولو سره ۰ او یادوئ تاسو هغه چي لوستلے شي په کورونو ستاسو کښې

مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَ الْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

آيتونو د الله او سنت ، يقينًا الله دے

لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَ الْمُسْلِمٰتِ

باريک بين خبردار • يقينًا مسلمانان سړي او مسلماناني ښځي

وَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ وَ الْقٰنِتِيْنَ

او مومنان سړي او مومناني ښځي او عاجزي کونکي (الله ته) سړي

وَ الْقٰنِتٰتِ وَ الصّٰدِقِيْنَ وَ الصّٰدِقٰتِ

او عاجزي کونکي ښځي (الله ته) او رشتيني سړي او رشتيني ښځي

وَ الصّٰبِرِيْنَ وَ الصّٰبِرٰتِ وَ الْخٰشِعِيْنَ

او صبر کونکي سړي او صبر کونکي ښځي او يريدونکي سړي

وَ الْخٰشِعٰتِ وَ الْمُتَصَدِّقِيْنَ وَ الْمُتَصَدِّقٰتِ

او يريدونکي ښځي او خيرات کونکي سړي او خيرات کونکي ښځي

وَ الصَّآئِمِيْنَ وَ الصّٰٓئِمٰتِ وَ الْحٰفِظِيْنَ

او روژه دار سړي او روژه داري ښځي او حفاظت کونکي سړي

فُرُوْجَهُمْ وَ الْحٰفِظٰتِ وَ الذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ

د خپلو شرمګاهونو او حفاظت کونکي ښځي (د خپلو شرمګاهونو) او يادونکي سړي الله لره

كَثِيْرًا وَّ الذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً

ډير ډير او يادونکي ښځي (الله لره ډير ډير) تيار کړے دے الله دوی لره بښنه

وَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾ وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّ لَا

او اجر لوئي • او نه دي مناسب د پاره د يو مومن سړي او نه

مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا

د مومنے ښځے کله چي فيصله اوکي الله او پيغمبر د الله د يو کار

أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَ

دا چې شي دوی لره اختيار د كار د دوی نه او

مَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ

چا چې نافرماني اوكړه د الله او د پيغمبر د الله پس تحقيق سره دے گمراه شو

ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ؕ﴿۳۶﴾ وَ اِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْۤ اَنْعَمَ

په گمراهي ښكاره كښې ۔ او كله چې اوئيل تا هغه سړي ته چې احسان كړے وو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ

الله په هغه باندي (د ايمان) او احسان كړے وو تا په هغه باندي (د آزادولو) : اوساته خان سره

زَوْجَكَ وَ اتَّقِ اللّٰهَ وَ تُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ

بي بي ستا او اويرېږه د الله نه او تا پټوله په زړه ستا كښې

مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَ تَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ

هغه خبره چې الله ښكاره كوونكے دے د هغې او ته يرېدي د خلقو (د ملامتيا) نه ، او الله

اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا

ډېر لائق دے دا چې ته اويرېږي د هغه نه ، پس هر كله چې پوره كه زيد د هغې نه

وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى

حاجت په نكاح باندي دركړه موږ تا ته هغې لره دې د پاره چې نه شي په

الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْۤ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ

مومنانو باندي تنگستيا په نكاح د بيبيانو د متبناگانو د هغوي كښې

اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَ كَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

كله چې پوره كړې دوی د دې ښځو نه حاجت ، او دے حكم د الله

مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ

كيدونكے ۔ نشتے په پيغمبر باندي څه تنگستيا

فِيمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ
په هغه احکامو کښې چې مقرر کړي دي الله ده لره، دا طريقه د الله وه په هغه کسانو کښې
خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ وَ كَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا
چې تېر شوي دي پخوا ، او دے حکم د الله انداز
مَّقْدُوْرَا ﴿۳۸﴾ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ
انداز کړے شوے ، هغه کسان چې رسوي احکام د الله
وَيَخْشَوْنَهٗ وَ لَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ
او بريږي د الله نه او نه بريږي يو تن نه بغير د الله نه،
وَ كَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ
او کافي دے الله حساب کونکے ، نه دے محمد (عليه السلام) پلار
اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ
د يو تن د سړو ستاسو ليکن پيغمبر د الله دے
وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ
او ختمونکے (د سلسلے) د پيغمبرانو دے، او دے الله په هر يو شي باندې
عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ
پوهه ، اے ايمان والو ياد کړئ الله لره
ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ وَّ سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ
په يادولو ډيرو سره ، او پاکي بيانوئ د الله صبا او بيګا (هر وخت) ، دا الله
الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَ مَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ
هغه ذات دے چې رحمتونه رالېږي په تاسو باندې او فرشتې د الله (دعاګانې غواړي) دې د پاره چې اوباسي تاسو
مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَ كَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ
د تيارو (د کفر او شرک) نه په طرف د رڼا (د توحيد) ، او دے الله په مومنانو باندې

ع ۵ ۲

Maktaba Tul Ishaat.com

رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚۖ وَ

مهربان • پېشکښي د دوی به هغه ورځ چي مخامخ به شي دوی به سلام وي، او

اَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ

تیار کړے دے (الله) دوی لره اجر عزتمند • اے پیغمبر علیه السلام یقیناً مونږه

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ وَّ

رالیږلے دے تا لره بیان کونکے د الله د توحید او زیرے ورکونکے او ېره ورکونکے • او

دَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَ سِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾

رابلونکے دین د الله ته په حکم خپل سره او ډیوه روښانه •

وَ بَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا

او زیرے ورکه مومنانو ته په دي خبره باندي چي دوی لره دے د طرفه د الله نه فضل

كَبِيْرًا ﴿۴۷﴾ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَ الْمُنٰفِقِيْنَ

لوئي • او مه منه د کافرانو او د منافقانو

وَ دَعْ اَذٰىهُمْ وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ

او پرېږده بدي ردي د دوی او ځان سپاره په الله باندي ، او کافي دے الله

وَكِيْلًا ﴿۴۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَكَحْتُمُ

ذمه دار • اے ایمــــان والو کله چي نکاح کوئ تاسو

الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ

د مومنانو ښځو سره بیا طلاق ورکئ تاسو دوی ته مخکښي د

تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ

ملاویدو ستاسو نه دوی سره نو نشته تاسو لره په دوی باندي څه عدت

تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَ سَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا

چي شمیرئ تاسو هغي لره، نو جوړه جامه ورکئ دوی ته او آزادي کړئ دوی لره په آزادولو

جَمِيْلًا ﴿٤٩﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَحْلَلْنَا لَكَ

ښائسته سره • اے پیغمبر علیه السلام یقینًا مونږه جائز کړي دي تا لره

اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْۤ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَ مَا

بیبیاني ستا هغه بیبیاني چې ورکړي دي تا هغوي ته مهرونه د هغوي او هغه چې

مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّاۤ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَ

مالک شوے دے ښے لاس ستاسو د هغه نه چې احسان کړے دے الله په تا باندي او

بَنٰتِ عَمِّكَ وَ بَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَ بَنٰتِ خَالِكَ

لونړه د تره او لونړه د پهپو ګانوستا او لونړه ماما ستا

وَ بَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۫

او لونړه د ماسي ګانو ستا هغه چې هجرت ئي کړے دے تا سره

وَ امْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ

او هغه زنانه مومنه که او ښښه دي (زنانه) خپل ځان نبي علیه السلام ته

اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً

که اراده اوکي نبي علیه السلام دا چې په نکاح سره واخلي دي لره دا، (دا خلور قسمونه) یواځي دي

لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ قَدْ عَلِمْنَا مَا

تا لره بغیر د مومنانو نه ، تحقیق سره پوهه یو مونږه په هغه چې

فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْۤ اَزْوَاجِهِمْ وَ مَا مَلَكَتْ

مقرر کړے دي مونږه په دوی باندي په باره د بیبیانو د دوی کښي او هغه چې مالکان دي

اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ؕ وَ

ښي لاسونه د دوی (د هغوي نه) دي د باره چې نه شي په تا باندي تنګستیا (په بیان د مسئله کښي) او

كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٥٠﴾ تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ

دے الله ښښونکے مهربان *لري کولے شي ته د خپل ځان نه هغه څوک چې ستا خوښه شي

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنۡهُنَّ وَ تُـٔۡوِیۡۤ اِلَیۡكَ مَنۡ تَشَآءُ ؕ وَ مَنِ

د دوی نه او ځائې ورکولے شي ته ځان سره چا له چې دې خوښه شي ، او هغه څوک

ابۡتَغَیۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیۡكَ ؕ

چې لټې ته د هغه چا نه چې ته جدا شوے ئې نو نشته ګناه په تا باندې ،

ذٰلِكَ اَدۡنٰۤی اَنۡ تَقَرَّ اَعۡیُنُهُنَّ وَ لَا یَحۡزَنَّ

دا خبره ډیره نزدې ده دا چې یخې به شي سترګې د دوی او خفه به نه شي

وَ یَرۡضَیۡنَ بِمَاۤ اٰتَیۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَ اللّٰهُ

او خوشحاله به شي دوی په هغه چې ورکړې دې ته دوی ته تولې ، او الله

یَعۡلَمُ مَا فِیۡ قُلُوۡبِكُمۡ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِیۡمًا

پوهیږي په هغه چې په زړونو ستاسو کښې دي او دے الله پوهه

حَلِیۡمًا ﴿۵۱﴾ لَا یَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنۡۢ بَعۡدُ

صبر ناک • او نه دي روا تا لره نورې ښځې پس د دې نه

وَ لَاۤ اَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجٍ وَّ لَوۡ

او نه دا چې ته بدل کې په دوی سره نورې بیبیانې اګر که

اَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتۡ یَمِیۡنُكَ ؕ

تعجب کښې اچوي تا لره ښائست د دوی مګر هغه چې مالک شوے دے ښے لاس ستا (د هغوی نه) ،

وَ كَانَ اللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ رَّقِیۡبًا ﴿۵۲﴾ ع یٰۤاَیُّهَا

او دے الله په هر یو شي باندې نګهبان • اے

الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَدۡخُلُوۡا بُیُوۡتَ النَّبِیِّ اِلَّاۤ

اے مومنانو مه ننه کېږئ تاسو کورونو د پیغمبر علیه السلام ته مګر

اَنۡ یُّؤۡذَنَ لَكُمۡ اِلٰی طَعَامٍ غَیۡرَ نٰظِرِیۡنَ

دا چې اجازت اوکړے شي تاسو ته د پاره د خوراک په داسې حال کښې چې نه يئ تاسو کتونکي

اِنّٰهُ وَ لٰكِنْ اِذَا دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا

لویشو د هغي ته، لیکن کله چي دعوت درکړے شي تاسو ته نو دننه شئ (کورونو د نبي علیه السلام ته) نو کله چي

طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَ لَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ؕ

خوراک اوکړئ تاسو نو (فوراً) خواره شئ تاسو او مه شئ غوږ کېخودونکي خبرو ته،

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ

یقیناً دا کار ستاسو چي دے تکلیف ورکړئ پیغمبر ته نو حیاء کړئ

مِنْكُمْ ؗ وَ اللّٰهُ لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَ اِذَا

ستاسو نه (پیغمبر) او الله باک نه کړئ د بیانولو د حق نه، او کله چي

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ

غواړئ تاسو د دوی (بیبیانو د نبي علیه السلام) نه څه سامان نو غواړئ دوی نه آخوا

حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَ قُلُوْبِهِنَّ ؕ

د پردې نه، دغه (احکام) ډیر پاکوالے دے د پاره د زړونو ستاسو او د زړونو د دوی،

وَ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ

او نه دي مناسب تاسو لره دا چي تکلیف ورکړئ پیغمبر د الله ته او

لَاۤ اَنْ تَنْكِحُوْۤا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ اَبَدًا ؕ

نه دا خبره چي نکاح اوکړئ تاسو د بیبیانو د نبي علیه السلام سره پس وفات د ده نه چرې هم،

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ۝٥٣ اِنْ

یقیناً دا کار ستاسو دے په نزد د الله باندي لوئي ګناه ۔ که

تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ

ښکاره کوئ تاسو څه شے یا پټوئ تاسو هغي لره پس یقیناً الله دے په هر یو

شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝٥٤ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْۤ اٰبَآىِٕهِنَّ

شي باندي پوهه ۔ نشته ګناه په دوی باندي په باره د پلارانو د دوی کښي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَ لَآ اِخْوَانِهِنَّ وَ لَآ اَبْنَآءِ

او نه په باره د زامنو د دوی. کښي او نه په باره د رونړو د دوی. کښي او نه په باره د

اِخْوَانِهِنَّ وَ لَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَ لَا نِسَآئِهِنَّ

وريرونو د دوی. کښي او نه په باره د خورينو د دوی. کښي او نه په باره د نورو ښځو کښي

وَلَا مَامَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ وَ اتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ

او نه په باره د هغه کښي چي واکدار دي ښي لاسونه د دوی. (د هغوي) ، او اويريږئ د الله نه ،

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ

يقيناً الله دے په هر يو شي باندي پوهه • يقيناً

اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا

الله او ملائك د الله شاباسے وائي په پيغمبر باندي • اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾

ايمان والو تاسو هم دورد (آفرين) وايئ په دي پيغمبر باندي او غاړه کيږدئ پوره غاړه کيخودو سره •

اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ

يقيناً هغه کسان چي تکليف ورکئ الله او پيغمبر د الله ته په لعنت کړي دي دوی. لره

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ وَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا

الله په دنيا او آخرت کښي او تيار کړے ئي دے دوی. لره عذاب

مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ وَ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ

سپکونکے • او هغه کسان چي تکليف ورکئ مومنانو سړو ته او

الْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا

مومنانو ښځو ته بغير د څه ګناه نه چي دوی. کړے وي پس تحقيق سره دوی. باره که

بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

تهمت او ګناه ښکاره • اے پيغمبره عليه السلام اووايه

لِّاَزْوَاجِكَ وَ بَنٰتِكَ وَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ

بیبیانو خپلو ته او لونړو خپلو ته او ښځو د مومنانو ته

يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ؕ ذٰلِكَ

چې راتاوي کړي په خپلو ځانونو باندې د غټو چیلونو د دوی نه ، دا

اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ وَ كَانَ

نژدې ده چې اوبه نه پیژندے شي دوی نو تکلیف به ورنه کړے شي دوی ته ، او دے

اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۵۹ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ

الله بښونکے مهربان . که منع نه شو

الْمُنٰفِقُوْنَ وَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

منافقان او هغه کسان چې په زړونو د هغوی کښې دے مرض

وَّ الْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ

او اتکل وهونکي په ښار کښې خامخا مسلط به کړو مونږ تا لره په دوی باندې

ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ۝۶۰

بیا باقي به نه شي دوی تا سره په دې کلي کښې مګر لږ .

مَّلْعُوْنِيْنَ ۛۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَ قُتِّلُوْا

دوی به لعنت کړے شوي وي ، چرته چې اوموندلے شي نیولے به شي او وژلے به شي

تَقْتِيْلًا ۝۶۱ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ

په وژلو سره . دا طریقه د الله ده په هغه کسانو کښې چې تیر شوي دي

قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۝۶۲

مخکې ، او هیچرې اوبه نه مومې ته طریقې د الله لره بدلیدل .

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ؕ قُلْ اِنَّمَا

تپوس کوي تا نه خلق په باره د قیامت کښې ، اووایه یقینًا

Maktaba Tul Ishaat.com

عِلۡمُهَا عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدۡرِيۡكَ لَعَلَّ
علم د قیامت الله سره دے ، او څه شي پوهه که تا لره شائد چي

السَّاعَةَ تَكُوۡنُ قَرِيۡبًا ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ
دا قیامت وي نزدي • یقینًا الله په لعنت کړي دي

الۡكٰفِرِيۡنَ وَ اَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيۡرًا ﴿۶۴﴾ خٰلِدِيۡنَ
کافران او تیار کړے ئې دے دوی لره جهنّم • همیشه به وي

فِيۡهَاۤ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوۡنَ وَلِيًّا وَّ لَا
په دې کښې همیشه ، نه به مومي دوی خان لره دوست او نه

نَصِيۡرًا ﴿۶۵﴾ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوۡهُهُمۡ فِى النَّارِ
څوک امدادي • په هغه ورځ چي اړولے راړولے به شي مخونه د دوی په اوور کښې

يَقُوۡلُوۡنَ يٰلَيۡتَنَاۤ اَطَعۡنَا اللّٰهَ وَ اَطَعۡنَا
وائي به دوی هائے ارمان دے مونږ لره چي تابعداي کړے مونږ د الله او د تابعداري کړے وه مونږ

الرَّسُوۡلَا ﴿۶۶﴾ وَ قَالُوۡا رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعۡنَا
د پیغمبر • او وائي دوی اے ربه زمونږ یقینًا مونږه تابعداري کړې وه

سَادَتَنَا وَ كُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوۡنَا السَّبِيۡلَا ﴿۶۷﴾
د خپلو لیډرانو او د خپلو مشرانو نو گمراه کړي ئې وو مونږه د نیغي لارې نه •

رَبَّنَاۤ اٰتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ الۡعَذَابِ وَ
اے ربه زمونږه ورکې دوی ته دوچند عـــذاب او

الۡعَنۡهُمۡ لَعۡنًا كَبِيۡرًا ﴿۶۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا
په لعنت کې دوی لره په لعنت لوئي سره • اے مـــومنانو

لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ اٰذَوۡا مُوۡسٰى فَبَرَّاَهُ
مه کیږئ په شان د هغه کسانو چي تکلیف ئې ورکه موسیٰ علیه السلام ته نو پاک اوساته الله ده لره

اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ؕ وَ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ؕ۶۹

الله د هغه نه چې وئيل دوی (بدنامي لره) ، او وو (موسیٰ) په نزد د الله مخوربخ •

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ قُوْلُوْا

اے ايمان والو اوبريږئ د الله نه او اوايئ

قَوْلًا سَدِيْدًا ۷۰ۙ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَ

وينا درسته • درست به کي تاسو لره عملونه ستاسو او

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ

ببښنه به اوکي تاسو ته د ګناهونو ستاسو ، او چا چې تابعداري اوکړه د الله او

رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۷۱ اِنَّا عَرَضْنَا

د پيغمبر د الله تحقيق سره دے کامياب شو په کاميابي لوئي سره • تحقيق سره پيش که مونږه

الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ الْجِبَالِ

امانت آسمانونو او زمکو او غرونو ته

فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَ اَشْفَقْنَ مِنْهَا وَ

نو هغوي انکار اوکه دا چې نقصان اوکي په هغي کښي او اوبريدل د (نقصان کولو نه) په هغي کښي او

حَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا

نقصان اوکه په هغي کښي انسان منافق ، يقيناً دا انسان (منافق) دے ډير ظالم

جَهُوْلًا ۷۲ۙ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

او ډير جاهل • دي د پاره چې عذاب ورکي الله منافقانو سره

وَ الْمُنٰفِقٰتِ وَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ الْمُشْرِكٰتِ

او منافقانو ښځو او مشرکانو سره او مشرکانو ښځو ته

وَ يَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ

او مهرباني اوکي الله په مومنانو سره او په مومنانو ښځو باندي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ع ٦

وَّكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٣﴾

او دے الله بښونکے مهربان ٭

آياتها ٥٤ سُوْرَةُ سَبَا مَكِّيَّة بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوين ٣٤ نزول ٥٨ ركوعاتها ٦

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا

صفتونه د خدائي ټول دي خاص الله هغه ذات لره چي خاص هغه لره اختيار د هغه څه دے چي آسمانونو کښي او د هغه

فِي الْاَرْضِ وَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَ

چي په زمکه کښي دي او دي الله لره ستائنه ده په (دنيا او) اخرت کښي ، او

هُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿١﴾ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي

دا الله حکمت والا خبردار ذات دے ٭ پوهيږي الله په هغه څه چي ننوځي په

الْاَرْضِ وَ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَ مَا يَنْزِلُ مِنَ

زمکه کښي او هغه څه چي راوځي د دي نه او هغه چي راکوزيږي د

السَّمَآءِ وَ مَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَ هُوَ الرَّحِيْمُ

بره نه او هغه څه چي خيژي دي آسمان ته ، او دا الله رحم کونکے

الْغَفُوْرُ ﴿٢﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا

او بښونکے دے ٭ او وائي هغه کسان چي کفر ئي کړے دے رابه نه شي مونږ ته

السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَ رَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ

قيامت ، او وايه بے شکه قسم مي دي وي په خپل رب باندي خامخا راځي به تاسو ته دا قيامت پوهه دے

الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ

په غيبو باندي ، نه پټيږي د الله نه په اندازه د ذري باندي

فِي السَّمٰوٰتِ وَ لَا فِي الْاَرْضِ وَ لَاۤ اَصْغَرُ

(بره) آسمانونو او نه (ښکته) زمکو کښي او نه وړه خبره

سُوْرَةُ سَبَاٍ

ربط د سورت سبا :

(۱) ما قبل آیت ٦۳ کښي ئي اوئيل چي دقيامت علم الله سره دے دلته آيت ۳ کښې په هغې باندي ترقي ده.

(۲) ما قبل کښي رد د شرک اوشو مکمل په دريو مثالونو سره دلته ابتداء کښې وائي چه

{الْحَمْدُ لِلَّهِ} په دي نعمت اوايه .

(۳) ماقبل آيت ٦۳ کښي داسورت تپوس د کفارو د قيامت باره کښي ذکر شو نو دلته آيت ۳ کښي

وائي چه اصل کښي دوی د قيامت نه منکر دي .

امتيازات د سورت سبا : (۱) داسورت ممتاز دے په واقعې دمرگ دسليمان عليه السلام باندي .

(۲) په معجزه دداؤد عليه السلام باندي.

(۳) په معجزه دسليمان عليه السلام باندي .

دعوي د سورت سبا : نفي دشفاعت قهريه بالوجوه

خلاصه د سورت سبا : داسورت دوه حصي دے .

(۱) اوله حصه آيت ۱ نه تر آيت ۲۱ پوري :

په دي کښي دوه بابونه دی :اول باب آيت ۱ نه تر آيت ۹ پوري ، په ديکښي مقاصد اربعه

سره د زجر او تخويف نه ذکرکيږي .

دويم باب آيت ۱۰ نه تر آخر ۲۱ پوري ، په ديکښي څلور خبری ذکرکيږي :

(۱) دلائل نقليه په نفي دشفاعت قهريه په ذکر دواقعاتو د داؤد اودسليمان عليهما السلام .

(۲) دپيريانو نه نفي دعلم غيب . (۳) تخويف دنيوي . (٤) دشمني دشيطان .

(۲) دويمه حصه آيت ۲۲ نه تر آخره پوري ، په ديکښي لس ۱۰ خبري ذکرکيږي :

(۱) لاري دشرک بندئ . (۲) شفاعت به دالله په اجازت کيږي اوعجز د ملائکو .

(۳) دليل عقلي . (٤) صداقة القرآن . (٥) اثبات دقيامت سره دزجر نه منکرينو د قيامت ته .

(٦) بائيکاټ دآلهؤ دمشرکينو دمشرکانو نه . (۷) پيغمبر عليه السلام ته تسلي .

(۸) مالدارو ته زجر اوسپکاوے د دنيا . (۹) دلائل عقليه په توحيد او نفي دشفاعت قهريه .

(۱۰) زجر منکرينو درسالت او دقرآن ته ٤۳ تا آخر

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳﴾

د دي نه او نه لویه مګر په علم د الله کښې دي ښکاره •

لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

دي د پاره چې بدله ورکي هغه کسانو ته چې ایمان ئې راوړے دے او عمل کئ نیک ،

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۴﴾

دغه کسان دوی لره بخښنه ده او رزق عزتمند دے •

وَ الَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان چې کوشش کئ په خلاف د آیتونو زمونږ کښې کمزوري کونکي دغه کسان

لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۵﴾ وَ يَرَى

دوی لره عذاب دے د عذاب دردناک نه • او عقیده ساتي

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

هغه کسان چې ورکړے شوے دے ورته علم د هغه (کتاب) چې رالیږلے شوے دے تا ته

مِنْ رَّبِّكَ هُوَالْحَقَّ ۙ وَ يَهْدِيْٓ اِلٰى

د طرفه د رب ستا نه دا حق دے او لار ښائي په طرف د

صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿۶﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ

لاري د غالب ستائلے شوي ذات • او وائي هغه کسان

كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ

چې کفر ئي کړے دے آیا نه ښایو تاسو ته په یو سړي چې هغه خبروي تاسو

اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ

کله چې ذره ذره شئ تاسو په پوره ذره ذره کیدو سره یقینًا شئ به تاسو خامخا په پیدائش

جَدِيْدٍ ﴿۷﴾ اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ

نوي کښي • آیا د ځان نه جوړئ (دا پیغمبر) په الله باندي دروغ یا دے په ده باندي

جِنَّةٌ ؕ بَلِ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ
ليونتوب ، بلكه هغه كسان چي ايمان نه راوړي په آخرت باندي
فِى الۡعَذَابِ وَ الضَّلٰلِ الۡبَعِيۡدِ ﴿۸﴾ اَفَلَمۡ
په عذاب كښي به وي او په گمراهي لري كښي دي • د حق نه آيا نه
يَرَوۡا اِلٰى مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَ مَا خَلۡفَهُمۡ مِّنَ
گوري دوی هغه ته چي پاسه د دوی نه دي او هغه چي لاندي د دوی نه دي يعني
السَّمَآءِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ اِنۡ نَّشَاۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ
آسمان او زمكي ته ، كه خوښه شي زمونږه نو اوبه منډو دوی لره
الۡاَرۡضَ اَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ؕ
په زمكه كښي يا به راوغورځوو په دوی باندي يو ټوټه د پره نه
اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبۡدٍ مُّنِيۡبٍ ﴿۹﴾
يقينًا په دي كښي خامخا نښه ده د پاره د هر بنده راګرځيدونكي الله ته •
وَ لَقَدۡ اٰتَيۡنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضۡلًا ؕ يٰجِبَالُ اَوِّبِىۡ
او تحقيق سره وركړے وو موږه داود (عليه السلام) ته د خپل طرف نه غوره والے ، اے غرونو پاكي بيانوئ
مَعَهٗ وَ الطَّيۡرَ ۚ وَ اَلَنَّا لَهُ الۡحَدِيۡدَ ﴿۱۰﴾ۙ اَنِ
ده سره او مارغان (مو ورلره تابع كړي وو) او نرمه كړي وه موږه ده لره اوسپنه • دا چي
اعۡمَلۡ سٰبِغٰتٍ وَّ قَدِّرۡ فِى السَّرۡدِ وَ اعۡمَلُوۡا
كار كوه د زغرو او اندازه كوه په كړو كښي او عمل كوئ
صَالِحًا ؕ اِنِّىۡ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۱۱﴾ وَ
نيك يقينًا زه د هغه چي تاسو كوئ ليدونكے يم • او
لِسُلَيۡمٰنَ الرِّيۡحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٌ وَّ رَوَاحُهَا
د پاره د سليمان (عليه السلام) تابع كړے وو موږه باد د سحر سفر د هغي په اندازه د يوے مياشتے وو او د ماښام سفر د هغي

Maktaba Tul Ishaat.com

شَهْرٌ ۚ وَ اَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ؕ وَ مِنَ

په اندازه د یوې میاشتې وو او روانه کړې وه مونږه ده لره چینه د تانبې ، او بعضې د

الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ

پیریانو نه هغه څوک وو چې کار به ئې کو مخامخ د هغه په حکم

رَبِّهٖ ؕ وَ مَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ

د رب خپل باندې ، او څوک به چې کوږ شو د دوی نه د حکم زمونږ نه او به څکوو مونږه هغه ته

مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ⑫ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا

د عــــذاب د جهنّم نه جوړول به ئې د پاره د سلیمان علیه السلام هغه څه چې

يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَ تَمَاثِيْلَ وَ جِفَانٍ

خوښه به ئې شوه یعنې مورچې او سیندرې او کاسې

كَالْجَوَابِ وَ قُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْۤا اٰلَ

په شان حوضونو او کټوې مضبوطې ، عمل کوئ اے د

دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَ قَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ

داود علیه السلام تابعدارو د شکر ، او ډیر لږ دي د بندګانو زما نه

الشَّكُوْرُ ⑬ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا

شکر ګزار • پس هر کله چې فیصله اوکړه مونږه په سلیمان علیه السلام باندې د مرګ

دَلَّهُمْ عَلٰى مَوْتِهٖۤ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ

خبر نه که دوی لره په مرګ د هغه باندې مګر وینه د زمکې

تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ

خوړه ئې همساء ده هغه پس هر کله چې راپریوته (لاش د سلیمان علیه السلام) نو ښکاره کړه پیریانو (خلقوته)

اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا

دا خبره که دوی پوهیدے په غیبو باندې نو درنګ به ئې نه وو تیر کړے

فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿١٤﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ

په عذاب سپکونکي کښې • په تحقيق سره شته وو د پاره د سبا والو په

مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّ شِمَالٍ ۬ۖ

خايونو د هغوي کښې نښه چې هغه دوه باغونه وو ښي طرف او گس طرف ته،

كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَ اشْكُرُوْا لَهٗ ؕ

خورئ د رزق د رب ستاسو نه او شکر اوباسئ د الله

بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّ رَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿١٥﴾ فَاَعْرَضُوْا

دا کلے پاک دے او رب بخښونکے دے • نو دوی مخ واړوو

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَ بَدَّلْنٰهُمْ

نو راخلاص که مونږه په دوی باندې سيلاب د بند مضبوط او بدل کړل مونږ دوی لره

بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّ

باغونه د دوی په نور دوو باغونو سره چې خاوندان وو د خوراک بد مزي او

اَثْلٍ وَّ شَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ﴿١٦﴾ ذٰلِكَ

غزونه او څه شے د جاړکو لږ وو نه • دا

جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ؕ وَ هَلْ نُجٰزِيْۤ اِلَّا

سزا ورکړې وه مونږ دوی له په سبب د هغه چې دوی کفر کړے وو، او دا سزا نه ورکوو مونږ مگر

الْكَفُوْرَ ﴿١٧﴾ وَ جَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ الْقُرَى

ناشکرو ته • او گرځولے وو مونږه مينځ د دوی کښې او په مينځ د کلـــو

الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّ قَدَّرْنَا

هغه کښې چې برکت اچولے وو مونږه په هغې کښې کلي ښکاره ښکاره او په اندازه کړے وو مونږ

فِيْهَا السَّيْرَ ؕ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَ اَيَّامًا

په دې کښې سفر • سفر کوئ په دې کښې د شپې او د ورځې

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰمِنِيْنَ ⑱ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا

په امن باندي * نو اوئيل دوی اے ربه زمونږه لرې والے راولي په مينځ د سفرونو زمونږ
کښي

وَ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَ

او دوی ظلم اوکه په خپلو ځانونو باندي نو اوګرځول مونږ دوی لره تاريخ د زمانے
او

مَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

ذره ذره مو کړل دوی لره پوره ذره ذره کيدلوسره، يقينًا په دي کښي خامخا
نښے د عبرت دي

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ⑲ وَ لَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ

د پاره د هر صبر کونکي تابعدار * او تحقيق سره رشتيا اومونده په دوی باندي

اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ

ابليس خپل ګمان نو دوی تابعداري اوکړه د ابليس بغير د يوے ډلے
د

الْمُؤْمِنِيْنَ ⑳ وَ مَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ مِّنْ

مومنانو نه * او نشته شيطان لره په دوی باندي
څه

سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ

زور مګر دي د پاره چي ښکاره کوو مونږه هغه څوک چي ايمان راوړي په آخرت باندي

مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِیْ شَكٍّ ؕ وَ رَبُّكَ عَلٰى

د هغه چا نه چي هغه وي د دي قيامت نه په شک کښي ، او رب ستا په

كُلِّ شَیْءٍ حَفِيْظٌ ㉑ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ

هر يو شي باندي حفاظت والا دے * اووايه راوبلئ هغه کسان چي

زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ

ګمان پې کوئ تاسو سيوا د الله نه (د الهو) ، دوی مالکان نه دي په اندازه

ذَرَّةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَ لَا فِی الْاَرْضِ وَ مَا

د ذري باندي (بره) آسمانونو او نه (ښکته) زمکو کښي او نشتے

لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّ مَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ

دوی لره په دې دواړو کښې څه برخه (الله سره) او نشته (الله) لره د دوی نه څوک

ظَهِيْرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا

امدادي • او فائده به ورنه کړي شفارس الله سره مګر

لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ

هغه چا ته چې اجازت اوکړي الله هغه د پاره، تر دې پورې کله چې لرې کړے شي يره د زړونو د دوی نه

قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا الْحَقَّ ۚ وَهُوَ

وائي به دوی څه اوئيل ستاسو رب، وائي به دوی چې وے وئيله حقه خبره او دا الله

الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٢٣﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ

اوچت لوئي ذات دے • اووايه څوک رزق درکوي تاسو ته د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ

(بره) آسمانونو او (ښکته) د زمکو نه ، اووايه الله او يقينًا مونږه يا

اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٤﴾

تاسو خامخا په هدايت يا په ګمراهئ ښکاره کښې يو •

قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ

اووايه تپوس به اونه کړے شي تاسو نه په باره د هغه کښې چې جرم کړے دے مونږ او تپوس به نشي کولے زمونږ نه

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ

په باره د هغه څه کښې چې تاسو ئې کوئ • اووايه جمع والے به راولي په مينځ زمونږ کښې رب زمونږ بيا

يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٦﴾

فيصله به اوکړي په مينځ زمونږ کښې په انصاف سره، او دا الله فيصله کونکے پوهه دے •

قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ

اووايه اوښايئ ما ته هغه کسان چې يو ځائے کړي دي تاسو دي الله سره حصه داران

Maktaba Tul Ishaat.com

كَلَّا ؕ بَلۡ هُوَ اللّٰهُ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۲۷﴾ وَ مَاۤ

هيڅ دا سې نه ده، بلکه دا الله غالب حکمت والا دے • او نه دے

اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيۡرًا وَّ نَذِيۡرًا وَّ

رالیږلے مونږ تا لره مگر د پاره د ټولو خلقو زیرے ورکوونکے او یره ورکوونکے

لٰكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۸﴾

لیکن اکثر خلق نه پوهیږي •

وَ يَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ

او وائي دوی کله به وي دا وعده (د قیامت) که یئ تاسو

صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۹﴾ قُلۡ لَّكُمۡ مِّيۡعَادُ يَوۡمٍ

رشتیني • اووایه ستاسو د پاره وخت د وعدې د هغه ورځې دے

لَّا تَسۡتَاۡخِرُوۡنَ عَنۡهُ سَاعَةً وَّ لَا

چې روستو به نه شئ تاسو د هغې نه یو ساعت او نه به

تَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَ قَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

مخکښې شئ تاسو (د هغې نه یو ساعت) • او وائي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے

لَنۡ نُّؤۡمِنَ بِهٰذَا الۡقُرۡاٰنِ وَ لَا بِالَّذِىۡ

چرې مونږه ایمان نه راوړو به دې قرآن باندې او نه به هغه باندې

بَيۡنَ يَدَيۡهِ ؕ وَ لَوۡ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوۡنَ

چې مخکښې د دې نه دي ، او که اوینې ته کله چې ظالمان

مَوۡقُوۡفُوۡنَ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ۖۚ يَرۡجِعُ بَعۡضُهُمۡ

اودرولے شوي به وي په نزد د خپل رب واپس کوي به بعضې د دوی

اِلٰى بَعۡضِ اِلۡقَوۡلَ ۚ يَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ

بعضو ته وینا وائي به هغه کسان

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لَوْ لَآ اَنْتُمْ
چې کمزوري کړے شوي وو هغه کسانو ته چې ځان ئې غټ ګڼړلے وو که نه وئ تاسو
لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا
خامخا وو به مونږه مومنان * اوبه وائي به هغه کسان چې ځان ئې غټ ګڼړلے وو
لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ
هغه کسانو ته چې کمزوري ګڼړلے شوي وو آيا مونږه بند کړي وئ تاسو
عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ
د قرآن نه پس د هغه نه چې راغے تاسو ته بلکه وئ تاسو
مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا
(په خپله) مجرمان * او اوبه وائي هغه کسان چې کمزوري ګڼړلے شوي وو
لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَ النَّهَارِ
هغه کسانو ته چې ځان ئې غټ ګڼړلے وو بلکه تدبير ستاسو د شپے او د ورځے (راپسے وو)
اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَ نَجْعَلَ لَهٗٓ
کله چې حکم کولو تاسو مونږ ته دا چې کفر اوکو مونږه په الله باندې او اوګرځوو مونږه ده لره
اَنْدَادًا ؕ وَ اَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا
حصه داران ، او پټه به کي دوي پښيمانتيا کله چې اوويني دوي
الْعَذَابَ ؕ وَ جَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ
عذاب ، او وابه چوو مونږه غټ غټ زنځيرونه په څټونو
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا
د هغه کسانو کښې چې کفر ئې کړے دے ، دوي ته به سزا نه شي ورکولے مګر د هغه چې دوي
يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَ مَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ
کول * او نه وو ليږلے مونږ په هيڅ يو کلي کښې څوک

Maktaba Tul Ishaat.com

نَّذِيۡرٍ اِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوۡهَآ ۙ اِنَّا بِمَآ اُرۡسِلۡتُمۡ

یرونکے مګر وئیلې وو مالدارو د هغې یقینًا مونږه په هغه مسئله باندې چې لیږلے شوې یئ تاسو

بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوۡا نَحۡنُ اَكۡثَرُ اَمۡوَالًا

په هغې باندې کافران ۰ او وائي دوی مونږ زیات یو په اعتبار د مال

وَّاَوۡلَادًا ۙ وَّمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِيۡنَ ﴿٣٥﴾ قُلۡ اِنَّ

او اولاد سره او نه یو مونږه عذاب راکړے شوې ۰ اووایه یقینًا

رَبِّىۡ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيَقۡدِرُ

رب زما پراخوي رزق چا له ئې چې خوښه شي او تنګوي

وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ

لیکن اکثر خلق نه پوهیږي ۰ او نه دي

اَمۡوَالُكُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُكُمۡ بِالَّتِىۡ تُقَرِّبُكُمۡ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو په هغه طریقه چې نزدې کې تاسو لره

عِنۡدَنَا زُلۡفٰٓى اِلَّا مَنۡ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًـا

مونږه سره په درجه کښې مګر چا چې ایمان راوړه او عمل ئې اوکړه نیک

فَاُولٰٓـئِكَ لَهُمۡ جَزَآءُ الضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُوۡا وَ

پس دغه کسان دوی لره بدله دوچند ده په سبب د هغه عمل چې دوی کړے وو او

هُمۡ فِى الۡغُرُفٰتِ اٰمِنُوۡنَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِيۡنَ

وي به دوی په بالاخانو (د جنت کښې) په امن ۰ او هغه کسان

يَسۡعَوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيۡنَ اُولٰٓـئِكَ فِى

چې کوشش کوي په آیتونو زمونږ کښې کمزوري کونکې دغه کسان په

الۡعَذَابِ مُحۡضَرُوۡنَ ﴿٣٨﴾ قُلۡ اِنَّ رَبِّىۡ

عذاب کښې حاضر به کړے شي ۰ اووایه یقینًا رب زما

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَ

پراخئ رزق لره د پاره هغه چا چې خوښه ئې شي د بندګانو خپلو نه او

يَقْدِرُ لَهٗ ؕ وَ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ

تنګئ هغه لره ، او هغه چې خرچ کوئ تاسو څه مال نو دا الله

يُخْلِفُهٗ ۚ وَ هُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَ يَوْمَ

پاتي به کښې خرچ کونکي لره ثواب او دا الله غوره د رزق ورکونکو دے * او (یادکه) هغه ورځ

يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ

چې راپورته به کړي (الله) دوی لره ټول بیا به اوائي (الله) فرشتو ته

اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿٤٠﴾ قَالُوْا

ایا دغه کسانو خاص ستاسو عــبادت کولو * وائي به دوی

سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ

پاکي ده ربه تا لره ته معاون ئې زمونږه سیوا د دوی نه ، بلکه

كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ۚ اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ

دوی عبادت کو د پیریانو ، اکثر د دوی په پیریانو باندي

مُّؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ

یقین ساتونکي وو * پس نن ورځي واکدار به نه وي بعضي ستاسو نه

لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّ لَا ضَرًّا ؕ وَ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

د پاره د بعضو د نفع او نه د ضرر ، او اوبه وایو مونږه هغه کسانو ته

ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ

چې ظلم ئې کړے دے اوڅکئ عذاب د اوور هغه چې تاسو به

بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

هغې ته نسبت د دروغو کوو * او کله چې لوستلے شي په دوی باندي آیتونه زمونږه

Maktaba Tul Ishaat.com

بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ

واضحه وائی دوی نه دے دا مگر یو سړے دے چې اراده کوي دا چې

يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَ قَالُوْا

بند کې تاسو لره د هغه نه چې عبادت کولو مشرانو ستاسو ، او وائی دوی

مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ؕ وَ قَالَ الَّذِيْنَ

نه دے دا مگر دروغ د خان نه جوړ کړے شوي ، او وائی هغه کسان

كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

چې کفر ئې کړے دے په باره د قرآن کښې کله چې راغے دوی ته نه دے دا مگر

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٣﴾ وَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ

جادو ښکاره ٭ او نه دي ورکړي مونږه دوی ته څه کتابونه

يَّدْرُسُوْنَهَا وَ مَآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ

چې لولي دوی هغې لره او نه دے لیږلے مونږه دوی ته مخکښې ستا نه څوک

نَّذِيْرٍ ؕ﴿٤٤﴾ وَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَ مَا

برونکے ٭ او نسبت د دروغو کړے وو هغه کسانو چې مخکښې د دوی نه وو او نه دي

بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ

رسیدلي دوی زرمې حصې د هغه ته چې ورکړي وو مونږ هغوي ته نو دوی نسبت د دروغو اوکه زما پیغمبرانو ته

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٥﴾ۧ قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ قف

پس څه رنګه وو زما عذاب ؟ ٭ اووایه یقینًا زه پند درکوم تاسو ته

بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَ فُرَادٰى

په یو خبره باندي ، دا چې اودریږئ تاسو الله ته دوه دوه او خان له خان له

ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ

بیا سوچ اوکړئ تاسو نشتے په ملګري ستاسو باندي څه لیونتوب ،

اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ
نه دے دا مګر یرونکے دے ستاسو د پاره مخکښې د عذاب
شَدِيْدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ
سخت نه • اووایه هغه چې زه غواړم ستاسو نه څه مزدوري نو هغه دې
لَكُمْ ؕ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ وَ هُوَ عَلٰى
ستاسو شي • نه ده مزدوري زما مګر الله سره ده ، او دا الله په
كُلِّ شَیْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّیْ يَقْذِفُ
هر یو شي باندي پوهه دے • اووایه یقینًا رب زما اولي
بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ
په حق سره(باطل لره) پوهه دے په غیبو باندي • اووایه راغے حق (قرآن)
وَ مَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَ مَا يُعِيْدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ
او نه شي پاتي کیدے باطل او نه به راوګرځي • اووایه
اِنْ ضَلَلْتُ فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِیْ ۚ وَ
که زه ګمراه یم نو یقینًا سزا د ګمراهۍ زما په ما باندي ده ، او
اِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِیْٓ اِلَیَّ رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ
که زه په سمه لار روان یم نو دا په سبب د هغه چې وحي کيږي ما ته رب زما ، یقینًا دا الله
سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾ وَ لَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا فَلَا
اوریدونکے نژدې دے • او که اوویني ته کله چې دوی په یره شي نو نه به وي
فَوْتَ وَ اُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٥١﴾ وَّ
پاتے کیدل او او به نیولے شي د ځائے نژدې نه • او
قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَ اَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ
وائي به دوی ایمان راوړے دے موږ په دې باندي او چرته به وي دوی لره نیول(حصول) د ایمان د

Maktaba Tul Ishaat.com

مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ۝۵۲ وَّ قَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ

خائے لري نه ٭ او په تحقيق سره دوی کفر دے په دي باندي

قَبْلُ ۚ وَ يَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۭ

مخوا ٭ او ويشتل به کړي دوی په غيبو باندي د خائے

بَعِيْدٍ ۝۵۳ وَ حِيْلَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ

لري نه ٭ او واقع به شي په مينځ د دوی کښي او په مينځ د هغه څه کښي چي غواړي ئي (زړونه د) دوی

كَمَا فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ

لکه چي کار شوے وو امثالو د دوی سره مخـــوا ٭ يقيناً دوی

كَانُوْا فِيْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ۝۵۴

وو په شک کښي لا لا (دير) شک کونکي ٭

ع ۶ / ۲۱

آیاتها ۴۵ — سُوْرَةُ فَاطِرٍ مَكِّيَّةٌ — ترتيب ۳۵ نزول ۴۳ — ركوعاتها ۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ

صفتونه د خدائي توب خاص الله لره دي چي پيدا کونکے د آسمانونو او د زمکو دے

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ

پيدا کونکے د فرشتو دے استازي چي خاوندان د وزرو دي

مَّثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَ رُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا

دوه دوه او دريو دريو او څلورو څلورو ٭ زياتي الله په پيدائش د مخلوقات کښي هغه

يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۱

چي خوښه ئي شي يقيناً الله په هر يو شي باندي قدرت والا دے

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا

هغه چي برانيځي الله دپاره د خلقو څه خوشحالي نو نشتے

سُوْرَةُ فَاطِرٍ

ربط د سورت فاطر :

الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ

درجو دے مالک د عرش دے ، رالیږي قرآن په

اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ

خپل حکم باندي په هغه چا چي خوښه ئي شي د بندګانو خپلو نه دي د پاره چي اویري

يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى

د ورځ د ملاقات نه • په هغه ورځ چي دوی به سرکند ئي ، پټ به نه شي

عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۗ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۗ

په الله باندي د دوی نه څه شے ، د چا د پاره ده بادشاهي نن ورځ

لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ

خاص الله لره اختیار دے چي یکي یو زور آور دے • نن ورځ بدله به ورکړے شي هر یو

نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ

نفس ته د هغه چي دوی کړي ئي ، نه به ئي ظلم نن ورځ ، یقینًا الله

سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ

زر حساب کونکے دے • او اویروه دوی لره د هغه ورځے

الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ

نژدي نه کله چي زړونه د مرکندونو سره به ئي

كٰظِمِيْنَ ۬ؕ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّ لَا

ډک د غصے نه ، نه به ئي د پاره د ظالمانو څوک دوست او نه

شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَ مَا

څوک خلاصونکے (به زور) چي خبره ئي • او منلے شي پوهیږي الله په خیانت د سترګو باندي او هغه چي

تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾ وَ اللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ؕ وَ

پټې ئي سينې ٭ او الله فيصله کوي په انصاف ، او

الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ

هغه کسان چې دوی ئې رامدد کوي سبـــوا د الله نه فيصله نه شي کولې دوی

بِشَيْءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٢٠﴾ اَوَ لَمْ

د څه شي ، يقينًا الله هم دے اوريدونکے ليدونکے (د هر څه) ٭ آيا نه

يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

ګرځي دوی په زمکه کښې چې اوګوري څه رنګه شو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْا هُمْ

انجام د هغه کسانو چې وو مخکښې د دوی نه ، وو (پخواني)

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّ اٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

ډيرسخت د دوی نه (اوسنو) په طاقت (بدنی) او نښو نښانوکښې په زمکه کښې

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَ مَا كَانَ لَهُمْ

نو اونيول دوی لره الله په سبب د ګناهونو د دوی ، او نه وو دوی لره

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿٢١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ

د طرفه د الله نه څوک بچکونکے ٭ دا د دې وجې نه چې

تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ

راتلل به دوی ته پيغمبران د دوی په واضحه دلائلو نو دوی به کفر کولو نو اونيول دوی لره

اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾ وَ لَقَدْ

الله ، يقينًا دا الله زور آور دے سخت عذاب والا دے ٭ او تحقيق سره

اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَ سُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿٢٣﴾

رالیږلے وو مونږه موسیٰ علیه السلام په خپلو معجزو او دلــــيل ښکاره باندې ٭

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَ هَامٰنَ وَ قَارُوْنَ فَقَالُوْا

فرعون او هامان او قارون ته نو اوئيل دوى

سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ

(دا دے) جادوګر غټ دروغژن ٭ پس هر كله چې راغے دوى ته په حق

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ

د طرفه زمونږ نه اوئيل دوى اوژنئ ځامن د هغه كسانو

اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَ اسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ وَ مَا كَيْدُ

چې ايمان ئې راوړے دے ده سره او ژوندى پريږدئ جينكۍ د دوى، او نه وو چل

الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾ وَ قَالَ فِرْعَوْنُ

د كافرانو مګر په تباهۍ كښې ٭ او اوئيل فرعون

ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَ لْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ

پريږدئ ما لره چې قتل كړم موسىٰ عليه السلام او دے دې رابلي خپل رب، يقيناً زه

اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ

يريږم دا چې بدل به كړي (موسىٰ عليه السلام) دين ستاسو يا دا چې ښكاره به كړي

فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ وَ قَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ

په زمكه كښې فساد ٭ او اوئيل موسىٰ عليه السلام يقيناً زه

عُذْتُ بِرَبِّيْ وَ رَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ

پناه غواړم په رب زما او په رب ستاسو باندې د هر متكبر نه

لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾ وَ قَالَ رَجُلٌ

چې ايمان نه راوړي په ورځ د حساب باندې ٭ او اوئيل يو سړي

مُّؤْمِنٌ ۖۗ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ

مومن، د خاندان د فرعون نه پټ ئې ساتلے وو خپل ايمان

ع ۸

اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَ قَدْ

آيا وژنئ تاسو داسې سړے چې وائي هغه رب زما الله دے او په تحقيق سره

جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَ اِنْ

راغلل ئې کړي دي تاسو ته په واضحه دلائلو د طرفه د رب ستاسو نه ، او که

يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَ اِنْ يَّكُ صَادِقًا

ئې دروغژن نو په ده باندې سزا د د دروغو د د ده، او که ئې دے رشتينے

يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او به رسيږي تاسو ته بعضې هغه عذاب چې يرې ؤ تاسو لره (د هغې نه) ، يقينًا الله

لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾

توفيق د هدايت نه ورکوي هغه چا ته چې هغه ئې زياتے کونکے نهايت دروغژن ٭

يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي

اے قومه زما ستاسو د پاره بادشاهي ده نن ورځ غالب يئ تاسو په

الْاَرْضِ ؗ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ

زمکه کښې پس څوک دي چې بچ به کې زمونږ د عذاب د الله نه

اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ

که راشي مونږ ته ، اوئيل فرعون زه نه خايم تاسو ته مگر هغه چې

اَرٰى وَ مَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾

زه وينم او زه نه خـــايم تاسو ته مگر لاره د کاميابۍ ٭

وَ قَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ

او اوئيل هغه سړي چې ايمان ئې راوړے وو اے قومه زما يقينًا زه يريږم

عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾ؗ مِثْلَ

په تاسو باندې په شان د ورځے (د عذاب) د ډلو باندې ٭ په شان د

Maktaba Tul Ishaat.com

دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ وَ الَّذِيْنَ مِنْۢ

په شان د عذاب د قوم د نوح علیه السلام او عادیانو او ثمودیانو او هغه کسان چې

بَعْدِهِمْ ؕ وَ مَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَ

روستو د دوی نه وو، او نه دے الله چې اراده کیږ د ظلم په بندګانو باندي * او

يٰقَوْمِ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿٣٢﴾

اے قومه زما یقینًا زه یریږم په تاسو باندي د ورځې د چغې نه *

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

په هغه ورځ چې اوبه ګرځئ تاسو شا کونکي ، نه به ئې ستاسو د پاره د طرفه د الله نه

مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

څوک بچ کونکے ، او په چا چې مهر د ګمراهۍ اوهي الله نو نه به ئې ده لره

مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَ لَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ

څوک لار خودونکے * او تحقیق سره راغلے وو تاسو ته یوسف علیه السلام

قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا

مخوا په واضحه دلائلو سره نو همیشه وئ تاسو په شک کښې د هغه نه چې

جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ

راغلے وو تاسو ته په هغې باندي ، تر دې چې کله وفات شو نو اوئیل تاسو هیچرې به

يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ

راونه لیږي الله پس د ده نه پیغمبر ، دارنګې

يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ﴿٣٤﴾

مهر د ګمراهۍ وهي الله په هغه چا چې وي هغه زیاتے کونکے ډیر شک کونکے *

اِلَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ

هغه کسان چې جګړې کئ په آیتونو د الله کښې بغیر د

سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَ عِنْدَ

څه دليل نه چې راغلے ئې دوی ته ، ډيره لويه د غصے خبره ده په نزد د الله او په نزد د

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

هغه كسانو چې ايمان ئې راوړے دے ، دارنګې مهر وهي الله په ټول

قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾ وَ قَالَ فِرْعَوْنُ

زړه د متكبر او خان زورآور ګڼرونكي ، او اوئيل فرعون

يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ

اے هامانه جوړه كه زما د پاره بنګله شائد چې زه اورسيږم

الْاَسْبَابَ ﴿٣٦﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ

دروازو ته ، دروازو د آسمانونو ته چې زه خبر واخلم

اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَ اِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَ

د اله د موسٰى عليه السلام او يقينًا زه خامخا ګمان كوم په ده باندې د دروغژن ، او

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَ صُدَّ

دارنګې ښائسته كړے شوے وو د پاره د فرعون بد عمل د هغه او بند كړے شوے وو

عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَ مَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ

د نيغے لارې نه ، او نه وو تدبير د فرعون مكر په

تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ وَ قَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ

تباهي كښې او اوئيل هغه سړي چې ايمان ئې راوړے وو اے قومه زما تابعداري اوكړئ زما

اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ

اوبه ښايم تاسو ته لاره د كاميابي ، اے قومه زما يقينًا دا

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ؗ وَّ اِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ

ژوند د دنيا څكه ده او يقينًا آخرت هغه دے

Maktaba Tul Ishaat.com

دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰى
کور د همیشکیرئ * چا چې عمل اوکه ناکاره نو سزا به نه شي ورکولے
اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ
مگر په شان د هغې ، او چا چې عمل اوکه نیک که نارینه ئې
اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ
یا زنانه او وي دے مومن نو دغه کسان دننه به شي
الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ وَ
جنت ته رزق به ورکولے شي دوی ته په دې کښې بے حسابه * او
يٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَ
اے قومه زما څه دي ما لره چې راغواړم تاسو لره خلاصي (ایمان) ته او
تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾ تَدْعُوْنَنِيْ لِاَكْفُرَ
راغواړئ تاسو ما لره اوور ته * تاسو راغواړئ ما لره چې زه کفر اوکم
بِاللّٰهِ وَ اُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ۫ وَّ
په الله باندې او شریک اوګرځوم دې الله سره هغه چې نشته ما لره په هغې باندې څه علم او
اَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ
زه راغواړم تاسو لره په طرف د غالب زورآور ذات * خامخا
اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي
یقینًا هغه چې تاسو راغواړئ ما لره هغې ته نشته هغې لره بلنه (مناسب) په
الدُّنْيَا وَ لَا فِي الْاٰخِرَةِ وَ اَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَى
دنیا او نه په آخرت کښې او یقینًا واپسې زمونږه
اللّٰهِ وَ اَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾
الله ته ده او یقینًا مشرکان هم دوی دي جهنمیان *

فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ؕ وَ اُفَوِّضُ

پس زر دے چې یادوئ به تاسو هغه خبرې چې زه وایم تاسو ته ، او زه سپارم

اَمْرِیْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

خپل کار الله ته ، یقینًا الله لیدونکے دے خپلو بندګانو لره ۔

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَ حَاقَ بِاٰلِ

نو اوساته ده لره الله د بدو هغه ته چې دوی تدبیرونه کړي وو او نازل شو په

فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ

فرعونیانو باندې بد عذاب ۔ اور پیش کولے به شي دوی

عَلَیْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِیًّا ۚ وَ یَوْمَ تَقُوْمُ

په دغه اور باندې سحر او مازیګر ، او په هغه ورځ چې قائم به شي

السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ

قیامت (اوبه وئیلے شي) داخل کړئ فرعونیان سخت

الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾ وَ اِذْ یَتَحَآجُّوْنَ فِی النَّارِ

عذاب ته ۔ او کله چې جګړې به کړي دوی په اور کښې

فَیَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا

نو اوبه وائي کمزوري هغه کسانو ته چې ځان ئې غټ ګڼړلے وو یقینًا مونږه

كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا

وو ستاسو تابعدار نو آیا یئ تاسو لرې کونکي زمونږ نه

نَصِیْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

څه حصه د اور نه ۔ اوبه وائي هغه کسان چې ځان ئې غټ ګڼړلے وو

اِنَّا كُلٌّ فِیْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَیْنَ

یقینًا مونږه ټول په دې کښې (پراته) یو یقینًا الله تحقیق سره فیصله کړې ده په مینځ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ

د بندګانو کښې * او اوبه وائي هغه کسان چې په اوور کښې وي چوکیدارانو

جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا

د جهنم ته رامدد کئ رب ستاسو چې سپک کي زمونږ نه یو ورځ

مِّنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ

د عذاب نه * اوبه وائي دوی آيا نه وو راغلي تاسو ته

رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ

پيغمبران ستاسو په واضحه دلائلو ، اوبه وائي دوی بے شکه، اوبه وائي (فرشتے) نو رامددکئ(١)

وَ مَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ اِنَّا

او نه به ئي چغه د کافرانو مګر په تباهي کښې * يقيناً مونږه

لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ

خامخا امداد کوود خپلو پيغمبرانو او هغه کسان چې ايمان ئي راوړے دے په ژوند

الدُّنْيَا وَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ

د دنيا کښې او په هغه ورځ چې اوبه درېږي ګواهان * هغه ورځ چې فائده به ورنه کي

الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَ لَهُمْ

ظالمانو ته بهانے د دوی او دوی لره لعنت دے او دوی لره

سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى

بد کور دے * او تحقيق سره ورکړے وو مونږه موسی (عليه السلام) ته تورات

وَ اَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى

او په ميراث کښې ورکړے وو مونږه بني اسرائيلو ته کتاب * لار خودونکے

وَّ ذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ

او پند د پاره د خاوندانو د عقـــل * نو صبر کوه يقيناً

(١) الله لره به چغه.

وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّ اسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَ
وعده د الله رښتیا ده او ببښنه غواړه (اړول غواړه د الله نه) د خپل بوج او
سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِیِّ وَ الْاِبْكَارِ ﴿۵۵﴾
پاکي بیانوه په ستائنه د خپل رب (لګیا یه) بیګا او صبا ٭
اِنَّ الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ بِغَیْرِ
یقینًا هغه کسان چي جګړې کوي په آیتونو د الله کښې بغیر د
سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا
څه دلیل نه چي راغلے ئي دوی ته، نشته په سینو د دوی کښې مګر
كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِیْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ
لوئي چي نه دي دوی رسیدونکي هغې ته، نو پناه غواړه په الله سره
اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ
یقینًا دا الله دے اوریدونکے لیدونکے ٭ خامخا پیدائش د آسمانونو
وَ الْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ
او د زمکو ډیر لوئے دے د پیدائش د خلقو نه
وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَ مَا
لیکن اکثر خلق نه پوهیږي ٭ او نه دے
یَسْتَوِی الْاَعْمٰى وَ الْبَصِیْرُ ۙ۬ وَ الَّذِیْنَ
برابر ړوند او لیدونکے، او هغه کسان
اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ لَا الْمُسِیْٓءُ ؕ
چي ایمان ئي راوړے دے او عمل کړي نیک او نه بد کار،
قَلِیْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ
ډیر لږ تاسو پند اخلئ ٭ یقینًا قیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ
خامخا راتلونکې دې نشته شک په دې کښې لیکن اکثر د

النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَ قَالَ رَبُّكُمُ
خلقو نه ایمان نه راوړي • او وئیلي دي رب ستاسو

ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ
دعا اوغواړئ زما نه قبولتیا به اوکم زه ستاسو ، یقینًا هغه کسان

يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ
چې خان غټ گنړي د عبادت زما نه زر دے چې داخل به شي

جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿٦٠﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ
جهنّم ته ذلیله • الله هغه ذات دے چې گرځولے ئې ده

لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَ النَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ
ستاسو د پاره شپه دې د پاره چې آرام اوکئ تاسو په دې کښې او ورځ د پاره د لیدو ،

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَ لٰكِنَّ
یقینًا الله خامخا خاوند د فضل دے په خلقو باندې لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ
اکثر خلق شـــکر نه اوباسي • دغه صفتونو والا

اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۫
الله دے چې رب ستاسو دے پیدا کونکے د هر یو شي، نشته بل حاجت رواه مگر دا الله دے

فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ
نو کوم طرف ته تاسو واړولے شوئ • دارنګې اړولے شي

الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾
هغه کسان چې دوئ په آیتونو د الله باندې انکار کولو •

اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّ

الله هغه ذات دے چي گرځولے ئي ده ستاسو د پاره زمکه برقراره او

السَّمَآءَ بِنَآءً وَّ صَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَ

آسمان چهت او شکلونه ئي درکړي دي تاسو ته نو ښائسته کړي ئي دي شکلونه ستاسو او

رَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚۖ

رزق درکړ تاسو ته د پاکو نه ، دغه صفتونو والا الله د ی چي رب ستاسو دے ،

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٦٤﴾ هُوَ الْحَیُّ

پس برکت اچونکے دے الله رب د مخلوقات • هغه هميشه ژوندے دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ

نشته يل حاجت روا مگر دا الله دے نو رامدد کړئ هغه لره خالص کونکـــي هغه لره

الدِّیْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٦٥﴾

بلنه ، د خدائي توب صفتونه خاص الله لره دي چي رب د مخلوقاتو دے •

قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِیْنَ

اووايه يقيناً زه منع کړے شوے يم چي عبادت اوکړم د هغـــه کسانو

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِیَ

چي رامدد کوئ ئي تاسو سيوا د الله نه هر کله چي راغلل ما ته

الْبَیِّنٰتُ مِنْ رَّبِّیْ ؗ وَ اُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ

واضحه دلائل د طرفه د رب زما نه او حکم کړے شوے دے ما ته چي زه غاړه کيږدم

لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ

رب د مخلوقات ته • دا الله هغه ذات دے چي پيدا کړي ئي يئ تاسو

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ

د خاورې نه بيا د يو څاڅکي د اوبو نه بيا د

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا

کلکې وينې نه بيا پيدا کړئ تاسو لره ماشومان بيا (۱) دي د پاره چې اورسيږئ تاسو

اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا ۚ وَ مِنْكُمْ

مضبوطيا د عمر ته بيا دي د پاره چې شئ تاسو بوډاګان ، او بعضې ستاسو نه

مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ وَ لِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا

هغه څوک دي چې مړه شي مخکښې (د بوډاوالي نه) او دي د پاره چې اورسيږئ تاسو نيټې

مُّسَمًّى وَّ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ هُوَ الَّذِیْ

مقررې ته او خامخا چې تاسو د عقل نه کار واخلئ ٭ دا الله هغه ذات دے

يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا

چې ژوندي کول او مړه کول کړي ، پس کله چې فيصله اوکي د يو کار نو بے شکه

يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٦٨﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى

وائي هغې ته موجود شه نو موجود شي ٭ آيا ته نه ګورې

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِیْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى

هغه کسانو ته چې جګړې کړي په آيتونو د الله کښې ، کوم طرف ته

يُصْرَفُوْنَ ﴿٦٩﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَ بِمَآ

اړولے شي دوی ٭ هغه کسان چې تکذيب کړي د کتابونو او د هغه (مسئلو) چې

اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٠﴾ ۙ

رالېږي وو موږ په هغې باندې خپل پيغمبران ، نو زر دے چې دوی به پوهه شي ٭

اِذِ الْاَغْلٰلُ فِیْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَ السَّلٰسِلُ ؕ

کله چې توکونه به په څټونو د دوی کښې وي او غټ غټ زنځيرونه (به په خپو د دوی کښې وي)،

يُسْحَبُوْنَ ﴿٧١﴾ ۙ فِی الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِی النَّارِ

رابنګلے به شي په ګرمو اوبو کښې ، بيا په اوور کښې

معانقة ۱۳ عند المتأخرين

يُسْجَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ

ریته به کړے شي دوی ٭ بیا اوبه ویلےشي دوی ته چرته دي هغه چې تاسو به

تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٣﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا

حصه دار کول ٭ سیوا د الله نه ، اوبه وائي دوی ، ورک شو

عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ؕ

زمونږ نه بلکه مونږ نه رامدد کوو مخکښې د دې نه څه شے ،

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾ ذٰلِكُمْ

دارنګې مهر د ګمراهۍ وهي الله په کافرانو باندې ٭ دارنګې به ئې تاسو

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ

په سبب د هغه چې تاسو خوشحالیانې کولے په زمکه کښې نا

الْحَقِّ وَ بِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿٧٥﴾ اُدْخُلُوْۤا

مناسب او په سبب د هغه چې تاسو مستیانې کوله ٭ داخل شئ

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ

په دروازو د جهنم همیشه به یئ په دې کښې ، پس ډیر بد دے

مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ

ځائے د تکبر کونکو ٭ نو صبر کوه یقینًا وعده د

اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

الله رښتیا ده ، که چرې اوښایو مونږه تا ته بعضې هغه چې

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٧٧﴾

یرو مونږه دوی لره (د هغې نه) یا وفات کړو مونږ تا لره پس مونږ ته دوی به واپس کړے شي ٭

وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ

او تحقیق سره رالیږلي دي مونږه پیغمبران مخکښې ستا نه بعضې د دوی نه

Maktaba Tul Ishaat.com

مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَ مِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ

هغه څوک دي چې بیان کړي دي مونږه په تا باندي او بعضي د دوی نه هغه څوک دي چې نه

نَقْصُصْ عَلَيْكَ ؕ وَ مَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

دي بیان کړي مونږ په تا باندي ، او نه وو مناسب هیڅ یو پیغمبر لره

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا

چې راوړي ئې وه یو معجزه مگر په حکم د الله ، پس کله چې

جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَ خَسِرَ

راشي حکم د الله فیصله به اوکړے شي په انصاف او تاواني به کړے شي

هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ ع ۸ ۱۰ ۱۴

په دغه وخت کښي باطل پرست • الله هغه ذات دے چې پیدا کړي ئې دي

لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَ مِنْهَا

ستاسو د پاره ڈنګر دي د پاره چې سورلئ اوکړئ تاسو په بعضو د دي او بعضي د دي نه

تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَ لِتَبْلُغُوْا

خورئ تاسو • او ستاسو د پاره په دي کښي فائدي دي او دي د پاره چې اورسئ تاسو

عَلَيْهَا حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَ عَلَيْهَا وَ عَلَى

په دي څاروو باندي هغه ارادي چې په سینو ستاسو کښي دي او په دي باندي او په

الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۖ

کشتو باندي تاسو سوروله شئ • او ښئ تاسو ته دلائل خپل

فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَفَلَمْ

نو د کوم یو د آیتونو د الله نه تاسو انکار کوئ • آیا نه

يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

گرځي دوی په زمکه کښي چې اوگوري څه رنگه شو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَكْثَرَ
انجام د هغه کسانو چې مخکښې د دوی نه وو ، وو هغوی زیات

مِنْهُمْ وَ اَشَدَّ قُوَّةً وَّ اٰثَارًا فِی الْاَرْضِ
د دوی نه او ډیر سخت وو په طاقت (بدني) کښې او په نښونښانو په زمکه کښې

فَمَآ اَغْنٰی عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾
پس هیڅ فائده ورنه کړه دوی ته هغه (بد عمل) چې دوی کولو

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا
پس هر کله چې راغلل دوی ته پیغمبران د دوی په واضحه دلائلو باندې دوی خوشحاله شو

بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَ حَاقَ بِهِمْ مَّا
په هغه چې وو دوی سره د علم نه او واقع شو په دوی باندې هغه چې

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا
دوی به (همیشه) هغې پورې توقې کولې پس هر کله چې دوی اولیده عذاب زمونږه

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَ كَفَرْنَا بِمَا
وائي دوی ایمان راوړے دے مونږه په الله باندې یکې یو او انکار کوو په هغه چې

كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ
وو مونږه په هغې سره شرک کونکي ، نو نه وو چې فائده ئې ورکړې وه دوی ته

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ
ایمان د دوی کله چې اولیده دوی عذاب زمونږه ، دا طریقه د الله ده

الَّتِیْ قَدْ خَلَتْ فِیْ عِبَادِهٖ ۚ وَ خَسِرَ
هغه چې تحقیق سره تیره شوې ده په بندګانو زمونږه کښې ، او تاوانیان به شي

هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ ع
په دغه وخت کښې کافران

Maktaba Tul Ishaat.com

آياتها ٥٤ سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوين ٣١ نزول ٦١ رکوعاتها ٦

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾

الله پوهيږي په معنې د دې حروفو * رالېږل دي د طرفه د عام مهربان او خاص مهربان ذات نه *

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ

عظيم الشان كتاب دے واضح شوي دي آيتونه د دې د لوستو كتاب دے په واضحه ژبه د پاره د هغه قوم

يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ

چې پوهيږي * زيرے وركوونكے (منونكو ته) او يرونكے (نه منونكو له)، نو مخ واړو

اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٤﴾ وَ قَالُوْا قُلُوْبُنَا

اكثرو د دوی پس دوی نه اوري * او وائي دوی زړونه زمونږه

فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَ فِيْٓ اٰذَانِنَا

په پردو كښې دي د هغه نه چې تاسو راغواړئ مونږه لره هغې ته او په غوږونو زمونږ كښې

وَقْرٌ وَّ مِنْۢ بَيْنِنَا وَ بَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ

درونډ والے دے او په مينځ زمونږ او په مينځ ستاسو كښې پرده ده نو عمل كوه

اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ﴿٥﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ

يقينًا مونږه عمل كونكي يو * اووايه يقينًا زه بنده يم ستاسو په شان

يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا

وحي كولے شي ما ته چې يقينًا حاجت روا ستاسو حاجت روا دے يكے يو نو كلك اودريږئ

اِلَيْهِ وَ اسْتَغْفِرُوْهُ ؕ وَ وَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦﴾

دې الله ته او بخښنه اوغواړئ د الله نه ، او هلاكت دے د پاره د مشركانو *

الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ هُمْ بِالْاٰخِرَةِ

هغه كسانو چې پاكې نه وركوئ (زړه لره) او دوی په آخرت باندې

سُوۡرَةُ حٰمٓ السَّجۡدَةِ

ربط د سورة حم السجدة :

(۱) ما قبل ۸ کښي ذکرشوي کافران دالله عَزَّوَجَلَّ په ایتونو کښي جګړه کوي نو دلته ۲۶ کښي ترقي ده په هغي باندي .

(۲) ماقبل ۷۲ کښي تخویف اخروي ذکر شو نو دلته ۱۵ کښي تخویف دنیوي دے .

(۳) ماقبل ۳۱ کښي تخویف دنیوي وو نو دلته ۱۵ کښي هم تخویف دنیوي دے په ترقۍ سره د ما سبق نه .

امتیازات د سورة حم السجدة : (۱)دا سورت ممتاز دے په رد د څلورو شبهاتو د مشرکینو باندي . (۲) په خصوصي ګواهۍ داندامونوپه انسان باندي .(۳) په ترغیب الی الاستقامة اوخصوصي بشارت باندي .

دعوی د سورة حم السجدة : دفع د څلورو شبهاتو په توحید باندي .

خلاصه د سورة حم السجدة :

په دے سورت کښي څلور شبهے او د هغې جوابونه دی او د هرے شبهے نه بعد دلیل او زجر

اوله شبهه:۵ کښي ستاپه خبره نه پوهیږو

جواب:۶ کښي زه ستاسو غوندي بنده یم او بنده د بنده په خبره پوهیږی فرق زما او ستاسو مینځ کښي دا دے چې ماته وحی کیږی او تاسو ته نه کیږی .

دویمه شبهه :۲۵ کښي چې بیګاه خوب کښي پریدلےووم جواب:۲۵ کښي دا شیطانان دی عقیده درله خرابۍ .

دریمه شبهه:دا قران په عجمي ژبه کښي ولے نه راته ؟

جواب:۴۴ کښي بیا به هم اعتراض کوچې قران عجمي دے اوپیغمبر عربي دے .

څلورمه شبهه:داقران ټول په یوځل ولےنه راته؟

جواب:۴۵ کښي چې موسی عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته هم په یوځل کتاب ورکړے وونو هغي کښي هم اختلاف کړےشوےوو .

تقسیم د سورة حم السجدة

دا سورت دري بابونه دے اول باب ۲۴ پوري دے کښي شپږ خبري ذکرکړي

۱/صداقة الکتاب، ۲/ اولے اعتراض او د هغې جواب، ۳/تخویف او بشارت .

۴/ دلیل عقلی په توحید، ۵/تخویف دنیوی په هلاکت دعاد یاتوثمودیانوباندي .

۶/بشارت اوتخویف اخروی .

دویم باب ۲ نه تر۴۳پوری دیکښي هم شپږ خبرےذکرکړي .

۱/ددویم اعتراض جواب، ۲/ زجراوتخویف، ۳/ الترغیب الی الاستقامة علی التوحید اوبشارت .

۴/ دلائل عقلیه، ۵/ ترغیب فی التبلیغ، ۶/ تخویف صداقة الکتاب اوتسلی پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته

دریم باب تراخره پوري دیکښي د دریم اوڅلورم اعتراض جوابونه بیا دلائل عقلیه زجرمشرکینونه په سبب د شرک او په مخ اړولو د قران نه او په سبب د انکارکولو د اخرت نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٧﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

هم دوی دي منکر * یقینًا هغه کسان چي ایمان ئي راوړه او عمل ئي اوکه

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٨﴾ قُلْ ع ١ ١٥

نیک دوی لره بدله ده بے حسابه * اووايه

اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ خَلَقَ الْاَرْضَ

آیا تاسو خامخا کفر کوئ په هغه ذات باندي چي پيدا کړے ئي ده زمکه

فِيْ يَوْمَيْنِ وَ تَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ

په دوو لمحو کښي او ګرځوئ تاسو دي الله لره په مثل د الله نور ، دا (ذات)

رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩﴾ وَ جَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ

رب د مخلوقات دے * او پيدا کړي ئي دي په دي زمکه کښي غرونه

مِنْ فَوْقِهَا وَ بٰرَكَ فِيْهَا وَ قَدَّرَ فِيْهَآ

د پاسه د دي نه او برکت ئي اچولے دے په دي کښي او په اندازه کړي ئي دي په دي کښي

اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ ؕ سَوَآءً

رزقونه د دي په څلورو لمحو کښي ، برابر دے

لِّلسَّآئِلِيْنَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ

د پاره د سوال کونکو * بيا لا اوګوره چي اراده ئي اوکړه په طرف د آسمان

وَ هِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَ لِلْاَرْضِ ائْتِيَا

او وو دا آسمان نيشت نو اوئيل الله دي ته او زمکي ته چي موجود شئ

طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ﴿١١﴾

که په خوښه ئي او که په زور ، اوئيل دوی راتله کوو مونږه تابعدار *

فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ وَ اَوْحٰى

نو پوره ئي کړل دي لره اووه آسمانونه په دوو لمحو کښي او حکم ئي اوکه

فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ؕ وَ زَيَّنَّا السَّمَآءَ

په هر آسمان كښې مناسب حكم د هغې ، او ښائسته كړے دے موږه آسمان

الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ ۖ وَ حِفْظًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ

نژدې په ستورو باندې ، (او ساتلې دے موږه دې لره) په ساتلو سره ، دا اندازه ده

الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿١٢﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ

د غالب پوهه ذات * پس كه چرې دوى مخ واړو نو اووايه

اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ

زه يروم تاسو لره د چغې د عذاب نه په شان د چغې د عذاب د عاديانو

وَّ ثَمُوْدَ ﴿١٣﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ

او ثموديانو * كله چې راغلل دوى ته پيغمبران مخـــكښې

اَيْدِيْهِمْ وَ مِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا

د دوى نه او روستو د دوى نه دا چې عـــبادت مه كوئ بے د

اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً

الله نه د بل چا ، اوئيل دوى كه چرې خوښه وے د رب زموږه نو رالېږلے به ئې وے فرښتے

فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا عَادٌ

پس يقيناً موږه په هغه چې رالېږلے شوي يئ تاسو په هغې باندې انكار كونكي يو * پس هر چې عاديان وو

فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ

نو دوى خان ئې غټ اوګڼړه په زمكه كښې نا مـــناسبه

وَ قَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَ لَمْ يَرَوْا

او اوئيل دوى خوک دي سخت زموږ نه په طاقت كښې ، ايا نه كتل دوى

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ

چې يقيناً الله هغه ذات دے چې پيدا كړي ئې وو دوى لره هغه ډير سخت دے د دوى نه

Maktaba Tul Ishaat.com

قُوَّةً ؕ وَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۞١٥ فَاَرْسَلْنَا

په طاقت كښې، او دوى (هميشه) په آيتونو زمونږ باندې انكار كولو * نو راوليږه مونږه

عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ

په دوى باندې باد تيز په هغه ورځو كښې چې بدې كړے شوې وې (۱)

لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ

دې د پاره چې اوڅكوو مونږه دوى ته عذاب د رسوائى په ژوند د

الدُّنْيَا ؕ وَ لَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَ هُمْ

دنيا كښې، او خامخا عذاب د آخرت ډير رسوا كونكے دے او د دوى به

لَا يُنْصَرُوْنَ ۞١٦ وَ اَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ

امداد اونه كړے شي * او هر چې ثموديان وو نو بيان كړے وو مونږه دوى ته (۲)

فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى

نو دوى خوښ كه ړوند والے په بدله د هدايت كښې

فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ

نو اونيول دوى لره چغې د عذاب د ذلت

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۞١٧ وَ نَجَّيْنَا الَّذِيْنَ

په سبب د هغه چې دوى به كسب كولو * او خلاص كړل مونږه هغه كسان

اٰمَنُوْا وَ كَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۞١٨ وَ يَوْمَ يُحْشَرُ

چې ايمان ئې راوړے وو او دوى ځان ساته د خلاف د الله نه * او په هغه ورځ چې پورته به كړے شي

ع ۲ ۱۶

اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ۞١٩

دشمنان د الله اوور ته پس دوى به صف په صف كړے شي *

حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ

تر دې چې كله راشي دوى دې (جهنم) ته نو گواهي به اوكې په دوى باندې غوږونه د دوى

وَ اَبۡصَارُهُمۡ وَ جُلُوۡدُهُمۡ بِمَا كَانُوۡا

او سترګي د دوی او څرمني د دوی په سبب د هغه چي دوی

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۰﴾ وَ قَالُوۡا لِجُلُوۡدِهِمۡ لِمَ شَهِدۡتُّمۡ

په عمل کولو * او وائي به دوی خپلو څرمنو ته ولے ګواهي اوکړه تاسو

عَلَيۡنَا ؕ قَالُوۡۤا اَنۡطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيۡۤ اَنۡطَقَ

په مونږ باندي ، وائي به دوی ګويا کړو مونږه الله هغه ذات چي ګويا کړے ئې دے

كُلَّ شَيۡءٍ وَّ هُوَ خَلَقَكُمۡ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ

هر يو شے او دي الله پيدا کړي يئ تاسو اول ځل او

اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَ مَا كُنۡتُمۡ تَسۡتَتِرُوۡنَ

دي الله ته به تاسو واپس کړے شئ * او نه وئ تاسو چي پټيدئ

اَنۡ يَّشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَ لَاۤ اَبۡصَارُكُمۡ

د دي نه چي ګواهي به اوکي په تاسو باندي غوږونه ستاسو او نه سترګي ستاسو

وَ لَا جُلُوۡدُكُمۡ وَ لٰكِنۡ ظَنَنۡتُمۡ اَنَّ اللّٰهَ

او نه څرمني ستاسو ليکن تاسو ګمان کوو چي يقيناً الله

لَا يَعۡلَمُ كَثِيۡرًا مِّمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۲﴾ وَ ذٰلِكُمۡ

نه پوهيږي په ډيرو د هغه نه چي تاسو عمل کوئ * او دا

ظَنُّكُمُ الَّذِيۡ ظَنَنۡتُمۡ بِرَبِّكُمۡ اَرۡدٰىكُمۡ

ګمان وو ستاسو هغه چي ګمان کړے وو تاسو په رب ستاسو باندي نو هلاک ئې کړئ

فَاَصۡبَحۡتُمۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنۡ يَّصۡبِرُوۡا

نو اوګرځيدئ تاسو تاوانيان * پس که دوی صبر کئ

فَالنَّارُ مَثۡوًى لَّهُمۡ ؕ وَ اِنۡ يَّسۡتَعۡتِبُوۡا

نو اوور ټکانه د دوی ده ، او که دوی فرياد کئ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَ قَيَّضْنَا لَهُمْ

نو نه به ئې دوی د هغه چا نه چې فریاد ئې اومنلې شي * او مقرر کړي دي مونږه دوی لره

قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

بد ملګري (شیطانان) نو ښائسته کړے ئې دے دوی ته هغه (اعمال) چې مخکښې د دوی نه دي

وَ مَا خَلْفَهُمْ وَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ

او هغه چې روستو د دوی نه دي او ثابته شوې ده په دوی باندې وینا په

اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ

هغه ټولګو کښې چې په تحقیق سره تیر شوې دي مخکښې د دوی نه د

الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا

پیریانو او انسانانو نه ، یقیناً وو دوی

خٰسِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

تاوانیان * او وائي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے

لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَ الْغَوْا

غوږ مه کېږدئ دې قرآن ته او شور کوئ

فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

په دې کښې خامخا چې تاسو زور آور شئ * نو خامخا اوبه څکوو مونږه هغه کسانو ته

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّ لَنَجْزِيَنَّهُمْ

چې کفر ئې کړے دے عذاب سخت ، او خامخا بدله به ورکړو مونږه دوی ته

اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ

بد هغه چې وو دوی عمل کونکي * دا

جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا دَارُ

بدله د دشمنانو د الله ده اوور ، دوی لره به په دې اوور کښې کور

الْخُلْدِ ؕ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

د همیشګیږۍ ئي (سزا به ورکړے شي دوی ته) سزا به سبب د هغه چې دوی د آیتونو زمونږ نه

يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

انکار کولو • او وائي هغه کسان چې کفر ئي کړے دے

رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ

اے ربه زمونږه اوښائي مونږه ته هغه دوه ډلې چې مونږه ئي ګمراه کړي وو د پیریانو نه

وَ الْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا

او انسانانو نه چې اوګرځوو مونږه دوی لره لاندې د خپو زمونږ نه

لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ

دې د پاره چې شي د ذلیلو نه • یقینًا

الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا

هغه کسان چې وائي رب زمونږه الله دے بیا کلک اودریدل دوی

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا

راکوزیږي به په دوی باندې فرشتې (ورته وائي) دا چې مه یریږئ

وَ لَا تَحْزَنُوْا وَ اَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ

او مه غمژنیږئ او زیرے واخلئ په جنت هغه

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ

چې تاسو سره ئي وعده کولے شوه • مونږه چې یو دوستان ستاسو یو

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَ

په ژوند د دنیا کښې او په آخرت کښې ، او

لَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَ لَكُمْ

ستاسو د پاره به دې کښې هغه څه دې چې غواړي ئي زړونه ستاسو او ستاسو د پاره

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ؕ﴿۳۱﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ

په دې کښې هغه دي چې تاسو ئې غواړئ • مېلمستيا ده د طرفه د بخښونکي

رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾ وَ مَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ

مهربان ذات نه • او څوک دے ډېر ښائسته په وينا کښې د هغه چا نه چې

دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَ عَمِلَ صَالِحًا وَّ قَالَ

رابلل کوي (کتاب د) الله ته او عمل کوي نيک او وائي دے

اِنَّنِىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَ لَا تَسْتَوِى

يقيناً زه د تابعدارو نه يم • او نه ده برابر

الْحَسَنَةُ وَ لَا السَّيِّئَةُ ؕ اِدْفَعْ بِالَّتِىْ

نېکي (بيان د توحيد) او نه بدي (شرک) ، دفع که (شرک لره) په هغه طريقه

هِىَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِىْ بَيْنَكَ وَ

چې هغه ډېره ښائسته ده پس ناساپه هغه سړے چې په مينځ ستا او

بَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِىٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَ

په مينځ د هغه کښې دشمني ده ګويا چې دے دوست مهربان دے • او

مَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَ مَا

نه شي ورکولے دي خوئي لره مګر هغه کسانو ته چې صبر ئې کړے دے ، او نه شي

يُلَقّٰهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَ اِمَّا

ورکولے دي خوئے لره مګر خاوند د حصے لوئے ته • او که چرې

يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ

اورسيږي تا ته د طرفه د شيطان نه څه وسوسه نو پناه غواړه

بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۶﴾ وَ مِنْ

په الله سره ، يقيناً دا الله اوريدونکے پوهه ذات دے • او بعضې

ع ۴ ۱۸

اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَ النَّهَارُ وَ الشَّمْسُ وَ الْقَمَرُ ؕ

د دلائلو د الله نه شپه او ورځ دي او نور (نمر) او سپوږمۍ

لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَ لَا لِلْقَمَرِ وَ

سجده مه کوئ نور (نمر) ته او نه سپوږمۍ ته او

اسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ

سجده اوکړئ الله هغه ذات ته چې پیدا کړي ئې دي لره که چرې تاسو

اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿٣٧﴾ فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا

خاص د دې الله عبادت کوئ • پس که دوی خان غټ گڼړي

فَالَّذِیْنَ عِنْدَ رَبِّكَ یُسَبِّحُوْنَ لَهٗ

پس هغه ملائکه چې په نزد د رب ستا دي پاکي بیانوئ دې الله لره

بِالَّیْلِ وَ النَّهَارِ وَ هُمْ لَا یَسْـَٔمُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَ

د شپې او د ورځې او دوی نه ستړي کیږي • او

مِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً

بعضي د دلائلو د الله نه دا خبره ده چې یقینًا ته وینې زمکې لره اوچه

فَاِذَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَیْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ

پس کله چې راوورو مونږه په دې باندې باران خوشحاله شي او اوپړسیږي

اِنَّ الَّذِیْۤ اَحْیَاهَا لَمُحْیِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ

یقینًا هغه ذات چې تازه کړې دې زمکې لره خامخا ژوندے کونکے د مړو دے، یقینًا دا الله

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿٣٩﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ

په هر یو شي باندې قدرت دے • یقینًا هغه کسان

یُلْحِدُوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِنَا لَا یَخْفَوْنَ عَلَیْنَا ؕ

مغوې کجروي کړئ په آیتونو زمونږ کښې نه پټیږي دوی زمونږ نه،

Maktaba Tul Ishaat.com

اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِى النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ

آيا هغه څوک چې اوغورځولے شي په اوور کښې غوره دے يا هغه څوک چې

يَّاْتِىْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِعْمَلُوْا مَا

راشي په امن باندې په ورځ د قيامت ، عمل کوئ هغه چې

شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۴۰ اِنَّ

خوښه شي ستاسو ، يقينًا دا الله د هغه چې تاسو عمل کوئ ليدونکے دے * يقينًا

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاۗءَهُمْ ۚ

هغه کسان چې کفر ئې کړے دے په قرآن باندې کله چې راغلے دوی ته

وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ۝۴۱ۙ لَّا يَاْتِيْهِ

او يقينًا دا خامخا کتاب دے عزتمند * نه راځي دې ته

الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ

باطل مخکښې د دې نه او نه

خَلْفِهٖ ۭ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ۝۴۲

روستو د دې نه ، رالیږل دې د طرفه د حکمت والا او ستائلې شوي ذات نه *

مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ

نه وئيلے کيږي تا ته مګر هغه چې په تحقيق سره وئيلے شوي دي پيغمبرانو ته

مِنْ قَبْلِكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ

مخکښې ستا نه ، يقينًا رب ستا خامخا خاوند د بخښنې

وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ۝۴۳ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا

او خاوند د عذاب دردناک دے * او که ګرځولے وے مونږه دې لره د لوستو کتاب

اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ۭ

په عجمي ژبه کښې نو خامخا وئيل به دوی ولې واضح نه کړے شو آيتونه د دې

ءَاَعۡجَمِیٌّ وَّ عَرَبِیٌّ ؕ قُلۡ هُوَ لِلَّذِیۡنَ

آیا دا قرآن عجمي دے او پیغمبر عربي دے ، اووایه دا (قرآن) د پاره د هغه کسانو

اٰمَنُوۡا هُدًی وَّ شِفَآءٌ ؕ وَ الَّذِیۡنَ لَا

چې ایمان ئې راوړے دے هدایت او شفـــا ده ، او هغه کسان

یُؤۡمِنُوۡنَ فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرٌ وَّ هُوَ

چې ایمان نه راوړي په غوږونو د دوی کښې دروند والے دے او دا قرآن به

عَلَیۡهِمۡ عَمًی ؕ اُولٰٓئِكَ یُنَادَوۡنَ مِنۡ

په دوی باندې دلیل جوړ شي ، دغه کسان آواز به ورته کولے شي د

مَّكَانٍۭ بَعِیۡدٍ ﴿۴۴﴾ وَ لَقَدۡ اٰتَیۡنَا مُوۡسَی

ځائې لرې نه • او په تحقیق سره ورکړے وو مونږه موسٰی علیه السلام ته

الۡكِتٰبَ فَاخۡتُلِفَ فِیۡهِ ؕ وَ لَوۡ لَا كَلِمَةٌ

کتاب نو اختلاف اوکړے شو په دې کښې ، او که نه وے حکم د عذاب

سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ لَقُضِیَ بَیۡنَهُمۡ ؕ

تیر شوے د طرفه د رب ستا نه نو خامخا فیصله به کړے شوې وه په مینځ د دوی کښې،

وَ اِنَّهُمۡ لَفِیۡ شَكٍّ مِّنۡهُ مُرِیۡبٍ ﴿۴۵﴾

او یقیناً دوی خامخا په شک کښې د دې قرآن نه ډیر شک کونکي •

مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَ مَنۡ

چا چې عمل اوکه نیک نو خپل ځان لره ئې فائده ده او چا چې

اَسَآءَ فَعَلَیۡهَا ؕ وَ مَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ

بد عمل اوکه نو سزا ئې په ده باندې ده ، او نه دے رب ستا هیڅ ظلم کونکے

لِّلۡعَبِیۡدِ ﴿۴۶﴾

په خپلو بندګانو باندې •

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَیۡهِ یُرَدُّ عِلۡمُ السَّاعَةِ ؕ وَ مَا تَخۡرُجُ مِنۡ

دي الله ته واپس کولے شي علم د قيامت ، او نه راوځي

ثَمَرٰتٍ مِّنۡ اَکۡمَامِهَا وَ مَا تَحۡمِلُ مِنۡ اُنۡثٰی

ميوې د غنچکو د هغې نه او نه بارورې يو ښځه

وَ لَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلۡمِهٖ ؕ وَ یَوۡمَ یُنَادِیۡهِمۡ اَیۡنَ

او نه ايږدي (خپل بوج لره) مګر په علم د الله کښې دي، او (ياد که) هغه ورځ چې آواز به اوکې دوی ته چرته دي

شُرَکَآءِیۡ ۙ قَالُوۡۤا اٰذَنّٰکَ ۙ مَا مِنَّا مِنۡ شَهِیۡدٍ ﴿۴۷﴾

شريکان زما (ستاسو په خيال) اوبه وائي اعلان کوو مونږه تا ته ، نشته زمونږ نه خوک ګواه *

وَ ضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا کَانُوۡا یَدۡعُوۡنَ مِنۡ قَبۡلُ

او ورک به شي د دوی نه هغه چې دوی به رامـــدد کول پخوا

وَ ظَنُّوۡا مَا لَهُمۡ مِّنۡ مَّحِیۡصٍ ﴿۴۸﴾ لَا یَسۡـَٔمُ

او دوی به يقين اوکي چې نشته دوی لره څه ځائے د خلاصي * نه ستړے کيږي

الۡاِنۡسَانُ مِنۡ دُعَآءِ الۡخَیۡرِ ۫ وَ اِنۡ مَّسَّهُ

انسان د غوښتلو د خير (مال) نه او که اورسيږي ده ته

الشَّرُّ فَیَـُٔوۡسٌ قَنُوۡطٌ ﴿۴۹﴾ وَ لَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ رَحۡمَةً

تکليف نو شي دے نا اميده او ناشکره (د الله) * او که اوڅکوو مونږه ده ته خوشحالي

مِّنَّا مِنۡۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَیَقُوۡلَنَّ هٰذَا

د خپل طرف نه پس تکليفونو نه چې رسيدلي وي ده ته خامخا وائي دے دا

لِیۡ ۙ وَ مَاۤ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّ لَئِنۡ

زما حق دے، او زه ګمان نه کوم په قيامت باندې د اودريدو ، او که

رُّجِعۡتُ اِلٰی رَبِّیۡۤ اِنَّ لِیۡ عِنۡدَهٗ لَلۡحُسۡنٰی ۚ

څه واپس کړے شوم خپل رب ته يقينًا ما لره د الله سره خامخا ښائسته (منزل) دے ،

فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا ۫ وَ

نو خامخا خبر به ورکو مونږه هغه کسانو ته چي کفر ئي کړے دے د هغه چي عمل ئي کړے وو او

لَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٥٠﴾ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا

خامخا او به څکوو مونږه دوی ته د عذاب سخت نه * او کله چ لی احسان اوکو مونږه

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا

په انسان باندي دے مخ اړوئ او بيرته شي په خپل اړخ باندي (د كتاب د الله نه) ، او كله چي

مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ

اورسيږي ده ته څه تکليف نو شي دے خاوند د دعاګانو پلنو پلنو * او وايه

اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ

خبر راکړئ ما ته كه وي دا كتاب د طرفه د الله نه او بيا هم تاسو كفر كوئ

بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِيْ شِقَاقٍ

په دي كتاب باندي څوک زيات گمراه دے د هغه چا نه چي وي په اختلاف

بَعِيْدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَفِيْٓ

لري كښي د حق نه * زر دے چي او به ښايو مونږه دوی ته دلائل زمونږ په اطرافو د عالم كښي او په

اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ۭ

نفسونو د دوی كښي تردي پوري چي ښكاره شي دوی ته چي يقيناً دا قرآن حق دے ،

اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

آيا نه دے كافي رب ستا چي يقيناً دا الله په هر يو شي باندي

شَهِيْدٌ ﴿٥٣﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآءِ

گواه دے * خبر دار يقيناً دوی په شک كښي دي د ملاقات د

رَبِّهِمْ ۭ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿٥٤﴾

د رب خپل نه ، خبردار يقيناً دا الله په هر يو شي باندي احاطه كونكے دے *

ع ٦

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ترتيبي ۴۲ نزولي ۶۲ — اٰياتها ۵۳ — ركوعاتها ۵

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَ اِلَى
الله پوهيږي په معنى د دي حروفو ٭ دارنګي وحي كيږي تا ته او
الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾
هغه كسانو ته چي مخكښي ستا نه دي الله غالب حكمت والا ٭
لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ هُوَ
خاص الله لره اختيار دے د هغه چي (بره) اسمانونو او (بنكته) زمكو كښي دي، او دا الله
الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۴﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ
اوچتے مرتبے والا لوئے مرتبے والا دے ٭ قريب دي آسمانونه چي اوچوي
مِنْ فَوْقِهِنَّ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ
د پاسه د دوي نه او فرشتي پاكي بياني په ستائنه
رَبِّهِمْ وَ يَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ اَلَآ
د رب د دوي او بخښنه غواړي د پاره د هغه (مومنانو) چي په زمكه كښي دي ؛ خبر دار
اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾ وَ الَّذِيْنَ
يقينًا الله دے بښونكے مهربان ٭ او هغه كسان
اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ
چي نيولي ئي دي سيـــوا د الله نه مددګاران دا الله نګهبان دے
عَلَيْهِمْ ۖ ز وَ مَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۶﴾
په دوي باندي، او نه ئي ته په دوي باندي ذمه دار ٭
وَ كَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ
او دارنګي وحي كړے ده مونږ، تا ته د قران په واضحه ژبه كښي دي د پاره چي اوبرے ته

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى

ربط د سورت الشورى:

(۱) مخکښې سورت کښې اثبات د قيامت اوشو نو دلته ۹ کښې هم اثبات د قيامت کړې.

(۲) مخکښې ذکر شو (ذلک رب العلمين) هلته تعميم وونودلته ۱۰ کښې تخصيص بعد التعميم دے (ذلکم الله ربي)

(۳) مخکښې مؤمنانو ته بشارت وو نو دلته ۲۲ کښې هم مؤمنانو ته بشارت ورکړې.

امتيازات د سورت الشورى:

(۱) دا سورت ممتاز دے په رد د دريو شبهو او د هغې په جوابونو باندې.

(۲) په خصوصي تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الآخرة باندې.

(۳) په قول د الله تعالى باندې نبي عليه السلام ته (ما كنت تدري ما الكتب و لا الايمان).

دعوى د سورت الشورى:

اثبات د توحيد او دفع د نورو دريو / ۳ شبهاتو.

خلاصه د سورت الشورى:

په دې سورت کښې درے۳ اعتراضونه اودهغې جوابونه ذکرکړې:

اول اعتراض: دا خبره صرف ته کے ستانه مخکښې چانه ده کړې.

جواب:دوه ځايه جواب کوی ۳.۱۳ کښې ددےمسئلې (توحيد) وحی ټولو انبياء عليهم السلام ته شوې وه او هغوی دا مسئله بيان کړې وه.

دويم اعتراض چه عام کتابونه ستا خلاف دي نو د دې پنځه جوابونه کړې: آيت ۱۰ کښې بيا آيت ۱۵ کښې بيا آيت ۱۷ کښې بيا آيت ۴۷ کښې بيا آيت ۵۲ کښې.

دريم اعتراض:عام علماء (مليان)ستاخلاف دی نو د دې درے / دري ځايه جواب کړې آيت ۱۳ کښې بيا ۲۱: کښې او خلاصه د جوابونو ۱۴: کښې ذکرکړې چې دوی ضديان دی دضد د وجې نه خلاف کړې.

Maktaba Tul Ishaat.com

أُمَّ الْقُرٰى وَ مَنْ حَوْلَهَا وَ تُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ

مکے والا او هغه څوک چي گير چاپيره د دي نه دي او اويرے ته خلق د ورځ د جمع کيدو نه

لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَ فَرِيْقٌ فِي

نشتے شک په دي کښې، يوه ډله به وی په جنت کښې او بله ډله به وی په

السَّعِيْرِ ۝٧ وَ لَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً

جهنم کښي . او که خوښه وے د الله (په زور) خامخا گرځولے به ئي وو دوی لره ټولگے

وَّاحِدَةً وَّ لٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ

يکے يو (په دين يوباندي) ليکن دننه کئ چا له چي ئي خوښه شي په

رَحْمَتِهٖ ؕ وَ الظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّ

مهرباني خپله کښي، او ظالمان چي دي نه به وی دوی لره څوک دوست او

لَا نَصِيْرٍ ۝٨ أَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ

نه څوک امدادي . آيا دوی نيولي دي سيـــوا د الله نه نور مددگاران

فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَ هُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ز وَ هُوَ

نو الله دے مددگار او دا الله ژوندي کئ مړو لره او دا الله



عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٩ وَ مَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ

په هر يو شي باندي قدرت والا دے . او هغه چي اختلاف کړے دے تاسو په دي کښي

مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ إِلَى اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

د څه مسئلے نه نو فيصله د دي (واپس کئ کتاب د) الله ته، دي کارونو کولو والا الله

رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَ إِلَيْهِ أُنِيْبُ ۝١٠

رب زما دے خاص په دي الله باندي ما ځان سپارلے دے، او دي الله ته زه راگرځم .

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَ الْأَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ

پيدا کوونکے دے د آسمانونو او د زمکو، پيدا کړي ئي دي ستاسو د پاره د

أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَّ مِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۚ

جنس ستاسو نه بيباني او د خارووو نه جوړے جوړے،

يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۚ وَ هُوَ

پيدا کې تاسو لره په دي حالت کښي، نشته په شان د الله هيڅ څوک، او دا الله

السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمٰوٰتِ

اوريدونکے ليدونکے دے * دي الله د پاره چابياني د آسمانونو

وَ الْأَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

او زمکو دي، پراخې رزق لره د پاره د هغه چا چي اوغواړي

وَ يَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾ شَرَعَ لَكُمْ

او تنګوي، يقينًا دا الله په هر يو شي باندي پوهه دے * ښکاره کړي ئي دي تاسو ته

مِّنَ الدِّينِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوحًا وَّ الَّذِيٓ

د دين نه هغه چي حکم ئي کړے وو په هغي باندي نوح عليه السلام او هغه چي

أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَ مَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ إِبْرٰهِيمَ وَ

وحي کړے ده مونږه تا ته او هغه چي حکم کړے وو مونږه په هغي باندي ابراهيم (عليه السلام) او

مُوسٰى وَ عِيسٰٓى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَ

موسی (عليه السلام) او عيسی (عليه السلام) ته دا چي قائم کړئ دين او

لَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا

مه ټس نس کيږئ په دي کښي، ګران لږي په مشرکانو باندي هغه مسئله (دين) چي

تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللّٰهُ يَجْتَبِيٓ إِلَيْهِ مَنْ

تاسو راغواړي دوی لره هغې ته، الله غوره کوي خان طرف ته چا له

يَّشَآءُ وَ يَهْدِيٓ إِلَيْهِ مَنْ يُّنِيبُ ﴿١٣﴾ وَ مَا

ئي چي خوښه شي او توفيق ورکوي دي مسئلي ته هغه چا ته چي راګرځي (الله ته)* او

Maktaba Tul Ishaat.com

تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًاۢ

نه وو تس نس شوي دوی. مګر پس د هغه نه چې راغلے دوی ته علم د وجې د ضد او عناد نه

بَيْنَهُمْ ؕ وَ لَوْ لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ

په مينځ د دوی کښې ، او که نه وے حکم مخکښې تیر شوے (د عذاب روستو کولو) د طرفه د رب ستا نه

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَ اِنَّ

تر یو نیټې مقررے پورې نو خامخا فیصله به کړے شوې وه په مینځ د دوی کښې ، او یقینًا

الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ

هغه کسان چې ورکړے شویدے ورته کتاب پس د دوی نه خامخا په

شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَ

شک کښې دي دینه دیر شک کونکي ٭ نو دي مسئلې (توحید) ته راغواړه (مخلوقات) ، او

اسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَ لَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ

کلک او دریږه لکه چې تا ته حکم شوے دے ، او تابعداري مه کوه د خواهشاتو د دوی ،

وَ قُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَ

او اووایه ما ایمان راوړے په هغه باندې چې رالیږلے دے الله کتاب ، او

اُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَ رَبُّكُمْ ؕ

ما ته حکم شویدے چې زه انصاف اوکړم په مینځ ستاسو کښې، الله رب زمونږ دے او رب ستاسو ،

لَنَآ اَعْمَالُنَا وَ لَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ؕ لَا حُجَّةَ

مونږ لره (بدله د) عملونو زمونږ ده او ستاسو د پاره (بدله د) عملونو ستاسو ده ، نشته جګړه

بَيْنَنَا وَ بَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ وَ اِلَيْهِ

په مینځ زمونږ او په مینځ ستاسو کښې (سهواد حسدنه)، الله راجمع به کړي مونږ لره ، او دې الله ته

الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ وَ الَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِي اللّٰهِ مِنْۢ

ورتلل دي ٭ او هغه کسان چې جګړې کوي په (توحید د) الله کښې

بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ

پس د هغه نه چې قبولتیا اوکړے شوه دې مسئلې لره دلیل د دوی بیکاره دے

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَ عَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَّ لَهُمْ عَذَابٌ

په نزد د رب د دوی. او په دوی باندې غضب دے او دوی لره عذاب

شَدِيْدٌ ﴿۱۶﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ

سخت دے ٭ الله هغه ذات دے چې رالیږلے ئې دے کتاب

بِالْحَقِّ وَ الْمِيْزَانَ ؕ وَ مَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ

د باره د ښکاره کولو د حق او د تول کتاب ، او څه شي خبر که تا لره شاید چې

السَّاعَةَ قَرِيْبٌ ﴿۱۷﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ

قیامت نزدے دے ٭ تلوار سره غواړي دوی دې لره هغه کسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ

چې ایمان نه راوړي په دې باندې ، او هغه کسان چې ایمان ئې راوړے دے یریدونکي دي

مِنْهَا ۙ وَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا الْحَقُّ ؕ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ

د دې نه ، او پوهیږي چې دا قیامت رشتیا دے ، خبر دار یقیناً هغه کسان

يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ لَفِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۱۸﴾

چې شک کړي په قیامت کښې خامخا په ګمراهۍ لرې کښې دي (د حق نه) ٭

اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

الله ډیر مهربان دے په خپلو بندګانو باندې رزق ورکوي چا ته ئې چې خوښه شي ،

وَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

ع ۲ ۳

او دا الله طاقت والا غالب دے ٭ هغه څوک چې اراده لري د

حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَ مَنْ

فصل(اجر) د آخرت(په خپل عمل) زیات والے به اوکو مونږ ده له په فصل(اجر) د ده کښې ، او څوک چې

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَ مَا

جي اراده لري د فصل (بدلې) د دنيا (په خپل عمل) ورېه کوو مونږ ده ته د دي نه او نه به وي

لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ۝۲۰ اَمْ لَهُمْ

ده لره په آخرت کښې څه برخه ٭ ايا شته دوی لره

شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ

حصه داران چې څرګند کړے ئې دے دوی لره د دين نه هغه چې نه ئې

يَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ؕ وَ لَوْ لَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ

کړے حکم په هغې باندې الله، او که نه وے حکم د جدائۍ په (قيامت کښې)

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ

نو خامخا فيصله به کړے شوے وه په مينځ د دوی کښې، او يقيناً ظالمان دوی لره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۲۱ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ

عذاب دردناک دے ٭ وينے به ته ظالمان يريدونکي

مِمَّا كَسَبُوْا وَ هُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَ الَّذِيْنَ

د هغه نه چې کسب ئې کړے دے او دا (عذاب) به واقع کيدونکے وي په دوی باندې، او هغه کسان

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ

چې ايمان ئې راوړه او عمل ئې اوکه نيک په باغيچو

الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

د جنتونو کښې به وي، دوی لره به هغه څه وي چې غواړي ئې دوی په نزد د رب د دوی

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ۝۲۲ ذٰلِكَ الَّذِيْ

دا دے کاميابي لوئي ٭ دا (بيان) هغه دے

يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

چې زيرے ورکړي الله (په دې) بندګانو خپلو هغه کسانو ته چې ايمان ئې راوړه او عمل ئې اوکه

الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ لَّآ اَسْــَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا

نیک ، اووایه نه غواړم ستاسو نه په دي باندي څه اجر مګر

الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ وَ مَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً

دوستي په خپلولی کښي او چا چي اوکړه نیکي

نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٢٣﴾

زیات به کو موږ ده لره په دي کښي اجر او ثواب، یقیناً الله ښبونکے قبلونکے دے (نیکو اعمالو لره)*

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۚ فَاِنْ

آیا وائی دوی د خان نه جوړ کړي دي (پیغمبر) په الله باندي دروغ ، پس که

يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ؕ وَ يَمْحُ اللّٰهُ

اوغواړي الله کلک به کي زړه ستا ، او ختموی الله

الْبَاطِلَ وَ يُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

باطل او ثابتوی حق لره په خپلو حکمونو باندي ، یقیناً دا الله پوهه دے

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٤﴾ وَ هُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ

په رازونو د سینو باندي * او دا الله هغه ذات دے چي قبلي

التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَ يَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ

توبي لره د خپلو بندګانو نه او معافي کي د ډیرو ګناهونو

وَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۙ﴿٢٥﴾ وَ يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ

او پوهیږي په هغه چي تاسو ئي کوئ * او قبلی الله عمل د هغه کسانو

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ يَزِيْدُهُمْ مِّنْ

چي ایمان ئي راوړے دے او عمل کړ نیک او زیاتي دوی لره د

فَضْلِهٖ ؕ وَ الْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿٢٦﴾

فضل خپل نه (دیدار الهی) ، او کافران دوی لره دے عذاب سخت *

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِی
او كه پراخه كړے وے الله رزق لره د پاره د خپلو (ټولو) بندګانو نو خامخا دوی به سرکشي کړے وے په
الْاَرْضِ وَ لٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ
زمكه كښې ليكن راليږي په اندازه هغه چې اوغواړي ،
اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَ هُوَ الَّذِیْ
يقينًا دا الله خپلو بندګانو باندي خبردار ليدونكے دے * او دا الله هغه ذات دے
يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَ يَنْشُرُ
چې راليږي باران پس د هغه نه چې نا اميده شي (خلق) او خوروي
رَحْمَتَهٗ ؕ وَ هُوَ الْوَلِیُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾ وَ مِنْ اٰيٰتِهٖ
رحمت خپل لره ، او دا الله معاون ستائلے شوے دے * او بعضي د دلائلو د الله نه
خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ مَا بَثَّ فِيْهِمَا
پيدائش د آسمانونو او د زمكو دے او هغه چې خواره كړي ئې دي په دي دواړو كښې
مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَ هُوَ عَلٰی جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ
يعني زنده سر ، او دا الله په راجمع كولو د دوی باندي كله چې اوغواړي
قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ وَ مَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا
قدرت والا دے * او هغه چې رسيږي تاسو ته څه مصيبت پس په سبب د هغه چې
كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَ يَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ؕ﴿۳۰﴾ وَ
كړي دي لاسونو ستاسو او معافي كوي (الله) د ډيرو (جرمونو) * او
مَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِی الْاَرْضِ ۚۖ وَ مَا لَكُمْ
نه يئ تاسو خلاصيدونكي (د الله نه) په زمكه كښې ، او نشته تاسو لره
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّ لَا نَصِيْرٍ ﴿۳۱﴾ وَ
سيوا د الله نه څوك دوست او نه څوك امدادي * او

مِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ؕ﴿۳۲﴾

بعضي د دلائلو د الله نه کشتۍ دي په درياب کښې په شان د غرونو باندې *

اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ

که خوښه شي د الله نو اوبه دروي باد نو اوبه کړځي دا کشتۍ ولاړي

عَلٰى ظَهْرِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ

په شا د درياب، يقينًا په دې کښې خامخا نښې د عبرت دي د پاره د هر يو

صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۳﴾ۙ اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا

کلک صبرناک تابعدار * يا به هلاکې کې دې لره په سبب د هغه چې دوی کړي دي

وَ يَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۴﴾ۙ وَّ يَعْلَمَ الَّذِيْنَ

او معافي کوي الله د ډيرو (ګناهونو) * او پوهه به شي هغه کسان چې

يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمْ مِّنْ

جګړې کوي په (خلاف) آيتونو زمونږ کښې، نه به وي دوی لره څه

مَّحِيْصٍ ﴿۳۵﴾ فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ

ځائے د خلاصي * پس هغه چې درکړے شويدے تاسو ته څه نعمت

فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَ مَا عِنْدَ اللّٰهِ

نو دا څکه د ژوند د دنيا ده، او هغه (نعمتونه) چې دي الله سره

خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَلٰى رَبِّهِمْ

غوره دي او هميشه دي د پاره د هغه کسانو چې ايمان ئې راوړے دے او په خپل رب باندې

يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۳۶﴾ۚ وَ الَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ

ځان سپاري، او هغه کسان چې ځان ساتي د لويو

الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ وَ اِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ

ګناهونو (شرک اعتقادي) نه او بے حيايو (شرک فعلي) نه او کله چې غصه شي نو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَغْفِرُوْنَ ۳۷ وَ الَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ

مخ اړوي * او هغه كسان چي قبولوالے ئي اوكه د (د حكم) د خپل رب

وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۠ وَ اَمْرُهُمْ شُوْرٰى

او پابندي ئي اوكړه د مونځ او كار (فيصله) د دوی مشوره وي

بَيْنَهُمْ ۠ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۳۸ وَ الَّذِيْنَ

په مينځ د دوی كښې او د هغه نه چي مونږ وركړے دے دوی ته خرچ كوي * او هغه كسان

اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ۳۹ وَ

كله چي اورسيږي دوی ته زياتے نو دوی بدله اخلي * او

جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا

سزا د بدئ بدي ده په شان د هغې باندي ، پس چا چي معافي اوكړه

وَ اَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

او درست ئي كه خپل عمل نو اجر د ده الله سره دے ، يقينًا دا الله مينه نه كوي

الظّٰلِمِيْنَ ۴۰ وَ لَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ

د ظالمانو سره * او چا چي بدله واغسته پس د ظلم او زياتي نه په ده باندي

فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ؕ ۴۱ اِنَّمَا

نو دغه كسان نشته په دوی باندي هيڅ لار (د ملامتيا) * يقينًا

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ

لار (د ملامتيا) په هغه كسانو باندي ده چي زياتے كوي په خلقو باندي

وَ يَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ

او سركشي كوي په زمكه كښې نا مناسب ، دغه كسان

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۴۲ وَ لَمَنْ صَبَرَ وَ غَفَرَ

دوی لره عذاب دردناك دے * او څوك چي كلك شو (په مسئله د توحيد) او مخ ئي واړو (اعتراضاتو نه)

إِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴿٤٣﴾ وَ مَنْ

يقيناً دا خامخا د مضبوطو كارونو نه دے ٭ او چا باندي چي

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ

مهر د گمراهي اوهي الله نو نه به وي ده لره خوك مددگار پس د(مهر والو د الله)دي نه،

وَ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

او وينې به ته ظالمانو لره هر كله چي اويني عذاب

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٤﴾

وائي به دوى آيا شتے واپس تلو ته څه لار ٭

وَ تَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ مِنَ

او وينې به ته دوى لره چي پيش كولے به شي په دي (اوور) باندي يريدونكي د

الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَ قَالَ

ذلت نه گوري به په كــــوزو ستركو ، او وائي به

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ

هغه كسان چي ايمان ئي راوړے دے يقيناً تاوانيان هغه كسان دي

خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ وَ اَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

چي به تاوان كښي ئے واچول خپل نفسونه او خپل اهل په ورځ د قيامت باندي

اَلَاۤ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿٤٥﴾ وَ

خبردار يقيناً ظالمان به په عذاب هميشه كښي وي ٭ او

مَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ

نه به وي دوى لره خوك مددگاران چي امداد به اوكي د دوى

دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ

ســيوا د الله نه ، او چا باندي چي مهر د گمراهي اوهي الله نو نه به ئي ده لره څه

Maktaba Tul Ishaat.com

سَبِيْلٍ ؕ﴿٤٦﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ

لاره* قبولوالے اوکړئ د (حکم د) رب خپل مخکښي د هغې نه جي

يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ

راشي داسي ورځ چي نه به وي واپس کېدل دي ورځ لره د طرفه د الله ، نه به وي تاسو لره

مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّ مَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿٤٧﴾

څه ځائے د پناهي په دغه ورځ او نه به وي تاسو لره څه انکار (فائده مند)*

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ

پس که دوی مخ واړو پس نه دے رالیږلے مونږه تا لره په دوی باندي

حَفِيْظًا ؕ اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَ اِنَّاۤ اِذَاۤ

نګهبان ؛ او نشته په تا باندي مگر رسول د مسئلے ، او یقینًا مونږه کله چي

اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَ

اوڅکوو انسان ته د خپل طرف نه خوشحالي نو خوشحاله شي په دي باندي ، او

اِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ

که اورسيږي دوی ته څه مصيبت په سبب د هغه (ناکاره عملونو) چي مخکښي کړي دي لاسونو د دوی

فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ﴿٤٨﴾ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

بس يقينًا انسان دے ناشکره* خاص الله لره اختيار د آسمانونو

وَ الْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَاۤءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ

او د زمکو دے ، پیدا کئ هغه چي خوښه ئې شي ، ښښي چا ته ئې چي

يَّشَاۤءُ اِنَاثًا وَّ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۤءُ الذُّكُوْرَ ﴿٤٩﴾

خوښه شي جینکۍ او ښښي چا ته ئې چي خوښه شي هلکان *

اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ۚ وَ يَجْعَلُ

يا جوړه جوړه ورکئ دوی ته هلکان او جینکۍ ، او ګرځي

مَنۡ يَّشَآءُ عَقِيۡمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌ قَدِيۡرٌ ﴿۵۰﴾ وَ مَا

چا له ئي چې خوښه شي شنډ ، يقينًا دا الله پوهه قدرت والا دے * او نه

كَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحۡيًا اَوۡ

دي مناسب د پاره د يو بنده دا چې خبري اوكي ده سره الله مګر په طريقې د الهام سره يا

مِنۡ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوۡ يُرۡسِلَ رَسُوۡلًا

آخـــوا د پردې نه يا راوليږي يو استازے

فَيُوۡحِىَ بِاِذۡنِهٖ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِىٌّ حَكِيۡمٌ ﴿۵۱﴾

نو وحي اوكي (پيغمبر ته) په حكم د الله باندې هغه چې خوښه ئې شي يقينًا دا الله اوچت مرتبے والا حكمت والا دے *

وَ كَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ رُوۡحًا مِّنۡ اَمۡرِنَا ؕ

او دارنګې وحي كړې ده مونږه تا ته د قرآن د خپل طرف نه

مَا كُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ وَ لَا الۡاِيۡمَانُ

ته نه پوهيدے چې څنګه به وي بيان د كتاب او ته نه پوهيدې چې څنګه به وي بيان د ايمان

وَ لٰكِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا نَّهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ

ليكن ګرځولے دے مونږه دې قرآن لره رڼرا توفيق وكوو مونږ په دې سره چا ته چې

نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَا ؕ وَ اِنَّكَ لَتَهۡدِىۡۤ اِلٰى

خوښه شي زمونږه د بندګانو زمونږ نه ، او يقينًا ته لار ښيې په طرف

صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۵۲﴾ۙ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِىۡ

د لارې نيغې * لار د الله هغه ذات

لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ

چې د هغه په اختيار كښې دي هغه چې اسمانونو او هغه چې زمكه كښې دي ، خبر دار

اِلَى اللّٰهِ تَصِيۡرُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۵۳﴾

خاص الله ته واپس كيږي كارونه *

ع ۵

Maktaba Tul Ishaat.com

آیاتها ۸۹ سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوین ۴۳ نزول ۶۳ رکوعاتها ۷

حٰمٓ ۝١ وَ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ اِنَّا جَعَلْنٰهُ

الله پوهیږي په معنی د دې حروفو شاهد دے کتاب ښکاره کوونکے (مدعي څېله)* یقینًا مونږه ګرځولے دے دې لره

قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝٣ وَ اِنَّهٗ

د لوستلو کتاب په واضحه ژبه (عربي) کښې خامخا چې تاسو د عقل نه کار واخلئ * او یقینًا دا

فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ۝٤

په اصل د کتاب کښې مونږه سره خامخا اوچتے مرتبے والا دک د حکمت دے *

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ

آیا اړوو مونږه تاسو نه بیان د قرآن اړولو باندې د دې وجې نه چې یئ تاسو

قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ۝٥ وَ كَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ

یو قوم زیاتے کوونکے * او ډیر لیږلي وو مونږه د پیغمبرانو نه

فِي الْاَوَّلِيْنَ ۝٦ وَ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ

په رومبنو کښې * او نه راته دوی ته هیڅ یو پیغمبر

اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٧ فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ

مګر دوی به هغې پورې توقې کولے * نو هلاک کړي دي مونږه ډیر سخت

مِنْهُمْ بَطْشًا وَّ مَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٨

د دوی نه په نیولو (طاقت) کښې او تیر شوے دے حالت د رومبنو *

وَ لَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او که ته تپوس اوکې د دوی نه چې چا پیدا کړي دي آسمانونه

وَ الْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ

او زمکې ؟ نو خامخا وائي دوی پیدا کړي دي دې لره غالب

سُورَةُ الزُّخْرُفِ

ربط د سورت الزخرف :

(۱) د مخکښې سورت اخر کښې ترغيب الى القرآن وو دلته اول کښې ترغيب الى القران دے .

(۲) ماقبل کښې دري اعتراضونه او د هغې جوابونه ذکرشو دلته ايت۸٦ کښې بل اعتراض او د هغې جواب ذکر کړې .

(۳) ماقبل۲۱ کښې ئي مشرکينو ته زجر ورکۀ دلته په ټولو اقسامو د شرک باندي رد کړې .

امتيازات د سورت الزخرف :

(۱) سورت ممتاز دے په در د شبهې د مشرکينو باندي .

(۲) په تزهيدمن الدنيا باندې خصوصي الفاظوسره ۳۳، ۳٤

(۳) په خصوصي درخواست ده نبي عليه السلام باندي آيت ۸۸ .

دعوى د سورت الزخرف :

جواب ده اتنى شبهې د مشرکينو چه د دوی (زمونږ د الهو) لاس الله تعالى تش (خالي) ته پرېږدي .

خلاصه د سورت الزخرف :

سورۃ دري بابه دے اول باب کښې صداقت د قرآن ، زجر معرضينو قران ته ، تسلي نبي عليه السلام ته ،تخويف دنيوي دلائل عقليه ، د مشرکينو خباثت،استدلال بالاباء او هغوى ته زجر ،دليل نقلي ، زجر منکرينو د رسالت ته ، تذهيدمن الدنيا، زجر اوتخويف منکرينو د قرآن ته دويم باب آيت ٤١ نه ترآيت ٦٧ پورې په ديکښې ووه خبرې ذکر کړې : (۱) تسلي . (۲) ترغيب الى القران . (۳) زجر مفترينو(دروغ جوړونکو)ته په نيکانو خلقو باندې آيت ٤٥.

(٤) تخويف دنيوي . (٥) دفع دشبهې . (٦) دليل نقلي په توحيد باندي .(۷)زجر اوتخويف .

دريم باب آيت ٦٧ نه ترآخره پورې ديکښې درې خبرې ذکرکړې :

(۱)بشارت للمؤمنين تخويف للکافرين .

(۲)زجر مشرکينوته .

(۳)دعوى د توحيد په هغې ادله اودفع دمشرکينو چه هغوی وئيل دازمونږسفارشيان دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعَلِيْمُ ۙ﴿۹﴾ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ

پوهه ذات ٭ هغه ذات چې پیدا کړې ئې ده پاره ستاسو زمکه

مَهْدًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ

فرش او ګرځولې ئې دي ستاسو د پاره په دې کښې لارې خامخا چې تاسو

تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰﴾ وَ الَّذِىْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ

سمه لار او مومئ ٭ او دا الله هغه ذات دے چې راوورې د بره نه

مَآءًۢ بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ

باران په اندازه، نو تازه کوو مونږه په دې سره کلے اوچ،

كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَ الَّذِىْ خَلَقَ

دا رنګې تاسو به راوباسلے شئ (د قبرونو نه) ٭ دا الله هغه ذات دے چې پیدا کړې ئې دي

الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ

جوړې ټولې او پیدا کړې ئې دي د پاره ستاسو د کشتو

وَ الْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى

او د خارووو نه هغه چې تاسو پرې سورلې کوئ ٭ دې د پاره چې برابر شئ تاسو په

ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا

شاګانو د دې باندې بیا یاد کړئ نعمت د رب ستاسو کله چې

اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَ تَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِىْ

برابر شئ تاسو په دې باندې او اوایئ تاسو پاکي ده هغه ذات لره

سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَ مَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۙ﴿۱۳﴾

چې تابعداره کړې ئې ده مونږه لره دا سورلې او نه یو مونږه دې لره قابو کوونکي ٭

وَ اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَ جَعَلُوْا لَهٗ

او یقینًا مونږه خپل رب ته خامخا تلونکي یو ٭ او ګرځولې دي دوی الله لره

مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ

د بندګانو د الله نه حصه ، یقیناً انسان دے خامخا ناشکره

مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّ

ښکاره • آیا نیولي دي الله د هغه څه نه چې پیدا کئ لونړه او

اَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿١٦﴾ وَ اِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ

غوره کړي ئي يئ تاسو په ځامنو باندې • او کله چې زیرے ورکړے شي یو تن ته د دوی نه

بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ

په هغه چې بیانئ ئي مهربان ذات لره په صفت کښې نو اوګرځي مخ د ده

مُسْوَدًّا وَّ هُوَ كَظِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَوَ مَنْ يُّنَشَّؤُا فِي

تک تور او وي دے ډک د غم نه • آیا هغه خوک چې لویولے شي په

الْحِلْيَةِ وَ هُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿١٨﴾

ګالو کښې او وي دا په جګړه کښې نه سرګندونکے (خپلې مدعی لره) •

وَ جَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ

او اوګرځولے دوی فرښتې هغه چې هغوي بندګان د مهربان بادشاه دي

اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ سَتُكْتَبُ

جینکۍ ، آیا حاضر شوي دي دوی پیدائش د دوی ته ، زر دے چې اوبه لیکلے شي

شَهَادَتُهُمْ وَ يُسْئَلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَ قَالُوْا لَوْ شَآءَ

بیان د دوی او دوی نه به تپوس کولے شي • او وائي دوی که خوښه وے

الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ

د مهربان بادشاه نو مونږه به عبادت نه وو کړے د دوی ، نشته دوی لره په دې باندې

مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْ

څه دلیل ، نه دي دوی مګر اټکل وائي • آیا

Maktaba Tul Ishaat.com

أٰتَيۡنٰهُمۡ كِتٰبًا مِّنۡ قَبۡلِهٖ فَهُمۡ بِهٖ

ورکړے دے مونږه دوی ته کتاب مخکښې د دې نه نو دوی په دې کتاب

مُسۡتَمۡسِكُوۡنَ ﴿٢١﴾ بَلۡ قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ

منګولې لګونکي دي • بلکه وائي دوی یقینًا موندلے دي مونږه

اٰبَآءَنَا عَلٰۤى اُمَّةٍ وَّ اِنَّا عَلٰۤى اٰثٰرِهِمۡ

مشران خپل په یو دین او یقینًا مونږه په نقش قدم د دوی باندې

مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٢٢﴾ وَ كَذٰلِكَ مَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ

لاره موندونکي یو • او دارنګې نه دے رالیږلے مونږه

قَبۡلِكَ فِیۡ قَرۡيَةٍ مِّنۡ نَّذِيۡرٍ اِلَّا قَالَ

مخکښې ستا نه په هیڅ یو کلي کښې یو یرونکے مګر وئیلي دي

مُتۡرَفُوۡهَاۤ ۙ اِنَّا وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا عَلٰۤى اُمَّةٍ وَّ

مالدارو د هغوی، یقینًا مونږه موندلي دي مشران خپل په یو طریقه باندې او

اِنَّا عَلٰۤى اٰثٰرِهِمۡ مُّقۡتَدُوۡنَ ﴿٢٣﴾ قٰلَ اَوَ لَوۡ

یقینًا مونږه په نښو د هغوی روان یو • اووایه اګر که

جِئۡتُكُمۡ بِاَهۡدٰى مِمَّا وَجَدۡتُّمۡ عَلَيۡهِ

راتلل کړي وي ما تاسو ډیر هدایت سره د هغه نه چې موندلي دي تاسو په هغې باندې

اٰبَآءَكُمۡ ؕ قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ

مشران خپل، اوئیل دوی یقینًا مونږه په هغه چې رالیږلے شوي یئ تاسو په هغې باندې

كٰفِرُوۡنَ ﴿٢٤﴾ فَانۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَانۡظُرۡ

کفر کونکي یو • نو بدله واغسته مونږه د دوی نه نو اوګوره



كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿٢٥﴾ ع وَ اِذۡ

څه رنګه شو انجام د تکذیب کونکو • او کله چې

قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ لِاَبِيۡهِ وَ قَوۡمِهٖۤ اِنَّنِىۡ بَرَآءٌ

او ئيل ابراهيم (عليه السلام) خپل پلار ته او خپل قوم ته يقينًا زه بيزاره يم

مِّمَّا تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۲۶﴾ اِلَّا الَّذِىۡ فَطَرَنِىۡ فَاِنَّهٗ

د هغه نه چې تاسو عبادت کوئ* مګر هغه ذات چې پيدا کړے ئې دے ما لره پس يقينًا هغه

سَيَهۡدِيۡنِ ﴿۲۷﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِىۡ

زر دے چې لار به سمه کې ما ته * او وے ګرځوله دې (کلمے د توحيد) لره کلمه باقي پاتے شوے په

عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ بَلۡ مَتَّعۡتُ

نسل د ده کښې خامخا چې دوي راو ګرځي * بلکه ما څکه ورکړے وه

هٰٓؤُلَآءِ وَ اٰبَآءَهُمۡ حَتّٰى جَآءَهُمُ الۡحَقُّ وَ

دغه کسانو ته او مشرانو د دوي ته تر دې پورې چې راغے دوي ته حق او

رَسُوۡلٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۲۹﴾ وَ لَمَّا جَآءَهُمُ الۡحَقُّ

پيغمبر ښکاره * او هر کله چې راغے دوي ته حق

قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ وَّ اِنَّا بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَ

اوئيل دوي دا دے جادو او يقينًا موږه په دې باندې منکر يو* او

قَالُوۡا لَوۡ لَا نُزِّلَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ

اوئيل دوي ولې نه شو رالېږلے دا قرآن په يو سړي

مِّنَ الۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيۡمٍ ﴿۳۱﴾ اَهُمۡ يَقۡسِمُوۡنَ

د دوو کلو نه لوئي باندې؟ * آيا دوي تقسيمئ

رَحۡمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُمۡ

مهرباني د رب ستا ، موږه تقسيم کړے دے په مينځ د دوي کښې

مَّعِيۡشَتَهُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَ رَفَعۡنَا

ګزران د دوي په ژوند د دنيا کښې او پورته کړي دي موږه

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ
بعضي د دوی نه د پاسه د بعضو په درجو کښې دي د پاره چې اونيسي
بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ وَ رَحْمَتُ رَبِّكَ
بعضي د دوی نه بعضو لره خدمتګاران ، او رحمت د رب ستا
خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَ لَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ
غوره دے د هغه نه چې دوی ئې راجمع کوي ٭ او که نه وے دا (خبره) چې شي به
النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ
خلق ټولګے یو په کفر باندي نو خامخا ګرځولے به وے مونږه د پاره د هغه چا چې کفر کوي
بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّ
په مهربان ذات باندي د پاره د کورونو د دوی چهتونه د سپينو زرو او
مَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَ لِبُيُوْتِهِمْ
پوړۍ چې په هغې باندي به دوی ختل ٭ او د پاره د کورونو د دوی
اَبْوَابًا وَّ سُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ وَ
دروازې او کټونه چې په هغې باندي به دوی ډډه لګوله ٭ او
زُخْرُفًا ؕ وَ اِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ
(ګرځولے به وے مونږه دا څيزونه) د سرو زرو ، او نه دي دا ټول مګر څکه د
الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ
ژوند د دنيا ده ، او آخرت په نزد د رب ستا
لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ وَ مَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ
د پاره د پرهيزګارانو دے ٭ او څوک چې ړوند شه د کتاب د مهربان بادشاه نه
نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾ وَ
مسلط کو مونږه ده باندي شيطان نو دا شيطان ده لره وی دوست ٭ او

إِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ

يقيناً دوی خامخا بندئ دوی لره د صحیح لاري نه او گمان کئ دوی

اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝۳۷ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا قَالَ

چي يقيناً دوی په سمه لار روان دي • تر دي پوري چي كله راشي مونږ ته وائي به

يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ

هائے ارمان چي وے په مينځ زما او په مينځ ستا كښي لري والے د مشرق او مغرب

فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ۝۳۸ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ

نو ډير بد دے دوست • او هیڅري فائده به درنه کي تاسو ته نن ورځ څکه چي

ظَّلَمْتُمْ اَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ۝۳۹

ظلم كړے وو تاسو يقيناً تاسو به په عذاب كښي گډوډ (براته) يئ •

اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِى الْعُمْىَ وَ مَنْ

آيا ته اوروليے شي كڼړو ته يا لار ښودلے شي ړندو ته او هغه چا ته

كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝۴۰ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ

چي وي په گمراهي ښكاره كښي • نو كه بوځو مونږه تا لره (دي عالم نه)

فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ۝۴۱ اَوْ نُرِيَنَّكَ

پس يقيناً مونږه د دوی نه بدله اغستونكي يو • يا اوښايو مونږه تا ته

الَّذِىْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ۝۴۲

هغه عذاب چي وعده كړے ده مونږه دوی سره پس يقيناً مونږه په دوی باندي قدرت لرونكي يو •

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِىْٓ اُوْحِىَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ

پس منگولي اولگوه په هغه كتاب چي وحي كړے شوي ده تا ته ، يقيناً ته

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝۴۳ وَ اِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ

په لاره نيغه يي • او يقيناً دا قرآن كريم پند دے تالره

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لِقَوۡمِكَ ۚ وَ سَوۡفَ تُسۡـَٔلُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَ سۡـَٔلۡ مَنۡ
او د پاره د قوم ستا ، او زر دے چې تاسو نه به تپوس اوکړے شي * او تپوس اوکه هغه چا نه

اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلۡنَا
چې رالیږلي دي مونږه مخکښې ستا نه پیغمبران زمونږ آیا ګرځولي دي مونږه

مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ اٰلِهَةً يُّعۡبَدُوۡنَ ﴿۴۵﴾ وَ
سیوا د مهربان ذات نه مددګاران چې عبادت ئې کولے شي * او

لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَ
تحقیق سره لیږلے وو مونږه موسی (علیه السلام) په دلائلو خپلو فرعون ته او

مَلَا۠ئِهٖ فَقَالَ اِنِّىۡ رَسُوۡلُ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۶﴾
وزیرانو د هغه ته نو وے وئیل یقیناً زه چې یم استازے یم د رب د مخلوقات *

فَلَمَّا جَآءَهُمۡ بِاٰيٰتِنَاۤ اِذَا هُمۡ مِّنۡهَا
پس هر کله چې راغے دوی ته په آیتونو زمونږه ناڅاپه دوی د دې نه

يَضۡحَكُوۡنَ ﴿۴۷﴾ وَ مَا نُرِيۡهِمۡ مِّنۡ اٰيَةٍ اِلَّا هِىَ
خندا کوله * او نه ښایو مونږه دوی ته هیڅ یو معجزه مګر دا معجزه

اَكۡبَرُ مِنۡ اُخۡتِهَا ۫ وَ اَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡعَذَابِ
لویه وه د خپل مثل نه او اونیول مونږه دوی لره په عذاب سره

لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَ قَالُوۡا يٰۤاَيُّهَ السّٰحِرُ
ځاځکا چې دوی واپس شي * او وائي دوی اے جادوګره

ادۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنۡدَكَ ۚ اِنَّنَا
اوغواړه زمونږ د پاره د رب ستا نه په سبب د هغه چې وعده ئې کړے ده تا سره ، یقیناً مونږه یو

لَمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ الۡعَذَابَ
ځاځکا لار موندونکي * پس هر کله چې لرې که مونږه د دوی نه عذاب

اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَ نَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ

ناساپه دوی وعدي ماتيؤ * او اواز اوکه فرعون په

قَوْمِهٖ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ

خپل قوم کښي اوئیل ده اے قومه زما آیا نه ده ما لره بادشاهي د مصر

وَ هٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِيْ ۚ اَفَلَا

او دا ولي چي رواني دي لاندي (دبنګلي) زما ، آیا

تُبْصِرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِيْ

تاسو نه ګورئ * آیا زه غوره یم د دي سړي نه

هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّ لَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْ لَآ اُلْقِيَ

چي هغه سپک دے ، او قریب نه دے چي بنکاره کښي (خپله مدعي) * ولي نه شي غورځولے

عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ

په ده باندي بنګړي د سرو زرو نه یا (ولے) نه راغلي ده سره فرښتي

مُقْتَرِنِيْنَ ﴿٥٣﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ؕ

جوختي جوختي * نو بے وقوف ئے که خپل قوم نو هغوي تابعداري اوکړه د هغه

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا

یقینًا وو دوی یو قوم فاسقان * پس هر کله چي غوسه ئي کړو مونږه

انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنٰهُمْ

بدله واغسته مونږه د دوی نه نو غرق کړل مونږه دوی لره ټول * نو اوګرځول مونږه دوی لره

سَلَفًا وَّ مَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَ لَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ

تیروني او مثال د پاره د روستنو خلقو * او هر کله چي بیان شي خوے د مریم

مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ﴿٥٧﴾

په مثال کښي ناساپه قوم ستا د دي بیان نه ناټري وهي *

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ قَالُوْٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ ؕ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ

او وائي دوی آیا الهه زمونږه غوره دي یا دے ، نه بیانوی دي لره تا ته

اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿٥٨﴾ اِنْ هُوَ

مکر د پاره د جګړي ، بلکه دوی یو قوم دے جګړ مار* نه دے دا عیسی (علیه السلام)

اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَ جَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ

مګر بنده دے چي احسان کړے دے مونږه په ده باندي او ګرځولے دے مونږه ده لره مثال د پاره د بني

اِسْرَآءِيْلَ ﴿٥٩﴾ وَ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً

اسرائیلو* او که خوښه وے زمونږه نو خامخا ګرځولے به وے مونږه ستاسو نه په ځائے فرښتے

فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَ اِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ

په زمکه کښي چي پاتي کیدے به* او یقینًا دا عیسی (علیه السلام) خامخا نښه ده د پاره د قیامت

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَ اتَّبِعُوْنِ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ

پس شک مه کوئ په راتلو د قیامت کښي او زما تابعداري اوکړئ ، دا ده لاره

مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَ لَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ

نیغه* او بند دي نه کي تاسو لره شیطان ، یقینًا دا شیطان ستاسو د پاره

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾ وَ لَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ

دشمن دے ښکاره* او هر کله چي راغے عیسی (علیه السلام) په واضحه دلائلو باندي

قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَ لِاُبَيِّنَ لَكُمْ

اوئیل ده په تحقیق سره ما راتلل کړي دي تاسو ته په عقلمندئ باندي او دي د پاره چي بیان کم تاسو ته

بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

بعضي هغه مسائل چي تاسو اختلاف کوئ په هغي کښي ، پس اوویریږئ د الله نه

وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ وَ رَبُّكُمْ

او زما تابعداري اوکړئ* یقینًا الله هغه دے رب زما او رب ستاسو

فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۴﴾ فَاخْتَلَفَ
نو عبادت اوکئ د الله ، دا ده لاره نيغه * نو اختلاف اوکه

الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
ډلو په خپل مينځ کښې ، پس هلاکت دے د پاره د هغه کسانو چې ظلم ئې کړے دے

مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۶۵﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا
د عذاب د ورځے دردناکے نه * دوی انتظار نه کئ مګر

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّ هُمْ لَا
د قيامت دا چې رابه شي دوی ته ناساپه او دوی به نه

يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۶﴾ اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ
پوهيږي * دوستان په دغه ورځ بعضې د دوی نه

لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾ ع يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ
د پاره د بعضو دشمنان به وی مګر پرهيزګاران * اے زما بندګانو نه به وی يره

عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَ لَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾ اَلَّذِيْنَ
په تاسو باندې نن ورځ او نه به تاسو غمژن شئ * هغه کسان

اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾ اُدْخُلُوا
چې ايمان ئې راوړوو په آيتونو زمونږ باندې او وو دوی تابعــــــدار * دننه شئ

الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَ اَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ يُطَافُ
جنت ته تاسو او بيبانې ستاسو خوشحاله به کړے شئ * ګرځولے به شي

عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّ اَكْوَابٍ ۚ وَ فِيْهَا
په دوی باندې کاسې د سرو زرو نه او کبونه ، او په دې کښې

مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَ تَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَ اَنْتُمْ
هغه چې غواړې ئې زړونه د دوی او مزې پرې اخلې سترګې ، او تاسو به

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ وَ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا

په دي کښي همیشه يئ * او دغه جنت هغه دے چي په میراث کښي درکړے شو تاسو ته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ

په سبب د هغه چي تاسو عمل کو * ستاسو د پاره په دي کښي میوے دي ډيري

مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ

د هغي نه تاسو خورئ * يقيناً مجرمان په عذاب د

جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَ هُمْ فِيْهِ

جهنم کښي همیشه به وي * سست به نه کړے شي (عذاب) د دوی نه او دوی به دوی

مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَ مَا ظَلَمْنٰهُمْ وَ لٰكِنْ كَانُوْا هُمُ

نا امیده دهرچانه * او ظلم نه وو کړے مونږه په دوی باندي لیکن وو دوی

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۶﴾ وَ نَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا

ظالمان * او آواز به اوکي دوی اے چوکیدارے فرشتے فیصله دي اوکي په مونږ باندي

رَبُّكَ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ

رب ستا ، او به وائي (فرشته) يقيناً تاسو وخت تيرونکي يئ * بهتحقيق سره راتلل کړي دي مونږه تاسو ته

بِالْحَقِّ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَمْ

په قرآن سره لیکن اکثر ستاسو نه د قرآن لره بد ګڼرونکي دي * آیا

اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ اَمْ يَحْسَبُوْنَ

دوی کلکئ کار (ستا د هلاکت) يقيناً مونږه کلکونکي يو (د دوی هلاکت) یا دوی ګمان کئ

اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَ نَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَ رُسُلُنَا

چي يقيناً مونږه نه اورو پټي جرګي د دوی او ښکاره جرګي د دوی ، بے شکه استاذي زمونږ

لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ

دوی سره دی لیکل کئ * او وایه که چرته وے د پاره د مهربان بادشاه

وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿٨١﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ

نائب، پس به اوم زه اول د عبا ت کونکو(د هغه) • پاکي ده رب د

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا

اسمانونو او زمکو لره چي د مالک عرش لره د هغه نه چي

يَصِفُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَ يَلْعَبُوْا حَتّٰى

دوى ئي بيانوي • نو پريږده دوى لره چي ننوځي (عبثوکښي) او لوبې کړي تر دي چي

يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَ هُوَ الَّذِىْ

مخامخ شي دوى د ورځې د دوى هغې سره چي دوى سره ئي وعده کولے شي • او دا الله هغه ذات دے

فِى السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّ فِى الْاَرْضِ اِلٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

چي په آسمان کښي اله دے او په زمکه کښي اله دے ، او دا الله حکمت والا

الْعَلِيْمُ ﴿٨٤﴾ وَ تَبٰرَكَ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

پوهه ذات دے • او برکت والا دے هغه ذات چي د هغه د پاره بادشاهي د آسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ

او د زمکو ده او هغه چي په مينځ د دي دواړو کښي دي ، او د الله سره علم د قيامت دے

وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَ لَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

او دي الله ته به تاسو واپس کړے شئ • او واکدار نه دي هغه کسان چي رامدد کړي ئي دوى

مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ

سيوا د الله نه د خلاصولو مګر هغه خوک چي ګواهي ئي کړي وى د توحيد

وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَ لَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ

او دوى پوهيږي • او که ته د دوى تپوس اوکې د دوى نه چي چا پيدا کړي دي دوى لره

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٨٧﴾ وَ قِيْلِهٖ يٰرَبِّ

نو خامخا وائي دوى چي الله نو کوم طرف ته دوى اړولے شي • او شاهد ده وينه د پيغمبر عليه السلام اے زما ربه

Maktaba Tul Ishaat.com

اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوۡمٌ لَّا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۸﴾ فَاصۡفَحۡ

یقینًا دغه کسان یو قوم دے چې ایمان نه راوړے • نو مخ واړوه

عَنۡهُمۡ وَ قُلۡ سَلٰمٌ ؕ فَسَوۡفَ یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۹﴾

د دوی نه او اووایه سلام د بائیکاټ، پس زر دے چې دوی به پوهه شي

آیاتها ٥٩ سُوۡرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّة

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

تدوين ٤٤ نزول ٦٣ رکوعاتها ٣

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَ الۡکِتٰبِ الۡمُبِیۡنِ ﴿۲﴾ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ فِیۡ

الله پوهیږي په معنیٰ د دي حروفو شاهد دے کتاب ښکاره کونکے (مدعی خپله) یقینًا موږه رالیږلے دے دي لره په

لَیۡلَةٍ مُّبٰرَکَةٍ اِنَّا کُنَّا مُنۡذِرِیۡنَ ﴿۳﴾ فِیۡهَا یُفۡرَقُ

شپه د خیر او د برکت کښې یقینًا یو موږه یرونکي • په دي کښې تقسیمولے شي

کُلُّ اَمۡرٍ حَکِیۡمٍ ﴿۴﴾ اَمۡرًا مِّنۡ عِنۡدِنَا ؕ اِنَّا کُنَّا

هر یو کار محکم • په حکم د طرفه زموږه نه، یقینًا یو موږه

مُرۡسِلِیۡنَ ﴿۵﴾ رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّکَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیۡعُ

لیږونکي • دا رحمت دے د طرفه د رب ستا نه، یقینًا دا الله اوریدونکے

الۡعَلِیۡمُ ﴿۶﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا بَیۡنَهُمَا ۘ

پوهه دے • مالک د آسمانونو او د زمکو دے او د هغه چې په مینځ د دي دواړو کښې دي،

اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّوۡقِنِیۡنَ ﴿۷﴾ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ یُحۡیٖ وَ

که یئ تاسو یقین ساتونکي • نشته بل حاجت روا مګر دا الله دے ژوندي کول کئ او

یُمِیۡتُ ؕ رَبُّکُمۡ وَ رَبُّ اٰبَآئِکُمُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۸﴾ بَلۡ

مړه کول کئ، رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو ړومبنو دے • بلکه

هُمۡ فِیۡ شَکٍّ یَّلۡعَبُوۡنَ ﴿۹﴾ فَارۡتَقِبۡ یَوۡمَ تَاۡتِی

دوی په شک کښې دي لوبي کونکي • نو انتظار کوه هغه ورځي ته چې رابه شي

سُوْرَةُ الدُّخَانِ

ربط د سورت الدخان:

(۱) مخکښې آیت(۸٦)کښې شبهه د مشرکینو رد شوه چې مشرکینو وئیل د دوئ لاس الله تش نه پریږدی دلته آیت ٦ کښې بله شبهه د مشرکینو رد کوی چې دوئ وائی دا مونږ چې څوک رامدد کوؤ شاهد چې زمونږ آواز واوري.

جواب: ﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ۝﴾

(۲) مخکښې سورت په صداقة القرآن شروع وو دا سورت هم په صداقة القرآن شروع دے.

(۳) مخکښې آیت ٥٤ کښې ذکر شو چې فرعون خلق (بنی إسرائیل) غلامان کړي وو دلته آیت ۱۸ کښې ذکر کوی چې موسی علیه السلام ورته وئیل: ﴿أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ۝﴾ ماسره د الله بندګان راپریږدئ.

امتیازات د سورت الدخان:

۱- دا سورت ممتاز دے د نورو سورتونو نه په خصوصي جواب د شبهې د مشرکینو باندې.

۲- لیلة القدر ته په " لیلة مبرکة " وئیلو باندې.

۳- په خصوصي تخویف دنیوی ورکولو باندې.

دعوی د سورت الدخان:

جواب د شبهې د مشرکینو چې دوی وئیل « شاهد چې {دغه باباګان} زمونږ خبره واوري

﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ۝﴾

خلاصه د سورت الدخان:

سورت کښې پنځه خبرې ذکر کیږی: {۱}صداقة القرآن.

{۲} جواب د شبهې د مشرکینو او دعوی د توحید ٦ تا ۳۸.

{۳} تخویف دنیوي په هلاکت د فرعون او قوم تبع سره.

{٤}تخویف اخروي منکرینو د توحید ته.

{٥} بشارت منونکو د توحید ته.

آخر د سورت متعلق دے اول د سورت سره «اول کښې ترغیب الی القرآن وو آخر کښې هم ترغیب الی القرآن دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيۡنٍ ﴿١٠﴾ يَّغۡشَى النَّاسَ ؕ

آسمان په لوري ښکاره باندې * پټې به خلقو لره

هٰذَا عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكۡشِفۡ عَنَّا الۡعَذَابَ

دا دے عذاب دردناک * اے ربه زمونږه لرې کې زمونږ نه عذاب

اِنَّا مُؤۡمِنُوۡنَ ﴿١٢﴾ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكۡرٰى وَقَدۡ جَآءَهُمۡ

یقینًا مونږه یقین ساتونکي یو * چرته به وي دوی لره پند د دوی او تحقیق سره راغلی دے دوی ته

رَسُوۡلٌ مُّبِيۡنٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡا عَنۡهُ وَقَالُوۡا مُعَلَّمٌ

پیغمبر واضح کونکے * بیا واوړېدل دوی د هغه نه او اوئیل دوی، دا دے ښودلے شوے

مَّجۡنُوۡنٌ ﴿١٤﴾ اِنَّا كَاشِفُوا الۡعَذَابِ قَلِيۡلًا اِنَّكُمۡ

لیونے * یقینًا مونږه لرې کونکي یو د عذاب لږ شان یقینًا تاسو

عَآئِدُوۡنَ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ الۡبَطۡشَةَ الۡكُبۡرٰى ۚ اِنَّا

واپس کیدونکي یئ * یاد که هغه ورځ چې نیول به اوکو مونږه نیول لوئي، یقینًا مونږه

مُنۡتَقِمُوۡنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدۡ فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ

بدله اغستونکي یو * او تحقیق سره امتحان کړے وو مونږه مخکښې د دوی په قوم د فرعون

وَجَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ كَرِيۡمٌ ﴿١٧﴾ اَنۡ اَدُّوۡۤا اِلَىَّ عِبَادَ

او راغلے وو دوی ته پیغمبر عزتمند * دا چې اداء کئ ما سره (احکام د الله) اے بندګانو د

اللّٰهِ ؕ اِنِّىۡ لَـكُمۡ رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ﴿١٨﴾ وَّاَنۡ لَّا تَعۡلُوۡا

الله ، یقینًا زه ستاسو د پاره پیغمبر یم امانتدار * او دا چې خان غټ مه ګنړئ

عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّىۡۤ اٰتِيۡكُمۡ بِسُلۡطٰنٍ مُّبِيۡنٍ ﴿١٩﴾ وَاِنِّىۡ

په الله باندې ، یقینًا ما راتله کړې دي تاسو ته په دلیل واضح باندې * او یقینًا زه

عُذۡتُ بِرَبِّىۡ وَرَبِّكُمۡ اَنۡ تَرۡجُمُوۡنِ ﴿٢٠﴾ وَاِنۡ

پنا غواړم په رب خپل او په رب ستاسو سره دا چې تاسو ما په ګټو اولئ * او که دوی

لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ

تاسو زما خبره نه منئ نو زما نه جدا شئ * نو فریاد ئې اوکه خپل رب ته چې یقینًا

هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا

دغه کسان یو قوم دے مجرمان * نو بوخه بندگان زما د شپې

إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ

یقینًا دوی به تاسو پسې کړے شي او پریږده دریاب ولاړ، یقینًا دوی دي یو لښکر

مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾

غرقیدونکي * ډیر ئې پریخودل د باغونو او د چینو *

وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا

او د فصلونو او د ځائے عزتمند * او د نعمتونو چې وو دوی به هغې کښې

فَاكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿٢٨﴾

لذت اغستونکي * خبره هم دا رنګې ده په میراث کښې ورکه موږه دا ملک مصر قوم بل ته *

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا

نو او نه ژړل په دوی باندې بره مخلوقاتو او نه ښکته مخلوقاتو او نه وو دوی

مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنَ

مهلت ورکړے شوي * او تحقیق سره خلاص کړل موږه بني اسرائیل د

الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُ كَانَ

عذاب سپکونکي نه * یعني د فرعون نه ، یقینًا وو دے

عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ عَلَىٰ

سرکشي کونکے د زیاتي کونکو نه * او تحقیق سره غوره کړي وو موږه دوی لره سره د

عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَآتَيْنَاهُم مِّنَ الْآيَاتِ مَا

علم په مخلوقات د خپلے زمانے * او ورکړے وو موږه دوی ته د دلائلو نه هغه چې

الربع

ع ١٤/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهِ بَلَـٰٓؤٌا مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ

په هغې کښې امتحان وو ښکاره • يقينًا دغه کسان خامخا وائي دوی • نه دے

هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾

دا مګر مرګ زمونږ رومبے او نه يو مونږه بيا پورته کيدونکي •

فَأْتُوا بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾ أَهُمْ خَيْرٌ

راولئ زمونږ مشران که يئ تاسو رشتيني • آيا دوی غوره دي

أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ أَهْلَكْنَـٰهُمْ ۖ

يا قوم د تبع ، او هغه کسان چې مخکښې د دوی نه وو ، هلاک کړي وو مونږه دوی لره

إِنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ

يقينًا وو دوی مجرمان • او نه دي پيدا کړي مونږه آسمانونه

وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَـٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَـٰهُمَآ

او زمکي او هغه چې په مينځ د دي دواړو کښې دي عبثے کونکي • نه دي پيدا کړي مونږه دي لره

إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوْمَ

مګر د پاره د ښکاره کولو د حق ليکن اکثر د دوی نه نه پوهيږي • يقينًا ورځ د

ٱلْفَصْلِ مِيقَـٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي

جدائي وخت د دوی دے د تولو • (ياد که) هغه ورځ فائده به ورنه کي

مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا

يو دوست د بل دوست نه هيڅ شي او نه به د دوی امداد اوکړے شي • مګر

مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾ إِنَّ

هغه څوک چې رحم پرې اوکي الله ، يقينًا دا الله دے غالب مهربان • يقينًا

شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَٱلْمُهْلِ ۛ يَغْلِي

اونه د زقوم • دا طعام د ګناهګارو دے • په شان د تانبے ويلي شوي ، جوش به وهي

فِي الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ

په خېټو کښې * په شان د جوش د ګرمو اوبو * اونیسئ ده لره نو اوشړئ ده لره

اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ رَاْسِهٖ

مینځ د جهنّم ته * بیا واړوئ د پاسه د سر د ده نه

مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۸﴾ ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ

د عذاب د ګرمو اوبو نه * اوڅکه، یقینًا ته وې زورآور

الْكَرِيْمُ ﴿۴۹﴾ اِنَّ هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾

عزتمند * یقینًا دا (جهنّم) هغه دے چې تاسو په هغې کښې شک کو *

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿۵۱﴾ فِيْ جَنّٰتٍ

یقینًا متقیان خلق په ځایونو د امن کښې به وي * په باغونو

وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۲﴾ يَّلْبَسُوْنَ مِنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

او چینو کښې * دوی به اغوندي د نرو ریښمو او د غټو ریښمو نه (واسکټونه)

مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۵۳﴾ كَذٰلِكَ ۚ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۵۴﴾

یو بل ته به مخامخ ناست وي * دا رنګې یو ځائې به کو مونږه دوی لره حورې د غټو سترګو والا *

يَدْعُوْنَ فِيْهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ

راغواړي به دوی په دې جنت کښې هر قسمه میوے په امن باندې به * نه به څکې دوی

فِيْهَا الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰهُمْ عَذَابَ

په دې کښې مرګ مګر هغه مرګ رومبنے، او بچ به کې (الله) دوی لره د عذاب د

الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

جهنّم نه * دا فضل دے د طرفه د رب ستا نه ، دا دے کامیابي

الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ

لویٔ * یقینًا مونږه آسان کړے دے دا قرآن په ژبه ستا باندې خامخا چې دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَذَكَّرُوْنَ ۝٥٨ فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ۝٥٩

پند واخلي * نو انتظار كوه يقينًا دوی دي انتظاركونكي *

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ — اٰياتها ٣٧ — تدوين ٤٥ نزول ٦٥ — ركوعاتها ٤

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

الله پوهيږي په معنی د دې حروفو * راتلل د دې كتاب د طرفه د الله نه دي چې غالب

الْحَكِيْمِ ۝٢ اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ

حكمت والا دے * يقينًا په آسمانونو او زمكه كښې خامخا نښې دي

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٣ وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ

د پاره د مومنانو * او په پيدائش ستاسو او هغه كښې چې خورئ يعني

دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۝٤ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ

زنده سر نښې دي د پاره د هغه قوم چې يقين ساتي * او په بدليدو د شپې

وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ

او د ورځے كښې او هغه چې راوريږ الله د بره نه څه رزق (باران سبب رزق)

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ

نو تازه كړې په دې سره زمكه پس د اوچ والي د دې نه او په چلولو د بادونو كښې

اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٥ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا

نښې دي د پاره د هغه قوم چې عقل نه كار اخلي * دا آيتونه د الله دي لولو مونږه دي لره

عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَ

په تا باندې د پاره د اظهار حق ، پس په كوم يو بيان باندې پس د الله نه او

اٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝٧

آيتونو د الله نه دوی به ايمان راوړي * هلاكت دے د پاره د هر يو دروغژن غټ گناهكار *

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ

ربط د سورت الجاثية :

(١) دمخکښې سورت ابتداء کښې ترغیب الی القرآن وودلته ابتداء کښې هم ترغیب الی القرآن دے.

(٢) مخکښې سورت آیت ٥٨ کښې قرآن کریم ته ترغیب وو دلته آیت ٣١ کښې معرضینو د قرآن ته زجر ورکئ .

(٣) مخکښې سورت آیت ٨ کښې مسئله د توحید په عنوان د اله ذکر شوه دلته آیت ٣٦ کښې ئې په عنوان دحمد ذکر کړې .

امتیازات د سورت الجاثية :

(١) سورت ممتاز دے په ترغیب الی القرآن باندې مرارًا .

(٢) په خصوصي زجر معرضینو د قرآن ته ،آیت ٧تا ٨ .

(٣) په نفی د مساوات بین المؤمنین والمجرمین آیت ٢١.

دعویٰ د سورت الجاثية :

رد د شبهې د مشرکینو چې هغوی وئیل مونږ خپلو مشرانو پسې روان يو .

خلاصه د سورت الجاثية :

دې سورت کښې د لسې شبهې جواب دے چې دوی وئیل مونږ مشرانو پسې روان يو

آیت١٨ دارنګه مشرکینو ته تخویف او زجر ورکوي . ترغیب الی القرآن او بشارت مؤمنانو ته

اویه مسئلې د توحید باندې دلائل پیش کړې .

Maktaba Tul Ishaat.com

يَّسۡمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتۡلٰى عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرًا

اوري آیتونه د الله چې لوستلے شي په ده باندې بیا ګرځي دے تکبر کونکے

كَاَنۡ لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا ۚ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝٨ وَ

ګویا چه نه دي اوریدلي ده دا آیتونه، نو زیرے ورکه ده ته په عذاب دردناک باندې* او

اِذَا عَلِمَ مِنۡ اٰيٰتِنَا شَيۡـًٔا اتَّخَذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ

کله چې معلوم کي د آیتونو زموږ نه څه شے نیسي هغې لره په ټوقو باندې، دغه کسان

لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ؕ ۝٩ مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُ ۚ

دوی لره دے عذاب سپکونکے* آخـوا د دوی نه جهنم دے،

وَلَا يُغۡنِىۡ عَنۡهُمۡ مَّا كَسَبُوۡا شَيۡـًٔا وَّلَا مَا اتَّخَذُوۡا

او هیڅ فائده به ورنه کي دوی ته هغه چې دوی کسب کړي وو ذره بر او نه هغه چې نیولي وو دوی

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡلِيَآءَ ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ؕ ۝١٠

سـوا د الله نه مددګاران، او دوی لره عذاب دے لوئي*

هٰذَا هُدًى ۚ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ

دا بیان د هدایت دے، او هغه کسان چې کفر ئي کړے دے په آیتونو د رب خپل دوی لره

عَذَابٌ مِّنۡ رِّجۡزٍ اَلِيۡمٌ ۝١١ اَللّٰهُ الَّذِىۡ سَخَّرَ

عذاب به ئي د عذاب دردناک نه* الله هغه ذات دے چې تابع کړے ئي دے

لَكُمُ الۡبَحۡرَ لِتَجۡرِىَ الۡفُلۡكُ فِيۡهِ بِاَمۡرِهٖ وَلِتَبۡتَغُوۡا

ستاسو د پاره درياب دي د پاره چې ځي کشتۍ په دې کښې په حکم د الله او دې د پاره چې اولټوئ تاسو

مِنۡ فَضۡلِهٖ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۚ ۝١٢ وَسَخَّرَ لَكُمۡ

د فضل د الله نه او خامخا چې تاسو شکر اوباسئ* او تابع کړي ئي دي ستاسو د پاره

مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا مِّنۡهُ ؕ

هغه چې په آسمانونو کښې دي او هغه چې په زمکو کښې دي ټول د خپل طرف نه(۱)

(۱) عقیده اوساتئ چې دا ټول د طرفه د الله نه دي.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾ قُلْ

يقيناً به دي كښې خامخا نخښې دي د پاره هغه قوم چې سوچ او فكر كې • او وايه

لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَغْفِرُوْا لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ

هغه كسانو ته چې ايمان ئې راوړے دے چې مخ واړئ د هغه كسانو نه چې عقيده نه ساتي د عذابونو د

اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾ مَنْ

الله دي د پاره چې بدله وركړي يو قوم ته په سبب د هغه چې دوی كسب كول • چا چې

عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَ مَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؗ

عمل اوكه نيک نو فائده ئې ده د پاره د خپل ځان ، او چا چې بد عمل اوكه نو سزا ئې په هغه ده

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿١٥﴾ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ

بيا رب ستاسو ته تاسو به واپس كړے شئ • او تحقيق سره وركړے وو مونږه بني

اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَ الْحُكْمَ وَ النُّبُوَّةَ وَ رَزَقْنٰهُمْ

اسرائيلو ته كتاب او عقلمندي او نبوت او رزق وركړے وو مونږ دوی ته

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَ فَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ۚ وَ

د پاكو نه او غوره كړي وو مونږ دوی لره په مخلوقات د خپلے زمانے • او

اٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا

وركړي وو مونږه دوی ته واضحه احكام د دين ، نو دوی اختلاف اونه كه مگر

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ۙ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّ

پس د هغه نه چې راغلے دوی ته علم ، د وجې د ضد (او عناد) نه په خپل مينځ كښې ، يقيناً

رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

رب ستا فيصله به اوكړي په مينځ د دوی كښې په ورځ د قيامت په هغه څه كښې چې دوی

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ

به هغې كښې اختلاف كو • بيا گرځولے دے مونږه تا لره په يو واضحه طريقه باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَ لَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ

د دين نه نو د هغې تابعداري کوه او تابعداري مه د خواهشاتو د هغه کسانو

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ

چې نه پوهيږي • يقينًا دوی هيڅ کله فائده نه شي درکولے تا ته د

اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ

عذاب د الله نه د څه شي، او يقينًا ظالمان بعضي د دوی نه دوستان د

بَعْضٍ ۚ وَ اللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩﴾ هٰذَا بَصَآئِرُ

بعضو دي، او الله دوست دے د پرهيزګارانو • دا (قرآن) دلائل دي

لِلنَّاسِ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٢٠﴾

د پاره د خلقو او هدايت او رحمت دے د پاره د هغه قوم چې يقين ساتي •

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ

آيا ګمان کړی هغه کسان چې کړي بد اعمال دا چې

نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ

او به ګرځوو مونږه دوی لره په شان د هغه کسانو چې ايمان ئې راوړے دے او عمل کړی نيک

سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَ مَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾ ع ١٨

آيا برابر دے ژوند د دوی او مرګ د دوی ؟ بد دے هغه چې دوی فيصلې کړي •

وَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَ

او پيدا کړي دي الله آسمانونه او زمکې د پاره د اظهار د حق

لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ وَ هُمْ لَا

دي د پاره چې بدله ورکړے شي هر يو نفس ته په سبب د هغه چې کسب کړي دي او دوی باندي به

يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ

ظلم او نه کړے شي • آيا خبر ئې ته د هغه چا نه چې وے نيوه خپل خواهش لره اله خپل

وَ اَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلۡمٍ وَّ خَتَمَ عَلٰى سَمۡعِهٖ

او ګمراه کړے دے دہ لره الله سره د حٓپل علم نه او مهر ئي اوهه په غوږونو د ده باندي

وَ قَلۡبِهٖ وَ جَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنۡ

او په زړه د ده باندي او ګرځولي ئي دي په سترګو د ده باندي پردي ، پس څوک دے چي

يَّهۡدِيۡهِ مِنۡۢ بَعۡدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۳﴾

لار به سمه کړي ده ته پس د الله نه ، نو ولے تاسو پند نه اخلئ *

وَ قَالُوۡا مَا هِىَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنۡيَا نَمُوۡتُ وَ

او وائي دوی نه دے دا مګر ژوند زمونږه د دنيا دے مره کيږو مونږه (مشران) او

نَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَاۤ اِلَّا الدَّهۡرُ ۚ وَمَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ

ژوندي کيږو مونږ (کشران) او نه هلاکوي مونږه لره مګر زمانه ، او نشته دوی لره په دي باندي

مِنۡ عِلۡمٍ ۚ اِنۡ هُمۡ اِلَّا يَظُنُّوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَ اِذَا تُتۡلٰى

څه پوهه ، نه دي دوی مګر ګمان پسي روان دي * او کله چي اولوستے شي

عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُنَا بَيِّ ... مَّا كَانَ حُجَّتَهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ

په دوی باندي آيتونه زمونږه ... نه وي دليل د دوی مګر دا

قَالُوا ائۡتُوۡا بِاٰبَ... اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۵﴾

چي وائي دوی راولئ زمونږه مشران که يئ تاسو رشتيني *

قُلِ اللّٰهُ يُحۡيِيۡكُمۡ ثُمَّ يُمِيۡتُكُمۡ ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ

اووايه الله ژوندي کړي تاسو لره بيا به مړه کړي تاسو لره بيا به راجمع کړي تاسو

اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ وَ لٰـكِنَّ اَكۡثَرَ

ورځ د قيامت ته چي نشته شک په دي کښي ليکن اکثر

النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۶﴾ وَ لِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ

خلق نه پوهيږي * او خاص الله لره بادشاهي د آسمانونو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْاَرْضِ ۗ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَىِٕذٍ

او د زمکو، او په هغه ورځ چې قائم به شي قیامت په دغه ورځ

يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ

تاوانیان به شي باطل پرست • او وینې به ته هر یو امت

جَاثِيَةً ۫ كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ۗ اَلْيَوْمَ

پر مخې هر یو امت رابللې به شي عمل نامې خپلې ته (وئیلې به شي ورته)، نن ورځ

تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا

بدله درکولې شي تاسو ته هغه چې تاسو عمل کولو • دا کتاب زمونږه دے

يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۗ اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا

بیان کې په تاسو باندې په رشتیا سره • یقینًا مونږه لیکل هغه چې

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

تاسو عملونه کول • پس هر چې هغه کسان دي چې ایمان ئې راوړے دے او عمل کړ

الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۗ

نیک نو دننه به کې دوي لره رب د دوي په رحمت خپل کښې

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

دا دے کامیابي ښکاره • او هر چې هغه کسان دي

كَفَرُوْا ۫ قف اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ

چې کفر ئې کړے دے آیا نه وو آیتونه زما چې لوستلې شو په تاسو باندې

فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا

نو تاسو ځان غټ ګڼړلے وو او وئ تاسو یو قوم مجرمان • او

قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ

او به وئیلې شي یقینًا وعده د الله حقه ده او قیامت نشتې دے شک

فِيهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِىْ مَا السَّاعَةُ ۙ إِنْ نَّظُنُّ إِلَّا

په دي کښې ونیل به تاسو مونږ ته پته نشته چې څه شی دے قیامت، مونږ یقین نه کوو مګر

ظَنًّا وَّ مَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَ بَدَا لَهُمْ

ګمان او نه یو مونږه یقین کونکي ⋆ او ښکاره به شي دوی ته

سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَ حَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

سزاګانې د هغه عملونو چې دوی کړي وو او واقع به شي په دوی باندې هغه چې دوی هغې پورې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَ قِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا

توقې کولې ⋆ او اوبه وئیلے شی نن ورځ پریخودئ مونږ تاسو لکه څنګه چې

نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَ مَا

هیر کړے وو تاسو ملاقات د ورځې ستاسو چې دا ده او ځائے ستاسو دے اورر او نه به وي

لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ

ستاسو د پاره څوک امدادیان ⋆ دغه عذابونه په دي وجه چې تاسو نیولې وو آیتونه

اللّٰهِ هُزُوًا وَّ غَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ

د الله په توقه باندې او په دهوکه کې اچولې وئ تاسو ژوند د دنیا، پس نن ورځ

لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَ لَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٣٥﴾

نه به اوباسلے شي دوی د دې نه او نه به د دوی ملامتیا قبول کړے شي ⋆

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَ رَبِّ الْاَرْضِ

پس خاص الله لره حمدونه دي چې رب د آسمانونو او رب د زمکو دے

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَ لَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ

رب د مخلوقات ⋆ او دي الله لره لوئي ده په آسمانونو



وَ الْاَرْضِ ۪ وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٣٧﴾

او زمکو کښې او دا الله غالب حکمت والا دے ⋆

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تدوين ٣٦ نزول ٦٦ | اٰيَاتُهَا ٣٥ | رُكُوْعَاتُهَا ٤

حٰمٓ ۞۱ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

الله پوهیږي په معنی د دي حروفو * راتلل د کتاب د طرفه د الله نه دي چي غالب

الْحَكِيْمِ ۞۲ مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ

حکمت والا دے * نه دي پیدا کړي مونږه آسمانونه او زمکي

وَ مَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَ اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

او هغه چي په مینځ د دي کښي دي مګر د پاره د اظهار حق او نیټي مقرري پوري ،

وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ۞۳

او هغه کسان چي کفر ئي کړے دے د هغه څه نه چي ډرولے شي دوی (هغې نه) مخ اړونکي دي *

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او وایه آیا خبر یئ تاسو د هغه نه چي رامدد کوئ ئي تاسو سیوا د الله نه

اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ

اوښایئ ما ته چي دوی څه پیدا کړي دي د زمکے نه یا شته دوی لره

شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ؕ اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ

څه برخه د الله سره په اسمانونو کښي ، راوړئ ما ته کتاب

قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ

مخکښي د دي نه یا یو نښه د علم (د پخوانو) که یئ تاسو

صٰدِقِيْنَ ۞۴ وَ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا

رشتینې * او څوک دے ډیر زیات ګمراه د هغه چا نه چي رامدد کړي

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى

سیوا د الله نه هغه څوک چي قبولیا نه شي کولے ده لره تر

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ

ربط د سورت الاحقاف:

(۱) د مخکښې سورت ابتداء کښې ترغیب الی القرآن وو دلته هم ابتداء کښې ترغیب الی القرآن دے.

(۲) مخکښې سورت آیت ۱۸ کښې شبهه د مشرکینو رد شوه دلته آیت ۲۸ کښې بله شبهه د مشرکینو رد کیږي.

(۳) مخکښې سورت آیت ۲۲ کښې د آسمانونو او د زمکو د پیدائش ذکر اوشه دلته آیت ۳ کښې په هغې باندې زیادت او ترقي ده.

امتیازات د سورت الاحقاف:

(۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د لفظ احقاف باندې.

الۡاِحۡسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾

جنت* پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گڼئ (اے پیریانو او انسانانو)*

وَمِنۡ دُوۡنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

او علاوه د دې دواړو نه باغونه دي* پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۳﴾ مُدۡهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * تک تور (د وجې دګورولې نه) پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾ فِیۡهِمَا عَیۡنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾ فَبِاَیِّ

دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * په دې دواړو کښې چینے دې فواره کونکې * پس کوم یو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾ فِیۡهِمَا فَاكِهَةٌ وَّ نَخۡلٌ

نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * په دې دواړو کښې به میوې او کهجورې

وَّ رُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾

او انار وي * پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) *

فِیۡهِنَّ خَیۡرٰتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

په دې کښې غوره ښځې به وي ښائسته * پس کوم یو نعمت د نعمتونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوۡرٌ مَّقۡصُوۡرٰتٌ فِی

د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * حورې بندے شوے به وي په

الۡخِیَامِ ﴿۷۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۳﴾

خیمو کښې * پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) *

لَمۡ یَطۡمِثۡهُنَّ اِنۡسٌ قَبۡلَهُمۡ وَ لَا جَآنٌّ ﴿۷۴﴾

نه به وي ملاو شوے دوی سره انسان مخکښې د دوی نه او نه پیرے *

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۵﴾ مُتَّكِـِٕیۡنَ عَلٰی

پس کوم یو نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * ډډه لګونکې به وي په

رَفۡرَفٍ خُضۡرٍ وَّ عَبۡقَرِیٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَیِّ

قالینونو شنو او په بالختونو ښائستو باندې * پس کوم یو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾ تَبٰرَكَ اسۡمُ رَبِّكَ

نعمت د نعمتونو د رب ستاسو دروغ به گنړئ (اے پیریانو او انسانانو) * نو برکت اچونکے دے ذات د رب ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

ذِى الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۷۸﴾

چې خاوند د بزرگۍ او د عزت دے *

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ — اٰيَاتُهَا ۹۶ — رُكُوْعَاتُهَا ۳ — ترتیب ۵۶ — نزول ۴۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

کله چې واقع شي واقع کیدونکے (قیامت) * نشته په واقع کیدو د دې قیامت کښې

كَاذِبَةٌ ﴿۲﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿۳﴾ اِذَا رُجَّتِ

دروغ * ښکته کونکې به وي (يو قوم لره) او اوچتونکې به وي (بل قوم لره) * کله چې اوجر کولے شي

الْاَرْضُ رَجًّا ﴿۴﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾

زمکه په جر کولو سره * او ذره ذره کړے شي غرونه په ذره ذره کولو سره *

فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿۶﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا

نو شي به دا غرونه غبار خور شوے * او شئ به تاسو ډلې

ثَلٰثَةً ﴿۷﴾ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

درې * نو ښي لاس والا ، څه لوئے شان دے د

الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾ وَاَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

ښي لاس والو * او ګس لاس واله ، څه بد حال دے د

الْمَشْئَمَةِ ﴿۹﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ﴿۱۰﴾ اُولٰٓئِكَ

ګس لاس والو * او مخکښې کیدونکې (دین د الله ته) مخکښې کیدونکې به وي (جنت ته) دغه کسان

الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۱۱﴾ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۱۲﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ

نزدیکان دي (الله ته) * په جنتونو نعمتدارو کښې به وي * يو ډله د

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۴﴾ عَلٰى

رومبنو (امتونو) نه * او لږ د روستنو نه (امت محمدیه) * په

سُوۡرَةُ الۡوَاقِعَةِ

ربط د سورت الواقعة :

(١) مخکښې سورت کښې بشارت ذکر شو نو دابشارت به د چا د پاره وي دلته آيت ١٣، ١٤، کښې هغه خلق ذکر کړ .

(٢) مخکښې سورت کښې عذابونه د جهنم ذکر شو دلته آيت ٤٥ تا ٤٨ کښې علتونه د عذاب د دوی ذکر کيږي .

(٣) مخکښې سورت ابتداء کښې ترغيب الى القرآن وو دلته آيت ٧٧، تا ٨٠، کښې هم ترغيب الى القرآن دے .

امتيازات د سورت الواقعة :

(١) سورت ممتاز دے په ذکر دنوم د قيامت چې الواقعه دے .

(٢) په بيان د ډيرو نعمتونو د جنت باندي .

(٣) په ذکر داحوالو اواقسامو دمتقيانوباندي آيت ٧.

دعوي د سورت الواقعة : اثبات د توحيد تفريعًا على ما سبق .

خلاصة د سورت الواقعة : سورت کښې څلور خبري ذکرکيږي :

{١} ـ اثبات د قيامت سره دعلاماتو د قيامت نه .

{٢} دوه قسمونه د خلقو ١، متقين .

٢، مجرمين، او د دواړو دلو اوصاف ذکر کيږي .

{٣} دلائل عقليه .

{٤} دوه ځله دعوىٰ د سورت آيت ٧٤. ٩٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا

هغه کټونو اودلے شوو (په سرو زرو) * ددوه لګونکي به وي په دي باندي

مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

يو بل ته مخامخ به ناست ئي * ګرځي به د پاره د خدمت د دوی هغه هلکان

مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾ بِاَكْوَابٍ وَّ اَبَارِيْقَ ۙ وَ كَاْسٍ

چي هميشه به هلکان وي * (راوړي به) کبونه او جګونه ، او پيالے

مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَ لَا

ډکے د شرابو * نه به سردردے راوستلے شوے وي په دوی باندي د دي نه او نه به

يُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَ فَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿٢٠﴾

دوی دي نه بد خوا کيږي * او (راوړي به) ميوے د هغه څه نه چي غوره کئ دوی *

وَ لَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢١﴾ وَ حُوْرٌ

او غوښے د مارغانو د هغه څه نه چي دوی ئي غواړي * او (دوی لره) حورے

عِيْنٌ ﴿٢٢﴾ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ

د غټو سترګو والا دي * په شان د ملغلرو محفوظ کړے شوو (ګرد وغبار نه) * (ورکولے به شي) بدله

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا

د هغه څه چي دوی کول * نه به اوري دوی په دي کښي فضول خبره

وَّ لَا تَاْثِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَ اَصْحٰبُ

او نه د خفګان خبره * مګر وينا به وي سلام سلام (خوشحاله شئ خوشحاله شئ) او د

الْيَمِيْنِ ۙ مَاۤ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿٢٧﴾ فِيْ سِدْرٍ

ښي لاس والا ، څه ښه حال دے د ښي لاس والو * په بيرو

مَّخْضُوْدٍ ﴿٢٨﴾ وَّ طَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّ ظِلٍّ

بے ازغـو * او په هغه کيلو د يو بل د پاسه کړے شوو کښي * او په آرام

مَّمۡدُوۡدٍ ﴿۳۰﴾ وَّ مَآءٍ مَّسۡكُوۡبٍ ﴿۳۱﴾ وَّ فَاكِهَةٍ

اوږد * او په اوبو فواره وهونکو کښي * او میوو

كَثِيۡرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقۡطُوۡعَةٍ وَّ لَا مَمۡنُوۡعَةٍ ﴿۳۳﴾

ډیرو کښي به وي * نه به وي ختمیدونکے (دا میوې) او نه به وي منع شوے *

وَّ فُرُشٍ مَّرۡفُوۡعَةٍ ﴿۳۴﴾ اِنَّآ اَنۡشَاۡنٰهُنَّ اِنۡشَآءً ﴿۳۵﴾

او بسترې دنګې دنګې * یقینًا مونږه پیدا کړي دي دوی لره په پیدا کولو سره *

فَجَعَلۡنٰهُنَّ اَبۡكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا اَتۡرَابًا ﴿۳۷﴾

نو ګرځولے دي مونږه دوی لره پیغلې * مینداري همزولې (د خاوندانو) *

لِّاَصۡحٰبِ الۡيَمِيۡنِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۳۹﴾

د ښي لاس والو د پاره * یوه ډله به وي د رومبنو خلقو نه *

وَ ثُلَّةٌ مِّنَ الۡاٰخِرِيۡنَ ﴿۴۰﴾ وَ اَصۡحٰبُ الشِّمَالِ ۙ

او بله ډله به وي د روستنو خلقو نه * او هغه ګس لاس والا ،

مَآ اَصۡحٰبُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِيۡ سَمُوۡمٍ وَّ حَمِيۡمٍ ﴿۴۲﴾

څه بد حال دے د ګس لاس والو * په ګرمه هوا او ګرمو اوبو کښي به وي *

وَّ ظِلٍّ مِّنۡ يَّحۡمُوۡمٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَّ لَا كَرِيۡمٍ ﴿۴۴﴾

او سوري د لوګي کښي به وي * چي نه به وي یخ او نه به وي د عزت والا *

اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَبۡلَ ذٰلِكَ مُتۡرَفِيۡنَ ﴿۴۵﴾

یقینًا وو دوی مخکښي د دي نه مستي کونکي *

وَ كَانُوۡا يُصِرُّوۡنَ عَلَى الۡحِنۡثِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۴۶﴾

او دوی به همیشګیري کوله په ګناه (شرک) لوئے باندي *

وَ كَانُوۡا يَقُوۡلُوۡنَ ۙ اَئِذَا مِتۡنَا وَ كُنَّا تُرَابًا

او دوی به وئیل : آیا کله چي مړه شو مونږه او شو مونږه خاورے

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ عِظَامًا ءَ اِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَوَ اٰبَآؤُنَا

او هډوکي آیا موږه خامخا دوباره به راپورته کړے شوو * او مشران زمونږه

الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَ

رومبني * اووايه يقينًا رومبني او

الْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ اِلٰى مِيْقَاتِ

روستني (خلق) * خامخا راجمع به کړے شي ، ملاقات

يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ

د ورځے مقررے نه * بيا يقينًا تاسو اے ګمراهانو

الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿٥١﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ

تکذيب کونکو * خامخا خوړونکي به يئ د ونې د

زَقُّوْمٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَشٰرِبُوْنَ

زقوم نه * پس ډکونکي به يئ د هغې نه خيټو لره * نو څکونکي به يئ

عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿٥٤﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ

د هغې د پاسه د ګرمو اوبو نه * نو څکونکي به يئ په شان د څکلو د

الْهِيْمِ ﴿٥٥﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ

مرضي اوښ * دا ميلمستيا د دوي ده په ورځ د قيامت * مونږه

خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْ لَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَرَءَيْتُمْ

پيدا کړي يئ تاسو نو ولې تاسو تصديق نه کوئ * خبر راکړئ ما ته

مَّا تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ

د هغه نطفے چې تاسو ئې غورځوئ (په رحمونو د مادو کښې) * آيا تاسو جوړوئ دې لره يا مونږه يو

الْخٰلِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ

جوړونکي * مونږه اندازه کړے ده په مينځ ستاسو کښې مرګ

وَ مَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوۡقِيۡنَ ﴿٦٠﴾ عَلٰٓى اَنۡ نُّبَدِّلَ

او نه يو مونږه كمزوري * په دي خبره باندي چي بدل كښي راولو

اَمۡثَالَكُمۡ وَ نُنۡشِئَكُمۡ فِىۡ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٦١﴾

ستاسو غوندي او پيدا كوو مونږه تاسو لره په هغه څه كښي چي تاسو ورباندي نه پوهيږئ *

وَ لَقَدۡ عَلِمۡتُمُ النَّشۡاَةَ الۡاُوۡلٰى فَلَوۡ لَا

او تحقيق سره پيژنئ تاسو پيدائش رومبني نو ولے

تَذَكَّرُوۡنَ ﴿٦٢﴾ اَفَرَءَيۡتُمۡ مَّا تَحۡرُثُوۡنَ ﴿٦٣﴾ ءَاَنۡتُمۡ

پند نه اخلئ تاسو * خبر راكړئ ما ته د هغه چي كرونده كوئ تاسو * آيا تاسو

تَزۡرَعُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ الزّٰرِعُوۡنَ ﴿٦٤﴾ لَوۡ نَشَآءُ

زرغونوئ دي لره يا مونږه زرغونونكي يو * كه خوښه شي زمونږه

لَجَعَلۡنٰهُ حُطَامًا فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُوۡنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا

خامخا اوبه گرځوو مونږه دي لره اوچ نو اوبه گرځئ تاسو غمژن *(وايئ به) يقينًا مونږه

لَمُغۡرَمُوۡنَ ﴿٦٦﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُوۡمُوۡنَ ﴿٦٧﴾

خامخا قرض داري كړے شو * بلكه مونږه محرومه كړے شو *

اَفَرَءَيۡتُمُ الۡمَآءَ الَّذِىۡ تَشۡرَبُوۡنَ ﴿٦٨﴾ ءَاَنۡتُمۡ

خبر راكړئ ما ته د اوبو هغه چي تاسو يې څښكئ * آيا تاسو

اَنۡزَلۡتُمُوۡهُ مِنَ الۡمُزۡنِ اَمۡ نَحۡنُ الۡمُنۡزِلُوۡنَ ﴿٦٩﴾

راوروئ دي لره د سپينے وريځے نه يا مونږه يو راوروونكي *

لَوۡ نَشَآءُ جَعَلۡنٰهُ اُجَاجًا فَلَوۡ لَا تَشۡكُرُوۡنَ ﴿٧٠﴾

كه خوښه شي زمونږه اوبه گرځوو دي لره تروے نو ولے تاسو شكر نه اوباسئ *

اَفَرَءَيۡتُمُ النَّارَ الَّتِىۡ تُوۡرُوۡنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنۡتُمۡ

خبر راكړئ ما ته د اوور هغه چي بلوئ يې تاسو * آيا تاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ۝٧٢

پیدا کړے ده اونه د دي یا یو مونږه پیدا کونکي *

نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّ مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ۝٧٣

مونږه ګرځولے دے دا اوور یاداشت (د پاره د اوور د جهنم) او ګټه (فائده) د پاره د مسافرو *

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝٧٤ فَلَآ اُقْسِمُ

نو پاکي بیانوه د ذات د رب ستا چي لوئے دے * ندے داسے کار څنګه چي د مخلوق ګمان دے زه شاهد کوم

بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ۝٧٥ وَ اِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ

ځایونه د پریوتو د ستورو * او یقینًا دا خامخا شهادت دے که تاسو پوهیږئ

عَظِيْمٌ ۝٧٦ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ۝٧٧ فِيْ كِتٰبٍ

لوئے * یقینًا دا خامخا قرآن دے د عزت نه ډک * په لوح

مَّكْنُوْنٍ ۝٧٨ لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ۝٧٩

محفوظ کښي * لاس به نه وروړي دي لره مګر پاکان خلق *

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٨٠ اَفَبِهٰذَا

راتلل (د دي کتاب) د طرفه د رب د مخلوقات دي * آیا په دي

الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ۝٨١ وَ تَجْعَلُوْنَ

بیان باندي تاسو سستي کوئ * او ګرځوئ تاسو

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ۝٨٢ فَلَوْ لَآ اِذَا بَلَغَتِ

رزق خپل (غیر الله نه) یقینًا تاسو تکذیب کوئ * نو ولے نه کله چي اورسیږي (ساهونه)

الْحُلْقُوْمَ ۝٨٣ وَ اَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ۝٨٤

مرو (مرکندونو) ته * او تاسو په دغه وخت کښي ګـــورئ *

وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَ لٰكِنْ لَّا

او مونږه ډیر نزدي یو دي (قریب الموت) ته ستاسو نه لیکن تاسو نه

تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْ لَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ

وینئ • نو ولې که نه يئ تاسو د چا په قبضه کښې

مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾

(بدله نه درکړے شوي) • نه واپس کوئ تاسو دې لره که يئ تاسو رشتيني •

فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ فَرَوْحٌ

پس که وي دے د نزدیکانو نه • نو ده لره خوشحالي ده

وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ

او خوشبوئي ده، او جنت د نعمتونو دے • او که وي دے

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ

د ښي لاس والو نه • نو (ورته به اوئيلے شي) سلامتيا ده تا لره د

اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ

ښي لاس والو نه • او که وي دے د

الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۹۲﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۹۳﴾

د تکذیب کونکو گمراهانو نه • نو (ده لره) میلمستیا ده د گرمو اوبو •

وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿۹۴﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۹۵﴾

او دننه کیدل دي جهنم ته • یقینًا دا خامخا حق یقیني دے •

ع

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۹۶﴾

نو پاکي بیانوه د ذات د رب ستا چي لوئے ذات دے •

آیاتها ۲۹ | سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ترتیبها ۵۷ نزولها ۹۴ | رکوعاتها ۴

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَ

پاکي بیانوي الله لره هغه مخلوقات چي (پره) آسمانونو او (ښکته) زمکو کښې دي، او

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ

تنبیه : دے ځای نه تر سورة التحریم پورې لسو سورتو نو کښې دوه مسئلې ذکر کیږي :
١ـ جهاد .٢ ـ انفاق . پدې لسو سورتو نوکښې پنځه مصدردې په

ربط د سورت الحدید :

(١) مخکښې سورت ختم بالتسبیح وو دا سورت بالتسبیح شروع کیږي .

(٢) مخکښې سورت کښې ذکر شو چې برکتونه الله رب العزت اچی دلته ترغیب الی الانفاق ورکړی .

(٣) مخکښې آخر کښې امر بالتسبیح نو دلته علت د تسبیح ذکر کیږي .

امتیازات د سورت الحدید :

(١) سورت ممتاز دے په ترغیب الی الانفاق بالوجوه الخمسه .

(٢) په ذکر د دیوال باندې په مینځ د مؤمنانو اومنافقانو کښې آیت ١٣.

(٣) په دې وینا د منافقانو باندې مؤمنانو ته انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ.

دعوی د سورت الحدید : الترغیب الانفاق والقتال

خلاصه د سورت الحدید : : سورت دوه حصې دے : اوله حصه . آیت ١ نه تر ٢٤ پورې ، پدیکښې اول مسئله د توحید بیا ترغیب الی الانفاق بالوجوه الخمسه ذکر کیږي : {١} وجه .آیت ٧ کښې دا مال ستا نه بلکه د الله دے ته ئے پرې یو څو ورځو له کینولے ئے نوخرچ ئې که . {٢} وجه آیت ١٠ ، دامال به هسې الله ته پاتې کیږي تاسوبه ترینه څې نوخرچ ئې که {٣} وجه .آیت ١١ کښې ، دامال الله لره قرضورکه الله رب العزت به ئے درله دوچند کړي.

{٤} وجه آیت ٢٠ کښې ، حقیقت د مال اوګوره لوبے اوعبثے دی .{٥} وجه آیت ٢٢ کښې ،که مال تاسو دې له ساتلے وي چې مصیبت به درنه لرې کړي نو مصیبت درنه لرې کولے نه شې.

بیا آیت ٢٤ کښې بخلاؤ ته زجر اوتوبیخ ورکوي .

دویمه حصه . آیت ٢٥ نه ترآخره پورې ، دیکښې ترغیب الی الجهاد اوزجر قاعدینو دجهاد او اختیارؤنکو د رهبانیت ته .

هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

دا الله غالب حکمت والا دے* د دي الله اختيار کښي بادشاهي د آسمانونو

وَ الْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ۚ وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ

او د زمکو ده، ژوندي کول او مړه کول کي، او دا الله په هر يو

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٢ هُوَ الْاَوَّلُ وَ الْاٰخِرُ وَ الظَّاهِرُ

شي باندي قدرت والا دے* دا الله وو مخلوق نه وو او دے به وي مخلوق به نه وي او ظاهر دے(١)

وَ الْبَاطِنُ ۚ وَ هُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝٣ هُوَ الَّذِيْ

او پټ دے(٢)، او دا الله په هر يو شي باندي پوهه دے* دا الله هغه ذات دے

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ

چي پيدا کړي ئي دي آسمانونه او زمکے په شپږو لمحو کښي

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي

بيا برابر دے په خپل سلطنت باندي (کما يليق بشانه) پوهيږي الله په هغه چي دننه کيږي په

الْاَرْضِ وَ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَ مَا يَنْزِلُ مِنَ

زمکه کښي او په هغه چي راوځي د زمکے نه او هغه چي را کوزيږي د

السَّمَآءِ وَ مَا يَعْرُجُ فِيْهَا ۚ وَ هُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ

بره نه او هغه چي خيژي دي آسمان ته، او دا الله تاسو سره دے چرته

مَا كُنْتُمْ ۚ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝٤ لَهٗ

چي يئ تاسو، او الله د هغه چي کوئ ئي تاسو ليدونکے دے* دي الله لره

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

بادشاهي د آسمانونو او د زمکو ده، او خاص الله ته واپس کولے شي

الْاُمُوْرُ ۝٥ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَ يُوْلِجُ النَّهَارَ

کارونه* دننه کي شپے لره په ورځ کښي او دننه کي ورځے لره

(١) په اعتبار د دلائلو (٢) د سترګو د مخلوقاتو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الَّيۡلِ ؕ وَ هُوَ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۶﴾
شپه کښې ، او دا الله پوهه دے په رازونو د سینو باندې *
اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَ رَسُوۡلِهٖ وَ اَنۡفِقُوۡا مِمَّا جَعَلَكُمۡ
ایمان راوړئ په الله او په پیغمبر د الله او خرچ اوکړئ د هغه نه چې گرځولي ئې يئ تاسو
مُّسۡتَخۡلَفِيۡنَ فِيۡهِ ؕ فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ
ناست په هغې باندې ، پس هغه کسان چې ایمان ئې راوړه ستاسو نه
وَ اَنۡفَقُوۡا لَهُمۡ اَجۡرٌ كَبِيۡرٌ ﴿۷﴾ وَ مَا لَكُمۡ لَا
او خرچ ئې اوکه دوی لره اجر لوئے دے * او څه شوي دي تاسو لره چې
تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ ۚ وَ الرَّسُوۡلُ يَدۡعُوۡكُمۡ
ایمان نه راوړئ په الله باندې ، او پیغمبر رابلي تاسو لره
لِتُؤۡمِنُوۡا بِرَبِّكُمۡ وَ قَدۡ اَخَذَ مِيۡثَاقَكُمۡ اِنۡ
چې ایمان راوړئ تاسو په رب ستاسو باندې او تحقیق سره اغستے ئې ده وعده ستاسو نه که
كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۸﴾ هُوَ الَّذِيۡ يُنَزِّلُ عَلٰى
يئ تاسو مومنان * دا الله هغه ذات دے چې رالیږي په
عَبۡدِهٖۤ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لِّيُخۡرِجَكُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ
بنده خپل باندې دلائل واضح دي د پاره چې اوباسي تاسو لره د تیارو (د بخل) نه
اِلَى النُّوۡرِ ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ بِكُمۡ لَرَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۹﴾
رڼرا (د انفاق) ته ، او یقینًا الله په تاسو باندې خامخا نرمي کونکے مهربان دے *
وَ مَا لَكُمۡ اَلَّا تُنۡفِقُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ
او څه شوي دي تاسو لره چې خرچ نه کوئ تاسو په لاره د الله کښې او خاص الله ته
مِيۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ لَا يَسۡتَوِيۡ
پاتې کیدل د آسمانونو او د زمکو دي ، نه دے برابر

مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ

ستاسو نه هغه څوک چي خرچ ئي اوکه مخکښي د غلبے نه او جنګ ئي اوکه،

اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا

دغه کسان لوئے درجے والا دي د هغه کسانو نه چي خرچ ئي اوکه

مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ

پس د فتح د مکے نه او جنګ ئي اوکه، او ټولو سره وعده کړي ده الله د جنت،

وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١٠﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ

او الله په هغه چي کوئ تاسو خبر دار دے٭ څوک دے هغه کس

يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ

چي ورکول اوکي الله ته ورکول ښائسته نو دوچند به کي دي لره د پاره د ده

وَ لَهٗۤ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ

او ده لره اجر عزتمند دے٭ (ياد که) هغه ورځ چي وينے به ته مومنانو سره

وَ الْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

او مومنانو ښځو لره چي منډي به وهي رڼړا د دوی مخکښي (او روستو) د دوی نه

وَ بِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ

او ښي (او ګس) طرف ته د دوی نه زيرے دے تاسو لره نن ورځ جنتونه چي بهيري به

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ

لاندي د (اونو د) هغې نه ويالے هميشه به ئي په دي کښي، دا

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ

هم دا دے کاميابے لوئے٭ (ياد که) هغه ورځ چي اوبه وائي منافقان سړي

وَ الْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ

او منافقانے ښځے هغه کسانو ته چي ايمان ئي راوړے دے اودريږئ مونږ ته چي واخلو مونږه

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ

د رڼا ستاسو نه ، اوبه وئيلے شي واپس لاړ شئ روستو ستاسو نه (دنيا ته)

فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ

نو اولټوئ رڼا ، نو اوبه وهلے شي په مينځ د دوی کښې يو ديوال دې د پاره به وي

بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَ ظَاهِرُهٗ مِنْ

دروازه ، دننه طرف د هغې کښې به رحمت وي او بهر طرف د هغې

قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۟ؕ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ

مخامخ د هغې کښې به عذاب وي * آواز به کړي (منافقان) دوی (مومنانو) ته آيا نه وو مونږ

مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ

تاسو سره (دنيا کښې ملګري) ، اوبه وائی دوی بے شکه ليکن تاسو ګند (نفاق) کښې اچولي وو خاتونه خپل

وَ تَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى

او تاسو انتظار کړے وو(١) او شک کړے وو تاسو (٢) او دهوکه کښې اچولي وئ تاسو اميدونو تر دې پورې

جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَ غَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾

چې راغلے حکم د الله (مرګ) او دهوکه کښې اچولي وئ تاسو په مقابله د الله کښې دهوکه باز (شيطان) *

فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّ لَا مِنَ

پس نن ورځ وابه نه غستے شي ستاسو نه فديه او نه د

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ

هغه کسانو نه چې کفر ئې کړے دے ، او ځائے ستاسو دے اوور ، دا لائق دے تاسو لره ،

وَ بِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

او بد ځائے د ورتلو دے (دا جهنم) * آيا نه دے راغلے وخت هغه کسانو ته چې ايمان ئې راوړے دے

اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَ مَا نَزَلَ

د دې خبرے چې عاجزي اوکي (په يره شي) زړونه د دوی ياد (کتاب) د الله ته او هغه ته چې راغلے دے

(١) د هلاک د مومنانو (٢) په احکامو د الله کښې

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا

د حق نه، او نه شي په شان د هغه کسانو چې ورکړے شوے دے ورته

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ

کتاب پخوا نو اوږده شوه په دوی باندې زمانه

فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿١٦﴾

نو سخت شو زړونه د دوی، او ډیر د دوی نه فاسقان دي.

اِعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

پوهه شئ یقینًا الله تازه کوي زمکه پس د اوچ والي د هغې نه،

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٧﴾

تحقيق سره واضح بيان کړي دي مونږ تاسو ته دلائل خامخا چې تاسو د عقل نه کار واخلئ.

إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَأَقْرَضُوا

یقینًا خیرات کونکي سړي او خیرات کونکي ښځے او ورکړه کړي ده دوی

اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ

الله ته ورکړه ښائسته دوچند به کړے شي دوی لره (مال دنیا کښې) او دوی لره اجر دے

كَرِيمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ

عزتمند. او هغه کسان چې ایمان ئې راوړے دے په الله او په پیغمبرانو د هغه باندې

أُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ

دغه کسان دوی دي رشتینې، او ګواهان په نزد

رَبِّهِمْ ۖ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَالَّذِينَ

د رب د دوی باندې، دوی لره اجر د دوی دے او رڼا د دوی ده، او هغه کسان

كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَآ أُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ

چې کفر ئې کړے دے او نسبت د دروغو کې آیتونو زمونږ ته دغه کسان جهنميان

Maktaba Tul Ishaat.com

ع ٩ ١٨

الْجَحِيْمِ ﴿١٩﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

دي ٠ يوهه شئ يقيناً ژوند د دنيا

لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ وَّ زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ

لوبے او عبثے دي او نمائش دے او لوئي ده په مينځ ستاسو کښې

وَ تَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَ الْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ

او ډير والے دے په مالونو او اولاد کښې ، په شان د

غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ

باران دے چې تعجب کښې اچوئ زميندارو لره زرغونه د دي بيا اوچ شي

فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ؕ وَ فِي

نو وينے به ته دي لره تک زير بيا شي ذره ذره ، او په

الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّ مَغْفِرَةٌ مِّنَ

آخرت کښې عذاب سخت دے ، او ښښنه ده د طرفه د

اللّٰهِ وَ رِضْوَانٌ ؕ وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا

الله نه او رضامنتيا ده ، او نه دے ژوند د دنيا مګر

مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿٢٠﴾ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ

څکه د دهوکي ده ، رامنډه کئ بخښنے ته د طرفه د

رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ

رب ستاسو نه او جنت ته چې پلنوالے د هغې په شان د پلنوالي د اسمانونو

وَ الْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ

او د زمکے دے ، تيار کړے شوے دے د پاره د هغه کسانو چې ايمان ئې راوړے دے په الله او

رُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ

پيغمبرانو د الله باندي ، دا فضل د الله دے ورکوي دي لره چا لره ئې چې

يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۲۱﴾ مَاۤ
خوښه شي، او الله خاوند د فضل لوئے دے. نه
اَصَابَ مِنۡ مُّصِيۡبَةٍ فِي الۡاَرۡضِ وَ لَا فِيۡۤ
رسيږي څه مصيبت په زمکه کښې (عام) او نه (پواځے)
اَنۡفُسِكُمۡ اِلَّا فِيۡ كِتٰبٍ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ
نفسونو ستاسو ته مګر په کتاب (تقدير) کښې دي مخکښې د
نَّبۡرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرٌ ﴿۲۲﴾
پيدا کولو زمونږ دي (مخلوقات) لره، يقيناً دا کار په الله باندے آسان دے.
لِّكَيۡلَا تَاۡسَوۡا عَلٰى مَا فَاتَكُمۡ وَ لَا تَفۡرَحُوۡا
دي د پاره چې غمژن نه شئ تاسو په هغه څه باندې چې فوت شو ستاسو نه او مستي اونه کړئ
بِمَاۤ اٰتٰٮكُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٍ
په هغه چې درکړي ئې دي تاسو ته، او الله مينه نه کوي د هر چل ولي
فَخُوۡرِ ۙ ﴿۲۳﴾ الَّذِيۡنَ يَبۡخَلُوۡنَ وَ يَاۡمُرُوۡنَ
لوئي مار سره. هغه کسان چې بخل کوي او حکم کوي
النَّاسَ بِالۡبُخۡلِ ؕ وَ مَنۡ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ
خلقو ته د بخل، او څوک چې واوړيده پس يقيناً الله
هُوَ الۡغَنِيُّ الۡحَمِيۡدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا
هم دے بے پرواه ستائلے شوے دے. تحقيق سره رالېږلي وو مونږه پيغمبران خپل
بِالۡبَيِّنٰتِ وَ اَنۡزَلۡنَا مَعَهُمُ الۡكِتٰبَ
په واضحه دلائلو سره او رالېږلے وو مونږه دوی سره کتاب
وَ الۡمِيۡزَانَ لِيَقُوۡمَ النَّاسُ بِالۡقِسۡطِ ۚ وَ
او د تول کتاب دي د پاره چې اودريږي خلق په انصاف، او

Maktaba Tul Ishaat.com

اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ
او پیدا کړے ده مونږه اوسپنه په دې کښې دې (اسباب د) جنګ سخت
وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ
او فائدې د پاره د خلقو دې د پاره چې ښکاره کې الله هغه څوک چې امداد کې د دین د الله
وَ رُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿٢٥﴾
او د پیغمبرانو د الله سره د نه لیدو، یقینًا الله طاقت والا او زورآور ذات دے *
وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّ اِبْرٰهِيْمَ وَ جَعَلْنَا
او تحقیق سره رالیږلے وو مونږه نوح (علیه السلام) او ابراهیم (علیه السلام) او ګرځولے وو مونږه
فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَ الْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ
په اولاد د دوی کښې نبوت/پیغمبري او (ورکول د) کتاب پس بعضې د دوی نه
مُّهْتَدٍ ۚ وَ كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ
نیغه لار موندونکې وو، او ډیر د دوی نه فاسقان وو * بیا
قَفَّيْنَا عَلٰۤى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَ قَفَّيْنَا
وروسته کړل مونږه په نښو نښانو د دوی پیغمبران زمونږه او وروسته که مونږه
بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَ اٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ
عیسی (علیه السلام) زوئے د بي بي مریم او ورکړے وو مونږه ده ته انجیل،
وَ جَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ
او ګرځولے وه مونږه په زړونو د هغه کسانو کښې چې تابعداري ئې کړې وه د هغه
رَاْفَةً وَّ رَحْمَةً ؕ وَ رَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوْهَا
نرمي او رحمت، او رهبانیت[1] د خان نه جوړ کړے وو دوی هغې لره
مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ
نه وو مقرر کړے مونږه هغې لره په دوی باندې لیکن د پاره د لټولو د رضامنتیا د

(١) د دنیا څخه ګوښه کول

اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا
الله تو دوی لحاظ اونه ساته د هغې پوره لحاظ ، نو وركه مونږ

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَ كَثِيْرٌ
هغه كسانو ته چې ايمان ئې راوړے وو د دوی نه اجر د دوی، او ډير

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا
د دوی نه فاسقان وو. اے ايمان والو!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ
اويريږئ د الله نه او ايمان راوړئ په پيغمبر د الله باندې دربه كړي تاسو ته

كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ
دوه اندې (دو چند اجر) د رحمت خپل نه او وبه كرځي تاسو لره

نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ
رڼا چې ځئ به تاسو هغې سره او ببښنه به اوكړي تاسو ته ، او الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ
ښونكے رحم كونكے دے. دې دپاره چې پوهه شي اهل

الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ
كتاب چې قادر نه دي دوی په هيڅ شي باندې

مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ
د فضل د الله نه او يقينًا فضل د الله په لاس د

اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو
الله كښې دے وركړي دې لره چا ته ئې چې خوښه شي ، او الله خاوند د

الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾
فضل لوئي دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

آياتها ٢٢ سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةِ مَدَنِيَّةٌ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ترتيب ٥٨ نزول ١٠٥ ركوعاتها ٣

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ

تحقيق سره واوريده الله وينا د هغه زنانه چي بحث ئې کوتا سره په باره

زَوْجِهَا وَ تَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَ اللّٰهُ يَسْمَعُ

د خاوند خپل کنبي او فرياد ئي کو الله ته ، او الله اوريدي

تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝١ اَلَّذِيْنَ

خبري اتري ستاسو ، يقيناً الله اوريدونکي ليدونکي دے * هغه کسان چي

يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ مَّا هُنَّ

ظهار کئ ستاسو نه د بيبيانو خپلو نه نه دي دا ښځے

اُمَّهٰتِهِمْ ۭ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ

ميندي د دوي ، نه دي ميندي د دوي مګر هغه زنانه چي زيږولي ئې دي دوي لره ،

وَ اِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ

او يقيناً دوي خامخا وائي نا آشنا د وينا نه

وَ زُوْرًا ۭ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝٢ وَ الَّذِيْنَ

او دروغ ، او يقيناً الله خامخا معافي کونکے مهربان دے * او هغه کسان

يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ

چي ظهار کئ د بيبيانو خپلو نه بيا راګرځي دوي

لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ

هغه وينا نه چي وئيلے ئي وه نو آزادول دي د څټ (د غلام) مخکښي د دي نه

يَّتَمَآسَّا ۭ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۭ وَ اللّٰهُ بِمَا

چي لاس وروړي يو بل له ، دغه حکم پند درکولے شي تاسو ته په دي باندي ، او الله په هغه چي

سُورَةُ الْمُجَادِلَةِ

ربط د سورت المجادلة:

(۱) مخکښې سورت کښې ترغيب الى الانفاق ذکر شو دلته ځائے د انفاق ښائي.

(۲) مخکښې سورت کښې احوال د منافقينو ذکر شو دلته دوی له زواجر ورکئ.

(۳) مخکښې سورت کښې ترغيب وو انفاق ته دانفاق دپاره تنظيم ضروري وی نو دلته تنظيم ته ترغيب ورکئ.

امتيازات د سورت المجادلة:

(۱) دا سورت ممتاز دے په واقعې د خوله بنت حکيم رضي الله عنها باندې.

(۲) په کفارے د ظهار باندې.

(۳) په آدابو د مجلس باندې.

دعوی د سورت المجادلة: زجر منافقينو ته او رد د رسم باطل.

خلاصه د سورت المجادلة: سورت کښې رد د رسم باطل دے څکه رسم باطل سره په جماعت کښې افتراق راځي

په عربو کښې دا رسم وو: ښځې ته به ئې (انت علیّ کظهر امی) اوئيل نوهغه به ئې هميشه په ځان حرامه ګڼړله او دې سورة مجادله کښې درې ځله لفظ د الم سره آيت ۷، ۸، ۱٤، کښې منافقانو ته زجر دے،

او درې قاعدې دپاره دجماعت ذکر کوي په لفظ د يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا سره.

اوله قاعده. آيت ۹ چې غلطې جرګې مه کوئ.

دويمه قاعده آيت ۱۱ کښې، چې مجلس کښې ملګری ته ځائے پريږدئ.

دريمه قاعده آيت ۱۲ کښې چې امير جماعت ته مخکښې د جرګې نه صدقه {تحفه} پيش کئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرٌ ﴿۳﴾ فَمَنۡ لَّمۡ یَجِدۡ فَصِیَامُ

تاسو کوئ خبر دار دے * پس چا چې اونه مونده (غلام) نو روژے نیول دي

شَهۡرَیۡنِ مُتَتَابِعَیۡنِ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ

دوه میاشتې پرله پسے مخکښې د دې نه چې

یَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنۡ لَّمۡ یَسۡتَطِعۡ فَاِطۡعَامُ سِتِّیۡنَ

لاس ورړې یو بل له، پس څوک چې طاقت نه لري (د روژو نیولو) نو خوراک ورکول دي شپېتو

مِسۡکِیۡنًا ؕ ذٰلِکَ لِتُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَ رَسُوۡلِهٖ ؕ

مسکینانو ته، دا دې د پاره چې تاسو ایمان اولرئ په الله او په پیغمبر د الله باندې،

وَ تِلۡکَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ ؕ وَ لِلۡکٰفِرِیۡنَ عَذَابٌ

او دا پولې (حکمونه) د الله دي، او د پاره د کافرانو دے عذاب

اَلِیۡمٌ ﴿۴﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ یُحَآدُّوۡنَ اللّٰهَ وَ رَسُوۡلَهٗ

دردناک * یقینًا هغه کسان چې خلاف کوي د الله او د پیغمبر د الله

کُبِتُوۡا کَمَا کُبِتَ الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وَ قَدۡ

ذلیله به شي لکه څنګه چې ذلیله شوي وو هغه کسان چې مخکښې د دوي نه وو او په تحقیق سره

اَنۡزَلۡنَاۤ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ ؕ وَ لِلۡکٰفِرِیۡنَ عَذَابٌ

رالیږلي دي مونږه دلائل واضحه، او د پاره د کافرانو عذاب

مُّهِیۡنٌ ﴿۵﴾ یَوۡمَ یَبۡعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِیۡعًا فَیُنَبِّئُهُمۡ

سپکونکے دے * (یاده که) هغه ورځ چې راپورته به کړي الله ټول نو خبر به ورکړي دوي ته

بِمَا عَمِلُوۡا ؕ اَحۡصٰهُ اللّٰهُ وَ نَسُوۡهُ ؕ وَ اللّٰهُ

په هغه چې دوي کړے وو احاطه کړې ده (د دوي) په عمل باندې الله او دوي هیر کړے دے خپل عمل او الله



عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ ﴿۶﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

په هر یو شي باندې ګواه / پوهه دے * آیا ته نه ګورې چې یقینًا الله

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَا
پوهيږي په هغه چي آسمانونو او هغه چي زمكو كښي دي ، نه
يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ
كيږي هيڅ يو جرګه د دريو كسانو مګر دا الله څلورم د دوى وي
وَ لَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَ لَآ اَدْنٰى مِنْ
او نه د پنځو كسانو مګر دا الله شپږم د دوى وي او نه كم د
ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ
دي نه او نه زيات (د دي نه) مګر دا الله دوى سره وي(۱) كوم ځائے چي وي دوى ،
ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ
بيا به خبر وركي دوى ته په هغه عملونو چي دوى كړي وو په ورځ د قيامت باندي ، يقيناً
اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ
الله په هر يو شي باندي پوهه دے ، آيا ته نه ګوري هغه كسانو ته
نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا
چي منع شوي وو د (غلطو) جرګو نه بيا راګرځي دوي هغه ته چي منع شوي وو
عَنْهُ وَ يَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ
د هغي نه او جرګي كوي په خورولو د ګناه (شرک) او د زياتي (بدعت)
وَ مَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ ؗ وَ اِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ
او په نافرماني د پيغمبر او كله چي راشي دوى تا ته پيشكشي دركي تا ته(۲)
بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ وَ يَقُوْلُوْنَ فِيْٓ
په هغه الفاظو باندي چي پيشكشي نه ده دركړي تا ته په هغي سره الله ، او وائي دوى په
اَنْفُسِهِمْ لَوْ لَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ ؕ
زړونو خپلو كښي ولے عذاب نه راكوي مونږه لره الله په سبب د هغه چي وايو مونږه ،

(۱) په اعتبار د علم.
(۲) سلام كوي په تا باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ

كافي دے دوي لره جهنّم ، دننه به شي دي ته ، پس ډير بد دے

الْمَصِيْرُ ⑧ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ

ځائے د ورتلو (داجهنم)* اے ايـمان والو كله چي جرگه كوئ تاسو

فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ وَ مَعْصِيَتِ

نو جرگه مه كوئ په گناه او زياتي او په نافرمانئ د

الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۭ وَاتَّقُوا

پيغمبر (عليه السلام) او جرگه كوئ په نيكئ (توحيد) او پرهيزگارئ (سنت) ، او اوبريږئ د

اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ⑨ اِنَّمَا النَّجْوٰى

الله هغه ذات نه چي هغه ته به تاسو پورته كړے شئ* يقيناً غلطه جرگه

مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ لَيْسَ

د شيطان د طرفه ده دي د پاره چي غمژن كړي هغه كسان چي ايمان ئې راوړے دے او نه دے

بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَ عَلَى اللّٰهِ

ضرر وركونكے دوي ته ذره بر مگر په حكم د الله ، او په الله باندي

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ

ځان دِ اوسپاري مـــــومنان* اے

اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ

ايمان والو كله چي اوئيلے شي تاسو ته چي ځائے پربردئ په مجلسونو كښي

فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا

نو ځائے پربردئ پراخي به راولي الله ستاسو د پاره ، او كله چي اوئيلے شي خواره شئ

فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَ

نو خوځ تاسو (خواره شئ) پورته كړي الله هغه كسان چي ايمان ئې راوړے دے ستاسو نه ، او

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا

هغه کسان چي ورکړے شوے دے ورته علم په درجو کښې، او الله په هغه چي

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١١﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا

تاسو ئې کوئ خبر دار دے* اے ایمان والو کله چي

نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ

جرګي کوئ تاسو پیغمبر (علیه السلام) سره نو پیش کئ مخکښې د

نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَ اَطْهَرُ ؕ

جرګه ستاسو نه صدقه، دا کار غوره دے د پاره ستاسو او ډیر پاکیزه (د پاره د زړونو)

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢﴾

پس که اونه موندو تاسو (مال) نو یقینًا الله بښونکے مهربان دے*

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

ایا ګران لګي په تاسو(١) دا چي مخکښې کئ تاسو د جرګے خبلے نه

صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

صدقے، پس کله چي اونه که تاسو دا کار (د مجبورۍ نه) او مهرباني اوکړه الله په تاسو باندي

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَطِيْعُوا

نو قائم کئ مونځ او ورکئ زکوة او تابعداري اوکئ د

اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٣﴾

الله او د پیغمبر د الله، او الله خبر دار دے په هغه چي تاسو ئې کوئ*

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ

آیا ته نه ګوري هغه کسانو ته چي واوړیدل / دوستي ئې اوکړه داسي قوم سره چي غضب کړے دے الله

عَلَيْهِمْ ؕ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَ لَا مِنْهُمْ ۙ وَ يَحْلِفُوْنَ

په هغوي باندي، نه دي دوی ستاسو ملګري او نه د هغوي، او قسمونه خوري دوی

(١) آيا او ګران دي تاسو

ع

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَى الْكَذِبِ وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ

په دروغه باندي او دوي پوهيږي * تيار کړے دے الله

لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

دوي لره عذاب سخت ، يقينًا دوي ډير بد دے هغه چي دوي

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٥﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا

عمل کړ * نيولي ئي دي قسمونه / لوظونه خپل ډال نو بندئ خلقو لره / بنديږي

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٦﴾

د لاري د الله نه نو دوي لره دے عذاب سپکونکے *

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَ لَآ اَوْلَادُهُمْ

هيڅ کله فائده به ورنه کي دوي ته مالونه د دوي او نه اولاد د دوي

مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ

د (عذاب د) الله نه هيڅ شے ، دغه کسان جهنميان دي ، دوي به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا

به دي کښي هميشه وي * (ياد که) هغه ورځ چي پورته به کي دوي لره الله ټول

فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَ يَحْسَبُوْنَ

نو دوي به قسمونه خوري دي الله ته لکه څنګه چي قسمونه خوري تاسو ته او ګمان کړ دوي

اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿١٨﴾

چي يقينًا دوي په څه دين باندي دي ، خبر دار يقينًا دوي هم دوي دي دروغژن *

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ

غالب شوے دے په دوي باندي شيطان نو هير کړے ئي دے دوي نه کتاب د

اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ

الله ، دغه کسان ډله د شيطان ده ، خبر دار يقينًا ډله د

الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
شيطان هم دوي دي تاوانيان · يقينًا هغه كسان چي
يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِي
خلاف كئ د الله او د پيغمبر د الله دغه كسان به
الْاَذَلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَ رُسُلِيْ ؕ
ذليلو (خلقو) كښي دي * مقرر كړے ده الله چي خامخا غالب به يم زه او پيغمبران زما ،
اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿٢١﴾ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ
يقينًا الله طاقت والا زورآور ذات دے * نه به مومي ته يو قوم چي ايمان راوړي
بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ
په الله باندي او په ورځ د آخرت باندي چي هغوي به دوستي كئ د هغه چا سره چي خلاف كئ د
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ
الله او د پيغمبر د الله اگر كه وي دغه كسان پلاران د دوي يا زامن د دوي
اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ
يا رونړه د دوي يا ټبر د دوي ، دغه كسان مضبوط كړے دے (الله) په
قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَ اَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ
زړونو د دوي كښي ايمان او مضبوط كړي ئي دي دوي لره په مهرباني د خپل طرف نه ،
وَ يُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
او دننه به كي دوي لره جنتونو ته چي بهيږي به د لاندي د (اونو د) هغي نه
الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ
ولے هميشه به وي په هغي كښي ، خوشحاله دے الله د دوي نه
وَ رَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ
او دوي خوشحاله دي د الله نه ، دغه كسان ډله د الله ده ، خبر دار يقينًا

Maktaba Tul Ishaat.com

حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٢٢﴾

دله د الله هم دوي دي كامياب *

آياتها ٢٤ سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ترتيب ٥٩ نزول ١٠١ ركوعاتها ٣

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ ۚ

پاكي بيانوي الله لره هغه چي اسمـــانونو او هغه چي زمكو كښي دي ،

وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِیْۤ اَخْرَجَ

او دا الله غالب حكمت والا دے * دا الله هغه ذات دے چي راوئي يستل

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ

هغه كسان چي كفر ئي كړے دے د اهل كتابو نه د كورونو د دوي نه

لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَ ظَنُّوْۤا

په اول حملے (د مومنانو باندي) ، گمان نه كوو تاسو دا چي دوي به اوځي او دوي گمان كوو

اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ

چي يقيناً دوي بچ كونكي دي دوي لره قلعي د دوي. د (عذاب د) الله نه نو راغے دوي ته

اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَ قَذَفَ فِیْ

(عذاب د) الله د داسے طرف نه چي دوي. گمان هم نه كو ، او وے غورځوله په

قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ

زړونو د دوي كښي يره ورانول ئي كورونه خپل

بِاَيْدِيْهِمْ وَ اَيْدِی الْمُؤْمِنِيْنَ ۗ فَاعْتَبِرُوْا

په لاسونو خپلو او په لاسونو د مومنانو باندي ، نو عبرت واخلئ

يٰۤاُولِی الْاَبْصَارِ ﴿٢﴾ وَ لَوْ لَاۤ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ

اے خاوندانو د عقل (عقلمندو)* او كه نه وے مقرر كړے الله

سُوْرَةُ الْحَشْرِ

ربط د سورت الحشر :

(١) مخکښې سورت کښې منافقانو ته زواجر ذکر شو دلته حال د منافقانو ذکرکيږي.

(٢) مخکښې سورت کښې قواعد دتنظيم ذکر شو دلته آيت ٨ تا١٠ کښې صفات د ارکانو دتنظيم ذکر کړ.

(٣) مخکښې سورت آيت ٥ کښې صداقت د قرآن ذکر شو دلته آيت ٢١ کښې عظمت د قرآن ذکر کيږي .

امتيازات د سورت الحشر :

(١) سورت ممتاز دے په واقعې د بنی نظير باندي .

(٢) په ذکر د جلا وطنۍ د يهودو سره .

(٣) په ذکر د لينة کهجوري باندي .

دعوی د سورت الحشر : الزجر و التخويف ، و حال المنافقين .

خلاصه د سورت الحشر : په سورت کښې پنځه خبري ذکر کيږي :

{١} دعوی د توحيد آيت ١.

{٢} تخويف دنيوی او د هغې مثال سره د وجې د جلاوطنۍ نه آيت ٢ تا ٤ بيا مصارف د مال فئ بناني او ترغيب الی الانفاق ورکړ آيت ٦ تا١٠.

{٣} زجر منافقانو ته او دهغوی اوصاف قبيحه {يعنې بغض کول ديو بل سره،خپل مينځ کښې افتراق ،يو بل سره دهوکه کول اوبزدلی کول } ذکر کيږي آيت ١١ تا١٧

{٤} تزهيد من الدنيا او ترغيب الی الآخرة آيت ١٨ ،٢٠.

{٥}عظمت د قرآن د پاره د ترغيب الی القرآن او توحيد سره د دلائلو نه ذکر کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيۡهِمُ الۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا ؕ وَ لَهُمۡ

په دوي باندي جلاوطني نو خامخا عذاب به ئي ورکړے وو دوي ته په دنیا کښې، او دوي لره

فِى الۡاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ

په آخرت کښې عذاب د اوور دے * دا د دي وجې نه چي دوي

شَآقُّوا اللّٰهَ وَ رَسُوۡلَهٗ ۚ وَ مَنۡ يُّشَآقِّ اللّٰهَ

خلاف کړے وو د الله او د پیغمبر د الله، او چا چي خلاف اوکه د الله

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿۴﴾ مَا قَطَعۡتُمۡ

پس یقیناً الله سخت عذاب والا دے * هغه چي بریکولے تاسو

مِّنۡ لِّيۡنَةٍ اَوۡ تَرَكۡتُمُوۡهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى

لینه کهجورے یا پریخودي تاسو هغي لره ولاړي په

اُصُوۡلِهَا فَبِاِذۡنِ اللّٰهِ وَ لِيُخۡزِىَ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿۵﴾

مونډانو خپلو باندي نو دا په حکم د الله باندي وو او دي د پاره چي رسوا کي (الله) فاسقان *

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوۡلِهٖ مِنۡهُمۡ فَمَآ اَوۡجَفۡتُمۡ

او هغه چي غنیمت اوکه الله په خپل پیغمبر باندي د دوي نه نو نه وو زغلولي تاسو

عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٍ وَّ لَا رِكَابٍ وَّ لٰـكِنَّ اللّٰهَ

په دي باندي څه اسونه او نه سورلي(اوښان) لیکن الله

يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

غالب کړي پیغمبران خپل په هغه چا چي خوښه ئې شي ، او الله په هر یو

شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۶﴾ مَاۤ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوۡلِهٖ مِنۡ

شي باندي قدرت والا دے * هغه چي غنیمت اوکه الله په خپل رسول باندي د

اَهۡلِ الۡقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوۡلِ وَلِذِى الۡقُرۡبٰى

کلو والو نه نو خاص د پاره د الله او د پاره د پیغمبر(د الله) او د پاره د خپلو خپلوانو (د پیغمبرعلیه السلام)

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَیْ لَا

او د يتيمانانو او د مسكينانو او د مسافرو، دي د پاره چي نه

يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ

شي اړول راړول په مينځ د مالدارو ستاسو كښي، او هغه چي دركړي تاسو ته

الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ

پيغمبر نو اونيسئ هغي لره، او هغه چي منع كړئ تاسو لره د هغي نه نو منع شئ،

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۷

او اويرېږئ د الله نه، يقينًا الله سخت عذاب والا دے.

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ

(مال فيئ) د پاره د غريبانو مهاجرينو هغه كسانو دے چي اوښكلے شوي دي د

دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ

كورونو خپلو نه او (جدا شوي دي) د مالونو خپلو نه لټي دوي فضل د طرفه د

اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

الله نه او رضامنتيا او امداد كړئ د (دين د) الله او د پيغمبر د الله،

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝۸ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ

دغه كسان هم دوي دي رشتيني. او هغه كسان چي ځائے ئې وركړ (مهاجرينو ته)

الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ

په كورونو كښي او (راوړے ئې دے) ايمان مخكښي (د راتلو) د دوي نه مينه ساتي دوي هغه چا سره

هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

چي هجرت ئې كړے دے ته او نه مومي دوي په سينو خپلو كښي

حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

تنګستيا د هغه څه نه چي وركړے شوي دي دوي ته او غوره كړئ (انصار مهاجرينو لره) په خپلو ځانونو باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۟ؕ وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ

اګر که وي په دوي (انصارو) باندې لوږه، او څوک چې بچ کړے شو د بخل د

نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٩ وَ الَّذِيْنَ

خپل نفس نه نو دغه کسان هم دوي دي کامیاب ٭ او هغه کسان

جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا

چې راغلل دوي روستـــو د دوي نه وائي دوي اے ربه زمونږه ببښنه اوکې مونږ ته

وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَ لَا

او رونړو زمونږ هغه کسانو ته چې مخکښې شوي دي زمونږ نه ایمان (راوړلو) سره او مه

تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ

ګرځے په زړونو زمونږ کښې بد نیتي هغه کسانو ته چې ایمان ئې راوړے دے اے ربه زمونږه

اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝١٠ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

یقینًا ته ئې نرمي کونکے مهربان ٭ ایا ته نه ګوري هغـــه کسانو ته

نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چې منافقت ئې کړے دے وائي دوي رونړو خپلو هغه کسانو ته چې کفر ئې کړے دے

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ

د اهل کتابو نه که اوښکلے شوئ تاسو نو خامخا اوځو به مونږه

مَعَكُمْ وَ لَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّ اِنْ

تاسو سره او تابعداري نه کوو مونږه په باره ستاسو کښې د یو تن هیڅري ، او که

قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ

جنګ کولے شي تاسو سره نو خامخا امداد به کوو مونږه ستاسو، او الله ګواهي کړي چې یقینًا دوي

لَكٰذِبُوْنَ ۝١١ لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ

خامخا دروغژن دي ٭ که دوي اوښکلے شو نو نه اوځي (دا منافقان) دوي سره

وَلَىِٕنْ قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَىِٕنْ نَّصَرُوْهُمْ

او که جنګ کولے شي دوي سره نو امداد نه کيږ د دوي ، او که امداد کيږ د دوی

لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۙ قف ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ⑫ لَاَنْتُمْ

نو خامخا وابه ړي شاګاني بيا به د دوي امداد اونه کړے شي * خامخا تاسو

اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ

ډير سخت يئ په اعتبار د يرې په سينو د دوي کښې د الله نه ، دا په دې وجه

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ⑬ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ

چې يقينًا دوي يو قوم دے چې نه پوهيږي * جنګ نه کيږ دوي تاسو سره

جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ

ټول مګر په هغه کلو قلعه بندو کښې يا آخوا د

جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ

ديوال نه ، جنګ د دوي په خپل مينځ کښې سخت دے ، ګمان به کے ته په دوي باندې

جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا

د متفقو او زړونه د دوي مختلف دي ، دا په دې وجه چې دوي يو قوم دے چې د

يَعْقِلُوْنَ ⑭ كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيْبًا

عقل نه کار نه اخلي *مثال د دوی په شان د هغه کسانو دے چې مخکښې د دوي نه وو نزدے

ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ⑮

وے څکه انجام د عمل خپل ، او دوي لره عذاب دردناک دے *

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ

(مثال د منافق په دوستي کښې) په شان د شيطان دے کله چې واېي انسان ته کفر اوکه ،

فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ

پس کله چې کفر اوکي نو واېي دے يقينًا زه بے زاره يم ستا نه زه يريږم

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا

د الله نه چې رب د مخـــلوقات دے • نو شي انجام د دې دواړو يقينًا دا دواړه

فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ۗ وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا

په اوور كښې هميشه به وي په دې اوور كښې ، او دا ده بدله

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ

د ظالمانو • اے ايمـــان والو اوېرېږئ د الله نه

وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ۗ

او سوچ دِ اوکړي هريو نفس چې څه ئې مخکښې کړي دي د پاره د صبا (قيامت) ، او اوېرېږئ د الله نه،

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ ۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨﴾ وَ لَا تَكُوْنُوْا

يقينًا الله خبردار دے په هغه چې کوئ تاسو • او مه كيږئ تاسو

كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ۗ

په شان د هغه کسانو چې هېر کړے ئې دے الله نو هېر كه دوي نه (الله) حق د نفسونو د دوي،

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ

دغه كسان هم دوي دي فاسقان • نه دي برابر جهنميان

النَّارِ وَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۗ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

او جنتيان • جنتيان

هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى

هم دوي دي كامياب • كه رااليږلے وے مونږه دې قرآن لره په

جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ

يو غر باندې نو خامخا ليدلے به وو تا دې غر لره يريدونكے ټوټے ټوټے كيدونكے د وېرے د

اللّٰهِ ۗ وَ تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ

الله نه، او دغه مثالونه دي بيانوو مونږه دے لره خلقـــو ته

لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ

خامخا چې دوي سوچ او فکر اوکړي * دا الله هغه ذات دے چې نشته بل حاجت روا

اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ

مګر دا الله دے، پوهه دے په پټو او په ښکارو باندې، دا الله عامې مهربانۍ والا

الرَّحِيْمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

او خاصې مهربانۍ والا دے * دا الله هغه ذات دے چې نشته بل حاجت روا مګر دا الله دے،

اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ

بادشاه ډیر پاک دے سلامتیا ورکونکے امن ورکونکے حفاظت کونکے

الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

غالب زور آور لائق د لوئۍ دے، پاکي ده الله لره د هغه نه چې

يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ

دوي ئې شريکوي (الله سره) دا الله پيدا کونکے هر څه جوړونکے شکل ورکونکے دے

لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

دي الله لره نومونه دي ښائسته ښائسته، پاکي بيانوي دي الله لره هغه مخلوقات چې آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾ ع

او زمکو کښې دي، او دا الله غالب حکمت والا دے *

ع ٣ / ٦

اٰياتها ١٣	سُوْرَةُ الْمُمْتَحَنَةِ مَدَنِيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — تدوین ٦٠ نزول ٩١	رکوعاتها ٢

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ

اے ایمان والو مه نیسئ دشمنان زما او

عَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَ

دشمنان خپل دوستان چې لیږئ تاسو دوي ته خبر د دوستۍ

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ

ربط د سورت الممتحنة :

(۱) مخکښې سورت کښې بیان دمعاهدینو داهل کتابو وو دلته بیان د معاهدینو د مشرکینو دے .
(۲) مخکښې سورت کښې زجر ومنافقینو ته دلته مؤمنانو ته زجر ورکئ .
(۳) مخکښې سورت کښې نمونه دعذاب ذکر شوه دلته په افعال قبیحه باندې زجر اورتنه ورکئ .

امتیازات د سورت الممتحنة :

(۱) سورت ممتاز دے په خصوصی تسلی باندې مؤمنانو ته .
(۲) په ذکر ددوه قسمه کافرانوباندې .
(۳) په حکم دامتحان کولو په مهاجراتو مؤمناتوباندې .

دعویٰ د سورت الممتحنة : التباعد من الکافرین و الزجر لمن تولهم

خلاصه د سورت الممتحنة : دا سورت دوه حصې دے ،

اوله حصه ٦ پورې پدیکښې زجر دے په دوستئ د کافرانو سره او د دوی نه د بائیکاټ کولو علتونه او واقعه دابراهیم ﷺ او د هغه دملګرو بطور تمثیل او تنویر ذکر کیږي .

دویمه حصه : آیت ۷ نه ترآخره پورې ، پدیکښې د مؤمنانو د پاره ضروری امور ذکر کیږي اول کښې تسلي بیا د کافرانو {مشرکانو} دوه قسمونه ذکر کئ

{۱} هغه کافران چې هغوی سره د مؤمنانو لین دین روادے چې هغه معاهدین دي آیت ۸ .
{۲} هغه کافران چې هغوی سره لین دین جائز نه دے چې هغه محاربین دي آیت ۹.

بیا دوه قاعدې ذکر کیږي :
{۱} قاعده دپاره د مؤمنانو په باره دمعاشرت مع الکفار اوپه باره دمهاجروزنانو کښې آیت ۱۰ .
{۲} قاعده دپاره د نبي علیه السلام او د امیر جماعت په باره د کیفیت اوشرائطو د بیعت کښې . آیت ۱۲ .

قَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ

تحقيق سره دوي كفر كړے دے په هغه چې راغلے دے تاسو ته حق ، اوباسي دوي

الرَّسُوْلَ وَ اِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ

پيغمبر او خاص تاسو لره دي وجې نه چې تاسو ايمان لرئ په الله چې رب ستاسو دے ،

اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ ابْتِغَآءَ

كه تاسو وتلي يئ د پاره د جهاد كولو په لاره زما كښې او د پاره د لټولو د

مَرْضَاتِيْ ۖ تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَ

رضامنتيا زما ، پټوئ تاسو دوي ته دوستي ، او

اَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَ مَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَ مَنْ

زه پوهه يم په هغه چې پټوئ تاسو او په هغه چې ښكاره كوئ تاسو ، او چا چې

يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ①

اوكه دا كار ستاسو نه (آئنده) تحقيق سره خطا شو دے د نيغي لاري نه .

اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً وَّ يَبْسُطُوْٓا

كه وس بر شي د دوي په تاسو باندې نو شي به دوي ستاسو د پاره دشمنان او اوږده به كې

اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَ وَدُّوْا

تاسو ته لاسونه خپل او ژبے خپلے په بدئی سره او خوښ ګڼړي دوي

لَوْ تَكْفُرُوْنَ ② لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَ لَآ

ارمان چې تاسو كفر اوكړئ . هر ګز فائده به درنه كې تاسو ته خپلـــولي ستاسو

{٦}زجر په محبت د دنیا باندې آیت ۲۷ او سورت په بشارت او تخویف باندې ختمیږ .

مِسْكِيْنًا وَّ يَتِيْمًا وَّ اَسِيْرًا ﴿٨﴾ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ

مسکین او یتیم او قیدي له* (دوی به ورته وئیل) یقیناً مونږه خوراک درکوو تاسو ته

لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا ﴿٩﴾

د پاره د رضا د الله نه غواړو مونږه ستاسو نه بدله او نه تعریف *

اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ﴿١٠﴾

یقیناً مونږه یریږو د رب خپل نه د (عذاب د) هغه ورځې نه چې ده تروشه او سخته *

فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَ لَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّ

نو اوساتل دوی لره الله د شر د دغه ورځې نه او مخامخ ئي کړل دوی لره د تازګی او

سُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَ جَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّ حَرِيْرًا ﴿١٢﴾

خوشحالي سره* او بدله ئي ورکړه دوی ته په سبب د هغه چې دوی صبر کړے وو جنت او ریښم*

مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا

تکیه لګونکي به وي په دي کښې په کرسو باندي، نه به ویني دوی په دي کښې

شَمْسًا وَّ لَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾ وَ دَانِيَةً عَلَيْهِمْ

نور (ګرمي) او نه سړزي * او نږدے به وي په دوی باندي

ظِلٰلُهَا وَ ذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾ وَ يُطَافُ

آرام د دي جنت او تابع کړے شوي به وي میوے د دي په تابع کولو سره * او ګرځولے به شي

عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّ اَكْوَابٍ كَانَتْ

په دوی باندي لوښي د سپینو زرو او کبونه چي وي به

قَوَارِيْرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيْرَا۠ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا

د شیشے * شیشے د سپینو زرو اندازه کړي به وي دي لره

تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾ وَ يُسْقَوْنَ فِيْهَا كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا

په اندازه کولو سره * او څکولے به شي په دوی باندي دي کښې ګلاسونو چي وي به ملاوټ د هغي

Maktaba Tul Ishaat.com

زَنْجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾

سونټ * چينه ده په جنت کښې نوم ورته کيخودے شوے دے سلسبيل (هميشه روانه) *

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ۚ إِذَا رَأَيْتَهُمْ

او ګرځي به کے په دوی باندې هلکان هميشه ، کله چې اوبينے ته دوی لره

حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُورًا ﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ

ګمان به ته په دوی باندې د ملغلرو نوستلے شوو * او کله چې ته اوګورے دغه مقام کښې

رَأَيْتَ نَعِيمًا وَّمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾ عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ

اوبه وينے ته نعمتونه او بادشاهي لويه * د پاسه د دوی جامے به وي

سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّإِسْتَبْرَقٌ ۖ وَّحُلُّوا أَسَاوِرَ

د نرو ريښمو شنو او د غټو ريښمو او کالي دار به کړے شي دوی په باهو ګانو

مِنْ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴿٢١﴾

د سپينو زرو ، او اوبه څکي په دوی باندې رب د دوی څکاک پاک *

إِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ

يقينًا دا ده د پاره ستاسو بدله او دے عمل ستاسو

مَّشْكُورًا ﴿٢٢﴾ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ

قبول شوے * يقينًا موږه رالیږلے دے تا ته قرآن

تَنْزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ

په لږ لږ رالیږلو سره * نو صبر کوه فيصلے د رب ستا ته او مه منه د دوی نه

اٰثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّ

د ګناهګار او د منکر * او يادوه نوم د رب ستا صبا او

أَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ

بيګا * او د شپے څه حصه کښې سجده کوه الله ته او پاکي بيانوه د هغه

لَيۡلًا طَوِيۡلًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوۡنَ الۡعَاجِلَةَ وَ

شپه اوږده * يقينًا دغه كسان مينه كوي د دنيا سره او

يَذَرُوۡنَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمًا ثَقِيۡلًا ﴿٢٧﴾ نَحۡنُ خَلَقۡنٰهُمۡ

پرېږدي دوی، روستو د خان نه ورځ درنه * موږه پيدا كړي دي دوی لره

وَشَدَدۡنَاۤ اَسۡرَهُمۡ ۚ وَاِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَاۤ اَمۡثَالَهُمۡ

او مضبوط كړے دے موږه بنياد د دوی، او كله چې اوغواړو موږه بدل كښې به راولو موږه په شان د دوی

تَبۡدِيۡلًا ﴿٢٨﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذۡكِرَةٌ ۚ فَمَنۡ شَآءَ اتَّخَذَ

په بدلولو سره * يقينًا دا پند دے ، پس څوک چې اوغواړي اودے نيسي

اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ

خپل رب ته لار * او نه شئ كولے تاسو يو كار مگر دا چې خوښه شي د

اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ﴿٣٠﴾ يُّدۡخِلُ

الله ، يقينًا الله دے پوهه حكمت والا * دننه كوي

مَنۡ يَّشَآءُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمِيۡنَ اَعَدَّ لَهُمۡ

څوک چې اوغواړي(الله) خپله مهرباني كښې، او ظالمان چې دي تيار كړے ئې دے دوی لره



عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿٣١﴾

عذاب دردناك *

سُوۡرَةُ الۡمُرۡسَلٰتِ مَكِّيَّةٌ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — آياتها ٥٠ — تعداد ٧٧ — نزول ٣٣ — ركوعاتها ٢

وَالۡمُرۡسَلٰتِ عُرۡفًا ۙ﴿١﴾ فَالۡعٰصِفٰتِ عَصۡفًا ۙ﴿٢﴾ وَّ

شاهد دي هغه فرشتے نرمي كونكي په نرمي سره * او سختي كونكي په سختۍ سره * او

النّٰشِرٰتِ نَشۡرًا ۙ﴿٣﴾ فَالۡفٰرِقٰتِ فَرۡقًا ۙ﴿٤﴾ فَالۡمُلۡقِيٰتِ

هغه فرښتي كهولاؤنكي عمل نامو د بندگانو لره په كهولاؤلو سره * شاهد دي هغه بيلونكي په بيلولو سره * شاهد دي راوړونكي

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوۡرَةُ الۡمُرۡسَلٰتِ

ربط د سورت المرسلات:

(۱) مخکښي سورت کښې اثبات د قیامت او احوال د ابرارو ذکر شو دلته اثبات د قیامت او احوال د اشرارو ذکر کیږي .

(۲) مخکښي سورت کښې لس انعامات دمتقیانو دپاره ذکر شو دلته لس احوال د منکرینو او لس خله دوی دپاره لفظ د{ویل} ذکر کیږي .

(۳) مخکښي سورت کښې اثبات د قیامت اوشو بالتمثیل دلته په هغې باندي زیادت کړ امثله د عذاب اوشواهد د قیامت ذکر کیږي .

امتیازات د سورت المرسلات:

(۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر دلس خله لفظ د{ویل}باندي دپاره دتکذیب کونکو.

(۲) په ذکر د شواهد خمسه باندي آیت ۱تا ٥ .

(۳) په ذکر د څلور احوالو د قیامت باندي آیت ۸تا۱۱.

دعویٰ د سورت المرسلات: اثبات د قیامت بالشواهد الخمسة، مأخذ آیت ۷.

خلاصه د سورت المرسلات: دا سورت دوه حصې دے : اوله حصه ،آیت ۱ تا ۲۸ پدیکښې پنځه خبرې ذکر کړ :

{۱}شواهد خمسه آیت ۱تا٦ .

{۲}دعویٰ د سورت آیت ۷ .

{۳}څلوراحوال د ابتداء د قیامت آیت ۸تا۱٥.

{٤}تخویف دنیوي په هلاکت دمکذبینو سابقینو باندي آیت ۱٦تا۱۹ .

{٥}دلائل عقلیه په قدرت د الله تعالیٰ باندي اوتمثیل د قیامت آیت ۲۰تا۲۸.

دویمه حصه ، آیت ۲۹ تا آخر : پدیکښې درې خبرې ذکر کیږي:

{۱}تخویف اخروي منکرینو ته آیت ۲۹تا٤۰ .

{۲}بشارت مؤمنانو ته آیت ٤۱تا٤٤.

{۳}زجرمشرکینو اومعرضینو د قرآن ته آیت ٤٥تا آخر .

ذِكْرًا ۝٥ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۝٦ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

وحي (قرآن) لره، د پاره د عذر ختمولو او د پاره د يرولو، يقيناً هغه چي وعده ئي كولے شي تاسو سره

لَوَاقِعٌ ۝٧ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ۝٨ وَ اِذَا

خامخا واقع كيدونكے دے، پس كله چي ستوري بے نوره كړے شي، او كله چي

السَّمَآءُ فُرِجَتْ ۝٩ وَ اِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۝١٠

آسمان پرانستے شي، او كله چي غرونه ذره ذره كړے شي،

وَ اِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ۝١١ لِاَيِّ يَوْمٍ اُجِّلَتْ ۝١٢

او كله چي پيغمبرانو له وخت وركړے شي، څومره لوئے ورځے مهلت وركړے شوے وو،

لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۝١٣ وَ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

ورځ د جدائي پورې، او څه شي پوهه كه تا لره چي څه ده ورځ د

الْفَصْلِ ۝١٤ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١٥

جدائي، هلاكت دے په دغه ورځ د پاره د تكذيب كونكو،

اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٦ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ

آيا نه وو هلاك كړي مونږه ړومبي، بيا وروسته كړل مونږه دوی پسے

الْاٰخِرِيْنَ ۝١٧ كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ۝١٨

روستني، دارنګې كار كوو مونږ مجرمانو سره،

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١٩ اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ

هلاكت دے په دغه ورځ د پاره د تكذيب كونكو، آيا نه يئ پيدا كړي مونږه تاسو

مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۝٢٠ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ

د اوبو سپكو نه، پس اوګرځوو مونږه دي لره په هغه ځائے د اودريدو كښې

مَّكِيْنٍ ۝٢١ اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ۝٢٢ فَقَدَرْنَا

مرتبے والا كښې، تر اندازے مقررے پورے، پس اندازه كړے ده مونږه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَنِعۡمَ الۡقٰدِرُوۡنَ ﴿٢٣﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ
پس څه ښائسته اندازه کونکي یو * هلاکت دے په دغه ورځ
لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿٢٤﴾ اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾
د پاره د تکذیب کونکو * آیا نه ده گرځولے مونږه زمکه کافي *
اَحۡيَآءً وَّ اَمۡوَاتًا ﴿٢٦﴾ وَّ جَعَلۡنَا فِيۡهَا رَوَاسِيَ
د پاره د ژوندو او د مړو * او گرځولي دي مونږه په دې کښې غـــرونه
شٰمِخٰتٍ وَّ اَسۡقَيۡنٰكُمۡ مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيۡلٌ
دنگ دنگ او څکولو مونږه په تاسو باندي اوبه خوږے * هلاکت دے
يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿٢٨﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى مَا كُنۡتُمۡ
په دغه ورځ د پاره د تکذیب کونکو * لاړ شئ هغه ته چي تاسو
بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ﴿٢٩﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى ظِلٍّ ذِىۡ ثَلٰثِ
په هغې باندي تکذیب کو* لاړ شئ هغه سوري ته چي خاوند د دریو
شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيۡلٍ وَّ لَا يُغۡنِىۡ مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾
څانگو دے* چي نه به وي یخ او نه به فائده ورکئ د گرمی نه*
اِنَّهَا تَرۡمِىۡ بِشَرَرٍ كَالۡقَصۡرِ ﴿٣٢﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ
یقینًا دا به اولي ذراتو لره په شان د بنگلو* گویا چه دا اوښان دي
صُفۡرٌ ﴿٣٣﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿٣٤﴾ هٰذَا
زیړ * هلاکت دے په دغه ورځ د پاره د تکذیب کونکو * دا
يَوۡمُ لَا يَنۡطِقُوۡنَ ﴿٣٥﴾ وَ لَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ
هغه ورځ ده چي دوی به خبري نه شي کولے * او نه به اجازت اوکړے شي دوی ته
فَيَعۡتَذِرُوۡنَ ﴿٣٦﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿٣٧﴾
چي عذر پیش کي (بهاني اوکي)* هلاکت دے په دغه ورځ د پاره د تکذیب کونکو*

هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ وَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾
دا ورځ د جدايي ده، جمع کړي يئ مونږ تاسو او رومبني *
فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ﴿۳۹﴾ وَيْلٌ
نو که وي تاسو لره څه تدبير (د خلاصي) نو تدبير اوکړئ ما سره * هلاکت دے
يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۰﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ
په دغه ورځ د پاره د تکذيب کونکو * يقينًا پرهيزګاران به په
ظِلٰلٍ وَّ عُيُوْنٍ ﴿۴۱﴾ وَّ فَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۴۲﴾
سورو (آرام) او چينو کښې وي * او ميوو کښې د هغه نه چې د دوی زړونه ئې غواړي *
كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾
(۱) خورئ او څکئ مبارک دي ئې تاسو لره په سبب د هغه چې تاسو کول *
اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَيْلٌ
يقينًا مونږ دارنګې بدله ورکوو نيکانو ته * هلاکت دے
يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۵﴾ كُلُوْا وَ تَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا
په دغه ورځ د پاره د تکذيب کونکو * خورئ او فائده واخلئ لــــږه
اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ
يقينًا تاسو مجرمان يئ * هلاکت دے په دغه ورځ
لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا
د پاره د تکذيب کونکو * او کله چې اوئيلے شي دوی ته رکوع اوکړئ
يَرْكَعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾
دوی رکوع نه کوي * هلاکت دے په دغه ورځ د پاره د تکذيب کونکو *
فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۰﴾
نو په کوم يو بيان پس د دې قرآن نه دوی به ايمان راوړي *

(۱) ورته به وئيلے شي

Maktaba Tul Ishaat.com

آیاتها ۴۰ — سُوْرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّة — تدوین ۷۸ نزول ۸۰ — رکوعاتها ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱﴾ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ﴿۲﴾

د څه شي باره کښې دوی تپوس کوي * په باره د خبر لوئي (قرآن، قیامت) کښې *

الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ﴿۳﴾ كَلَّا

هغه چې دوی په هغې کښې اختلاف کونکي دي * یقینًا

سَيَعْلَمُوْنَ ﴿۴﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿۵﴾ اَلَمْ

زر دے چې پوهه به شي دوی * بیا یقینًا زر دے چې پوهه به شي دوی * آیا نه

نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ﴿۶﴾ وَّ الْجِبَالَ اَوْتَادًا ﴿۷﴾

ده گرځولې مونږه زمکه فرش * او غرونه میخونه *

وَّ خَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ﴿۸﴾ وَّ جَعَلْنَا نَوْمَكُمْ

او پیدا کړي يئ مونږه تاسو جوړې جوړې * او گرځولے دے مونږه خوب ستاسو

سُبَاتًا ﴿۹﴾ وَّ جَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿۱۰﴾ وَّ جَعَلْنَا

راحت د بدن * او گرځولے ده مونږه شپه جامه * او گرځولے ده مونږه

النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿۱۱﴾ وَّ بَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا

ورځ وخت د گزران * او جوړ کړي دي مونږه د پاخه ستاسو اووه (آسمانونه)

شِدَادًا ﴿۱۲﴾ وَّ جَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿۱۳﴾ وَّ

مضبوط * او گرځولے ده مونږه ډیوه (نمر) بلیدونکي * او

اَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿۱۴﴾

را ورووو مونږه د سیبینے وریځے نه اوبه تېکیدونکے *

لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّ نَبَاتًا ﴿۱۵﴾ وَّ جَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿۱۶﴾

دې د پاره چې اوباسو مونږه په دې سره دانې او گیاگانے * او باغونه گڼر گڼر *

سُوْرَةُ النَّبَاِ

ربط د سورت النبأ :

(۱) مخکښي سورت کښي اثبات د قيامت اوشو دلته اثبات د قيامت او نفي د شفاعت قهريه ده .

(۲) مخکښي مؤمنانو ته بشارت وو دلته آيت ۳۱ تا ۳٦ کښي په هغي باندي ترقي ده .

(۳)ذکر شو وَّ جَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ د غرونو فائدے ذکر کيږي .

امتيازات د سورت النبأ : (۱)سورت ممتاز دے په ذکر د النَّبَاِ الْعَظِيْمِ،آيت ۲. (

(۲) په ذکر د سِرَاجًا وَّهَّاجًا.(۳) په ذکر د الْمُعْصِرٰتِ .

دعوي د سورت النبأ : اثبات د قيامت او نفي د شفاعت قهريه .

خلاصه د سورت النبأ : دا سورت دوه حصي دے :

اوله حصه ۱ تا ۳۰ :ديکښي دلائل عقليه او تفصيل د بعضو جملون د سورت مرسلات دے .

دويمه حصه : آيت ۳۱ تا آخر

ديکښي څلورخبري دي :

{۱}مؤمنانو ته بشارت .

{۲}نفي د شفاعت قهريه او اثبات د شفاعت اذنيه .

{۳} اثبات د قيامت .

{٤} تخويف اخروي .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ

يقينًا ورځ د بیلتون ده وخت مقرر * هغه ورځ

يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَّ فُتِحَتِ

چې پوک اوهلے شي په شپیلۍ، کښې نو رابه شئ تاسو ډلے ډلے * او پرابه نستے شي

السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَّ سُيِّرَتِ الْجِبَالُ

آسمان نو شي به دا دروازے دروازے * او روان به کړے شي غرونه

فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾

نو شي به دا شګوګل * يقينًا جهنّم ده بچونړه تیاره *

لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾

د پاره د سرکشو ځائے د ورتلو دے * درنګ به تیرونکي وي په دي کښې ډیره زمانه *

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَّ لَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا

نه به څکي دوی په دي کښې یخني او نه څکاک * مګر

حَمِيمًا وَّ غَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ

ګرمے اوبه او وینے زوے * (ور به کړے شي) سزا موافق د اعمالو د دوی * يقينًا

كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَّ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا

دوی عقیده نه ساتله د حساب (قیامت) * او تکذیب ئي کړے وو د آیتونو زمونږ

كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَ كُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿٢٩﴾

تکذیب کولو سره * او هر یو شے راګیر کړے (شمیرلے) دے مونږه دي لره خپل علم کښې *

فَذُوقُوا فَلَنْ نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ إِنَّ

نو اوڅکئ (عذاب) پس هیڅ کله نه زیاتوو مونږه تاسو له مګر عذاب * يقينًا

لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَ أَعْنَابًا ﴿٣٢﴾

ده پاره د پرهیزګارانو کامیابي * باغیچے او انګور *

وَّ كَوَاعِبَ اَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَّ كَاْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَا

او پیغلې همځولې (د خاوندانو) * او ګلاسونه ډک (د شرابو) * نه

يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّ لَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً

به اوري دوی په دې کښې فضول خبره او نه دروغ * (بدله به ورکړې شي) بدله

مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ

د طرفه د رب ستا نه ورکړه (بخشش) پوره (برابر د اعمالو) * مالک د آسمانونو

وَ الْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ

او د زمکو دے او د هغه (مخلوقاتو) چې په مینځ د دې دواړو کښې دي مهربان ذات دے واکدار به نه وي دوی

مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ

دې الله سره د خبرو کولو * په هغه ورځ چې اودریږي جبرئیل امین او فرښتې نورے

صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ

صف په صف، خبرې به نه شي کولے دوی، مګر هغه څوک چې اجازت اوکړي هغه ته مهربان ذات

وَ قَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ

او وئیلې وي ده پوره وینا (د توحید) * دا ورځ رښتیا ده، نو څوک چې

شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿٣٩﴾ اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ

غواړي او دِ نیسي خپل رب ته ځائے د ورتلو * یقینًا مونږه یرَوو تاسو لره

عَذَابًا قَرِيْبًا ۚ يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ

د عذاب نزدے نه، په هغه ورځ چې ګوري به سړے هغه (اعمالو) ته چې مخکښې کړي دي

يَدٰهُ وَ يَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿٤٠﴾

لاسونو د ده او وائي به کافر هائے ارمان دے ما لره چې وے زه خاورے *

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ — اٰيَاتُهَا ٤٦ — رُكُوْعَاتُهَا ٢ — ترتیب ٧٩ نزول ٨١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ

ربط د سورت النازعات:

(۱) مخکښې سورت کښې اثبات د قیامت په دلائلو اوشو دلته اثبات د قیامت په شو اهد او دلائلو سره دے.

(۲) مخکښې ذکر شو ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ دلته آیت ٦ تا ١٤ کښې تفصیل دیَوْمُ الْحَقِّ دے.

(۳) مخکښې ذکر شو وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝ دلته آیت ۲۷ تا ۲۹ کښې په هغې باندې زیادت ده.

امتیازات د سورت النازعات: (۱) سورت ممتاز دے په خصوصی احوال د فرښتو آیت ۱ تا ٥ .

(۲) په قول د کافرانو تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۚ (۳) په قول د الله تعالیٰ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ۝ .

دعویٰ د سورت النازعات: اثبات القیامة مع التخویف الدنیوی

خلاصه د سورت النازعات: ابتداء کښې پنځه شواهد په اثبات د قیامت، بیا احوال د آخرت او احوال د خلقو، زجر او تخویف اخروی منکرینو د قیامت ته، تخویف دنیوی په واقعې د فرعون، دلائل عقلیه او آخر کښې زجر او تخویف منکرینو ته او بشارت مؤمنانو ته ذکر کړې.

وَ النّٰزِعٰتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَّ النّٰشِطٰتِ نَشْطًا ﴿٢﴾
شاهد ي هغه روح ايستونكي (د كافرو نه) په سختۍ * او شاهد دي نرمي كونكي (مومنانو سره) په نرمۍ *

وَّ السّٰبِحٰتِ سَبْحًا ﴿٣﴾ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ﴿٤﴾
او شاهد دي لامبو وهونكي په لامبو وهلو * او شاهد دي مخكښې كيدونكي (حكم د الله ته) په مخكښې كيدو *

فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾
او شاهد دي تدبير كونكي د حكم د الله * په هغه ورځ چې جرق به اوهي جرقونكي (رومبئ شپيلي) *

تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ﴿٨﴾
وريسې به شي وريسې راتلونكي (دويمه شپيلي) * زړونه په دغه ورځ باندې خالي به وي (د عقل نه) *

اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا
سترګي د دغي زړونو (والو) ټيټې به راوتې وي * وائي به دوى ايا مونږه

لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا
خامخا واپس كيدونكي يو رومبي حالت ته * ايا كله چې شو مونږه هډوكي

نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوْا تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾
زاړه * وائي به دوى دا ده په دغه وخت كښې واپسي تاواني *

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَاِذَا هُمْ
پس بے شكه دا (قيامت) به وي شړک يو * پس ناساپه دوى به

بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿١٥﴾
په هموار ميدان وي * تحقيق سره راغلے دے تا ته خبر د موسى عليه السلام *

اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾
كله چې آواز اوكه ده ته رب د ده په هغه كنده پاكه طوي (كره وږه) كښې *

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ
لاړ شه فرعون ته يقينًا ده سركشي كړے ده * نو اووايه ايا شته

Maktaba Tul Ishaat.com

لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ

تا لره (راتلل دي خبري ته) چې ته خان پاک کې * او زه لار اوښايم تا ته په طرف د رب ستا

فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾

چې ته اوبريږي (د الله نه) * نو ورته ښودلې ده ته نښه لويه *

فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾

نو تکذيب اوکه (فرعون) او نافرماني ئې اوکړه * بيا ئې شا کړه کوشش ئې کو (د فساد)

فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾

نو راجمع ئې کړل (خلق) نو آواز ئې اوکه * نو اوئيل ده زه رب ستاسو يم اوچت *

فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾

نو اونيوه ده لره الله په سزا د آخرت او د دنيا *

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ءَأَنتُمْ

يقينًا په دې کښې خامخا عبرت دے د پاره د هغه چا چې بريږي * آيا تاسو

أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ

سخت يئ په پيدائش کښې يا آسمان، چې جوړ کړے ئې دے دې لره * اوچت کړے ئې دے

سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ

چهت د دې نو برابر کړے ئې دے دې لره * او تياره کړے ئې ده شپه د هغې او راايستے ئې دے

ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾

رڼرا د دې * او زمکه پس د دې نه غوړولې ئې ده دې لره *

أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلْجِبَالَ

راايستې ئې دي د دې (زمکې) نه اوبه د دې او چراګاه (ورشو) د دې * او غرونه

أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا

اودرولي ئې دي دې لره * د پاره د فائدې ستاسو او د پاره د فائدے د څارو ستاسو * پس کله چې

جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ

راشي مصيبت لوئي * په دغه ورځ يادي به

الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ﴿۳۵﴾ وَ بُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ

انسان هغه چي كړي ئي ده (عمل / عقيده) * او ښكاره به كړے شي جهنم

لِمَنْ يَّرٰى ﴿۳۶﴾ فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿۳۷﴾ وَ اٰثَرَ

هغه چا ته چي وېني (دي لره) * نو هر هغه چا چي سركشي اوكړه * او غوره ئي كه

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ

ژوند د دنيا * نو يقينًا جهنم دا دے

الْمَاْوٰى ﴿۳۹﴾ وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ

خائے د ده * او هر هغه څوک چي اوېريده د ملاقات د خپل رب نه

وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ

او منع ئي كه خپل ځان د خواهشاتو نه * نو يقينًا جنت

هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ

دا دے خائے د ده * تپوس كئ دوئ ستا نه په باره د قيامت كښي

اَيَّانَ مُرْسٰهَا ﴿۴۲﴾ فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰهَا ﴿۴۳﴾

چي كله به وي اودريدل د دي قيامت * په څه حالت كښي ئي ته د ياداشت د دي نه *

اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا ﴿۴۴﴾ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ

رب ستا ته انتهاء د علم د قيامت ده * يقينًا ته يرونكے ئي

مَنْ يَّخْشٰهَا ﴿۴۵﴾ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ

هغه چا له چي يريږي د هغې نه * ګويا چي دوئ به هغه ورځ چي اوېني دي لره نه

يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰهَا ﴿۴۶﴾

ئي وو تير كړے وخت مګر مازيګر يا ساخ د مازيګر *

Maktaba Tul Ishaat.com

آیاتها ۴۲ سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ عدداں نزول ۸۰ ۲۳ رکوعها ۱

عَبَسَ وَ تَوَلّٰٓی ۱ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰی ۲ وَ

تنگ شو (نبي عليه السلام) او اوړيده راوړيده* دی وجې نه چې راغے ده سره ړوند (صحابي)*. او

مَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰٓی ۳ اَوْ يَذَّكَّرُ

څه شي پوهه که تا لره شايد چې دے ځان به پاکې * يا پند اخلي

فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰی ۴ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰی ۵

نو فائده به ورکي ده ته پند اغستل * هر هغه څوک چې ځان ئي بے پرواه که (ستا نه) *

فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰی ۶ وَ مَا عَلَيْكَ اَلَّا

نو ته هغه ته توجه کے * او نشتے (بوج) په تا باندي چې

يَزَّكّٰی ۷ وَ اَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰی ۸ وَ هُوَ

ځان پاک نه کي دے (کفر او شرک نه)* او هر هغه څوک چې راغے تا ته چې کوشش کي (د زده کولو د دين)* او دے

يَخْشٰی ۹ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰی ۱۰ كَلَّآ

يريږي (الله نه) * نو ته هغه نه توجه اړے *هيچري نه دے داسې کار

اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۱۱ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۱۲ فِيْ صُحُفٍ

يقينًا دا پند دے *بس څوک چې غواړي پند دي واخلي*(دا قرآن دے) په صحيفو

مُّكَرَّمَةٍ ۱۳ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۱۴ بِاَيْدِیْ

عزتمندو کښې * اوچتے کړے شوو پاکے کړے شوو کښې * په لاسونو

سَفَرَةٍ ۱۵ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ۱۶ قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ

د ليکونکو * عزتمندو نيکوکارو (فرښتو)* په لعنت دي شي انسان څه شي

اَكْفَرَهٗ ۱۷ مِنْ اَیِّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ ۱۸

کافر که ده لره (څومره لوئ کفر ئي اوکه)؟ د څه شي نه پيدا کړے دے (الله) ده لره *

سُوْرَةُ عَبَسَ

ربط د سورت عَبَسَ :

(۱) مخکښې دلائل عقلیه ذکر شو په اثبات د قیامت دلته هم دلائل عقلیه دي خو په بل نهج او طریقه.

(۲) مخکښې تخویف اخروی وو دلته په هغې باندې زیادت او ترقي ده.

(۳) مخکښې انکار د منکرینو د قیامت وو دلته اثبات د قیامت په دلائلو سره.

امتیازات د سورت عَبَسَ :

(۱) دا سورت ممتاز دے په خصوصي حالت د نبي علیه السلام او د اعمیٰ.

(۲) سورت ممتاز دے په خصوصي زجر معرض د قرآن ته آیت ۱۷.

(۳) دا سورت ممتاز دے په قول د الله : كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُ.

دعویٰ د سورت عَبَسَ :اثبات د قیامت سره د تخویف نه

خلاصة د سورت عَبَسَ : سورت کښې پنځه خبرې دي :

{۱}توصیف د نبي علیه السلام په شدت حرص د دعوت منیب او غیرمنیب ته.

{۲}حث علی التبلیغ.

{۳}معرضینو د قرآن ته زجر.

{٤}ادله عقلیه په اثبات د قیامت.

{٥} اثبات د قیامت ، تخویف او بشارت.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنۡ نُّطۡفَةٍؕ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ۝١٩ ثُمَّ السَّبِيۡلَ

(۱) د يو څاڅکي اوبو نه، پيدا کړے يې دے ده لره نو اندازه کړے يې دے ده لره * بيا لاره (د ژوند تيرولو)

يَسَّرَهٗ ۝٢٠ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقۡبَرَهٗ ۝٢١ ثُمَّ اِذَا شَآءَ

آسانه کړے يې ده ده ته * بيا به مرګ ده لره نو داخل به کي ده لره قبر ته * بيا کله چي اوغواړي (الله)

اَنۡشَرَهٗ ۝٢٢ؕ كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ مَآ اَمَرَهٗ ۝٢٣ؕ فَلۡيَنۡظُرِ

راپورته به کي ده لره * يقيناً تر اوسه پورے پوره نه که ده هغه چي حکم کړے دے (الله) ده ته * نو او د ګوري

الۡاِنۡسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖۤ ۝٢٤ اَنَّا صَبَبۡنَا الۡمَآءَ

انسان خپل خوراک ته * يقيناً مونږ راورو اوبه

صَبًّا ۝٢٥ ثُمَّ شَقَقۡنَا الۡاَرۡضَ شَقًّا ۝٢٦ فَاَنۡۢبَتۡنَا

په راورولو سره * بيا شلولو مونږه زمکه په شلولو سره * نو زرغونوو مونږه

فِيۡهَا حَبًّا ۝٢٧ وَّ عِنَبًا وَّ قَضۡبًا ۝٢٨ وَّ زَيۡتُوۡنًا وَّ

په دي کښي دانے * او انګور او ترکاريانے * او خونه او

نَخۡلًا ۝٢٩ وَّ حَدَآئِقَ غُلۡبًا ۝٣٠ وَّ فَاكِهَةً وَّ اَبًّا ۝٣١

کهجورے * او باغيچے ګورے ګورے * او ميوے او ګياګانے *

مَّتَاعًا لَّكُمۡ وَلِاَنۡعَامِكُمۡ ۝٣٢ؕ فَاِذَا جَآءَتِ

د پاره د فائدے ستاسو او د پاره د څارو ستاسو * پس کله چي راشي

الصَّآخَّةُ ۝٣٣ؗ يَوۡمَ يَفِرُّ الۡمَرۡءُ مِنۡ اَخِيۡهِ ۝٣٤

چغه (وخت د چغے) * (ياده که) هغه ورځ چي تختي به سړے د رور خپل نه *

وَ اُمِّهٖ وَ اَبِيۡهِ ۝٣٥ وَ صَاحِبَتِهٖ وَ بَنِيۡهِ ۝٣٦ؕ لِكُلِّ

او د مور خپلے نه او د پلار خپل نه * او د بي بي خپلے نه او د خامنو خپلو نه * د پاره د هر يو

امۡرِیٴٍ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٍ شَاۡنٌ يُّغۡنِيۡهِ ۝٣٧ؕ

سړي د دوی نه په دغه ورځ يو حالت به وي چي بے پروا کړے به وي ده لره (د بل نه) *

(۱) پيدا کړے يې دے ده لره

وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ مُّسۡفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ

ډیر مخونه په دغه ورځ باندي روښانه • خاندیدونکي

مُّسۡتَبۡشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَ وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا

خوشحاله به وي • او ډیر مخونه په دغه ورځ په هغي باندي

غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ

ګرد وغبار به وي • رسیدلے به هغي ته تور والے • دغه کسان هم دوی دي

الۡكَفَرَةُ الۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

کافران خلاف کونکي (د حکم د الله) •

آیاتها ۲۹ سُورَةُ التَّكۡوِيرِ مَكِّيَّةٌ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ترتيب ۸۱ نزول ۷ رکوعها ۱

اِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ﴿١﴾ وَ اِذَا النُّجُوۡمُ

کله چي نور (نمر) ول کړے شي • او کله چي ستوري

انۡكَدَرَتۡ ﴿٢﴾ وَ اِذَا الۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ﴿٣﴾ وَ

اودړیږي • او کله چي غرونه روان کړے شي • او

اِذَا الۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ﴿٤﴾ وَ اِذَا الۡوُحُوۡشُ

کله چي دلسو میاشو بلاربه اوښه (محبوب مال) بے کاره پریخودے شي • او کله چي خنګلي ځناور

حُشِرَتۡ ﴿٥﴾ وَ اِذَا الۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ﴿٦﴾ وَ اِذَا

راجمع کړے شي (انسانو سره) • او کله چي دریابونه بل کړے شي • او کله چي

النُّفُوۡسُ زُوِّجَتۡ ﴿٧﴾ وَ اِذَا الۡمَوۡءٗدَةُ

روحونه جوړه کړے شي (بدنونو سره) • او کله چي د ژوندۍ خخي شوي نه

سُئِلَتۡ ﴿٨﴾ بِاَيِّ ذَنۡۢبٍ قُتِلَتۡ ﴿٩﴾ وَ اِذَا

تپوس اوکړے شي • چي په کوم ګناه باندي وژلے شوے وه • او کله چي

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوۡرَةُ التَّكۡوِيۡرِ

ربط د سورة التكوير:

(۱) مخکښې سورت کښې اثبات د قيامت اوشو دلته اثبات د قيامت بالترق على ما سبق .(۲) مخکښې ذکر شو يَوۡمَ يَفِرُّ الۡمَرۡءُ مِنۡ اَخِيۡهِ۝ دلته په هغې باندې ترقي ده فَاَيۡنَ تَذۡهَبُوۡنَ۝.

(۳) مخکښې صداقت د قرآن ذکر شو دلته هم صداقت د قرآن او زجر معرض ته د قرآن نه.

امتيازات د سورة التكوير: (۱) دا سورت ممتاز دے په راغنديدلو درنړا د نور اِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ۝.

(۲) سورت ممتاز دے په قول د الله تعالیٰ :وَاِذَا النُّجُوۡمُ انۡكَدَرَتۡ۝ .(۳) سورت ممتاز دے په پريښودلو د خلقو محبوب مالونو لره وَاِذَا الۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ۝.

دعویٰ د سورة التكوير: اثبات د قيامت په ذکر د ۱۲ احوالو سره او ملاقات د انسان د خپلو اعمالو سره .

خلاصه د سورة التكوير: سورت کښې دولس حالات ذکر کيږي . شپږ حالات د فناء د دنيا او شپږ حالات د ابتداء قيامت

الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَ اِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾

عمل نامې کھولاؤ کړې شي * او کله چې آسمان راخکلې شي *

وَ اِذَا الْجَحِيْمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَ اِذَا الْجَنَّةُ

او کله چې جهنّم بل کړې شي * او کله جنت

اُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ اَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾ فَلَآ

نږدې کړې شي * پوهه به شي هر يو نفس په هغه چې ده حاضر کړي وي * نو نه دې داسې کار(١)

اُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَ الَّيْلِ

زه شاهد کوم واپس کيدونکي * مخکښې تلونکي پټيدونکي (ستوري) * او شپه

اِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَ الصُّبْحِ اِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ اِنَّهٗ

کله چې شاکي * او صبا کله چې ساه واخلي * يقينًا دا قرآن

لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿١٩﴾ ذِىْ قُوَّةٍ عِنْدَ ذِى

خامخا وينا د استاذي عزتمند (جبرئيل امين) ده * چې خاوند د طاقت دے په نزد د مالک

الْعَرْشِ مَكِيْنٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ ﴿٢١﴾

د عرش مرتبې والا * منلې شوې دے په دغه ځائے کښې امانتدار دے *

وَ مَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ ﴿٢٢﴾ وَ لَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ

او نه دے پيغمبر ستاسو ليونے * او تحقيق سره ليدلے وو (نبي عليه السلام) (جبرئيل امين) لره په کناره

الْمُبِيْنِ ﴿٢٣﴾ وَ مَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿٢٤﴾

ښکاره * او نه دے دا (پيغمبر) په غيبو باندې بخيل *

وَ مَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿٢٥﴾ فَاَيْنَ

او نه دے دا (قرآن) وينا د شيطان رټلي شوي * پس چرته

تَذْهَبُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٧﴾

تاسو ځئ؛ (تختئ د الله د کتاب نه) * نه دے دا مگر پند دے د پاره د مخلوقات *

(١) خلک چې د مخلوق گمان دے

Maktaba Tul Ishaat.com

لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿٢٨﴾ وَ مَا تَشَآءُوْنَ

د هغه چا چې خوښه وي شي ستاسو نه دا چې ګلک اودريږي * او نه شئ کولے تاسو يو کار بغيرله خوښه

اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٩﴾

مګر دا چې اوغواړي الله رب د مخلوقات *

سُوْرَةُ الانفطار مَكِّيَّة — اٰيَاتُهَا ١٩ — تدوين ٨٢ نزول ٨٢ — رُكُوْعُهَا ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَ اِذَا الْكَوَاكِبُ

کله چې آسمان اوچوېږي * او کله چې ستوري

انْتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَ اِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَ اِذَا

اودريږي (اونسکلے شي) * او کله چې دريابونه روان کړے شي * او کله چې

الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ

قبرونو والا راپورته کړے شي * پوهه به شي هر يو نفس په هغه (عمل) چې مخکښې ئې ليږلے وي

وَ اَخَّرَتْ ﴿٥﴾ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ

او روستو ئې پريخودے وي * اے انسانه څه شي دهوکه که تا لره د رب ستا

الْكَرِيْمِ ﴿٦﴾ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ

عزتمند نه * هغه ذات چې پيدا کړے ئې دے تا لره نو برابر کړے ئې دے تا لره

فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ

نو انصاف ئې کړے دے تا کښې * په څومره ښائسته شکل کښې چې خوښه وه (د الله)

رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ﴿٩﴾

جوړ کړے ئې دے تا لره * هيڅرې داسې نه دي پکار بلکه تاسو تکذيب کوئ د قيامت *

وَ اِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿١١﴾

او يقيناً په تاسو باندې حفاظت کونکي فرشتے دي * عزتمندے ليکونکے *

سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارِ

ربط د سورة الانفطار :

(۱) مخکښي سورت ابتداء کښي دولس احوال ذکر شو د دې سورت ابتداء کښي څلور انقلابات دي.

(۲) مخکښي ذکر شو عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّآ أَحۡضَرَتۡ دلته هغي باندې ترقي ده عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ.

(۳) مخکښي تخصيص وو وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ دلته تعميم دے وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ.

امتيازات د سورة الانفطار : (۱) سورت ممتاز دے په انقلابات اربعه، آية ۱ تا ٤. (۲) سورت ممتاز دے په ذکر د کراماً کاتبين. (۳) سورت ممتاز دے په خطاب د الله انسان ته آية ٦.

دعوى د سورة الانفطار : د مخکښي سورت د دعوې وضاحت اونفي د شفاعت قهريه.

خلاصه د سورة الانفطار :: سورت کښي لس خبرې دي: ۱/اثبات د قيامت.

۲/التزهيد من الدنيا. ۳/ الترغيب الى الاعمال الصالحة. ٤/رد په فلاسفو.

٥/عظمت شان د الله. ٦/زجر معرضينو ته. ۸/دلائل عقليه په اثبات د قيامت.

۹/ التخويف و البشارة. ۱۰/ نفي د شفاعت قهريه او اثبات د توحيد.

سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْنَ

امتيازات د سورة المطففين : (۱) دا سورت ممتاز دے په زجرباندې دپاره دمطففينو وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ (۲) دا سورت ممتاز دے په اوصافو د مطففينو. (۳) دا سورت ممتاز دے په ذکر د كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ.

دعوى د سورة المطففين : الترغيب الى الايمان بالله والاعمال الصالحة.

خلاصه د سورة المطففين : سورت کښي شپږخبرې ذکر کيږي :

{۱} زجرمعرضينو ته. {۲} الترغيب الى الاعمال الصالحة. {۳} اثبات د قيامت {٤} زجر او تخويف منکرينو ته. {٥} بشارت مؤمنانو ته. {٦} اوصاف قبيحه د کافرانو سره د زجر او تخويف نه ثانياً.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَعۡلَمُوۡنَ مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿١٢﴾ اِنَّ الۡاَبۡرَارَ لَفِیۡ

پوهيږي په هغه چې تاسو ئې کوئ* يقينًا نيکوکار خامخا په

نَعِيۡمٍ ﴿١٣﴾ وَ اِنَّ الۡفُجَّارَ لَفِیۡ جَحِيۡمٍ ﴿١٤﴾

نعمتونو کښې به وي* او يقينًا بدکار خامخا په جهنّم کښې به وي*

يَّصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ الدِّيۡنِ ﴿١٥﴾ وَ مَا هُمۡ عَنۡهَا

دننه کيږي به دې جهنّم ته په ورځ د قيامت* او نه به وي دوی د دې (جهنّم) نه

بِغَآئِبِيۡنَ ﴿١٦﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰٮكَ مَا يَوۡمُ الدِّيۡنِ ﴿١٧﴾

پټيدونکي* او څه شي پوهه که تا لره څه ده ورځ د قيامت*

ثُمَّ مَاۤ اَدۡرٰٮكَ مَا يَوۡمُ الدِّيۡنِ ﴿١٨﴾ يَوۡمَ لَا

بيا څه شي پوهه که تا لره څه ده ورځ د قيامت* هغه ورځ چې

تَمۡلِكُ نَفۡسٌ لِّنَفۡسٍ شَيۡـئًا ؕ وَ الۡاَمۡرُ

واکدار به نه وي يو نفس(نيکو کار) د پاره د بل نفس (بدکار) د هيڅ شي، او اختيار (د فيصلې

يَوۡمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾

په دغه ورځ خاص الله لره دے*

آياتها ٣٦ سُوۡرَةُ الۡمُطَفِّفِيۡنَ مكّيّة بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ تدوين ٨٣ نزول ٨٦ ركوعها ١

وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ ﴿١﴾ الَّذِيۡنَ اِذَا اكۡتَالُوۡا

هلاکت دے د پاره د کم ورکونکو* هغه کسانو کله چې پيمانه اخلي

عَلَى النَّاسِ يَسۡتَوۡفُوۡنَ ﴿٢﴾ وَ اِذَا كَالُوۡهُمۡ

د خلقو نه نو پوره اخلي* او کله چې پيمانه ورکئ خلقو له

اَوْ وَّزَنُوۡهُمۡ يُخۡسِرُوۡنَ ﴿٣﴾ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ

يا تول کئ دوی ته کم ورکئ* آيا گمان نه کئ دغه کسان

اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۝۴ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝۵ يَّوْمَ يَقُوْمُ

جي يقينًا دوی بیرته کیدونکي دي * هغه ورځې لوئي ته * هغه ورځ چي اوبه دریږي

النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۶ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ

خلق رب د مخلوقات ته * چرې داسي نه ښکار (۱) ده يقينًا عمل نامه د

الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ۝۷ وَ مَآ اَدْرٰىكَ مَا

بد کارو خلقو خامخا په سجين کښي به ئي * او څه شي پوهه که تا لره څه دے

سِجِّيْنٌ ۝۸ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۝۹ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

سجين * رجسټر دے ليکلے شوے * هلاکت دے په دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝۱۰ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ

د پاره د تکذيب کونکو * هغه کسانو چي تکذيب کئ په ورځ د

الدِّيْنِ ۝۱۱ وَ مَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ

قيامت * او تکذيب نه کئ په دي باندي مګر هر يو حد نه تيرے کونکے

اَثِيْمٍ ۝۱۲ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ

ګناهګار * کله چي لوستلے شي په ده باندي آيتونه زمونږه وائي دے (دا) قيصي د

الْاَوَّلِيْنَ ۝۱۳ كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

ړومبنو * هيچرې داسي نه ده ښکار بلکه زنګ راوستے دے په زړونو د دوی باندي

مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۱۴ كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ

هغه (بدو اعمالو) چي دوی کول * نه دے داسے کار يقينًا دوی د (ديدار د) خپل رب نه

يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ۝۱۵ ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا

په دغه ورځ خامخا په پرده کښي به کړے شي * بيا يقينًا دوی خامخا ننه کيدونکي دي

الْجَحِيْمِ ۝۱۶ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِىْ كُنْتُمْ بِهٖ

جهنم ته * بيا اوبه وئيلے شي دا هغه دے چي تاسو په دي باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۷﴾ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ

تکذیب کولو * نه دے داسے کار یقینًا لیک (عمل نامه) د نیکانو (خلقو) خامخا په

عِلِّيِّيْنَ ﴿۱۸﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ﴿۱۹﴾ كِتٰبٌ

اوچت مقام کښې به وي * او څه شي پوهه که تا لره څه دے علیین مقام * دا لیک (رجسټر) دے

مَّرْقُوْمٌ ﴿۲۰﴾ يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ

لیکلے شوے * حاضریږي به دې ته نزدیکان (خلق الله ته) * یقینًا

الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿۲۲﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ

نیکان خامخا به نعمتونو کښې به وي * به تختونو باندې

يَنْظُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ

ګوري به (یو بل ته) * پیژنې به ته په مخونو د دوی کښې تازګي د

النَّعِيْمِ ﴿۲۴﴾ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ﴿۲۵﴾

نعمتونو * څکولے به شي په دوی باندې د هغه شرابو مهر شوو نه *

خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ؕ وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ

آخري حصه د هغې د مشکو به وي او د دے (نعمتونو) د پاره شوق دِ اوساتي

الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ﴿۲۷﴾

شوق ساتونکي * او ګډون د دې د تسنیم وي *

عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۸﴾ اِنَّ

چې دا یو چینه ده څکي به د دې نه نزدیکان (خلق الله ته) * یقینًا

الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

هغه کسان چې جرم ئې کړے دے دوی به (دنیا کښې) د مومنانو پورے

يَضْحَكُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ يَتَغَامَزُوْنَ ﴿۳۰﴾

خاندل * او کله چې تیریدل به دوی باندې ریزے پوندے به ئې ورته وهلے *

وَ اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿۳۱﴾

او كله به چې تلل خپلو كورونو ته تلل به دوی به مستې كونكي *

وَ اِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿۳۲﴾ وَ

او كله چې به ئې اوليدل دوی لره وئيل به دوی يقينًا دغه كسان خامخا گمراهان دي * او

مَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۳۳﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ

نه وو رالېږلے شوي دوی په مومنانو باندې ساتونكي (د اعمالو د دوی) * نو نن ورځ هغه كسان

اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ عَلَى

چې ايمان ئې راوړے وو د كافرانو پورې خاندي به * (ناست به وي) په

الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ

كرسو باندې گوري به (يو بل ته يا حالات د كافرانو) * تحقيق سره سزا وركړے شوه كافرانو ته

مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾

د هغه څه چې دوی كول *

ركوع ۱ ۸

اٰياتها ۲۵ — سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ترتيب ۸۴ نزول ۸۳ — ركوعها ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿۱﴾ وَ اَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَ

كله چې آسمان اوچوي * او غاړه كيږدي (حكم د) خپل رب ته او

حُقَّتْ ﴿۲﴾ وَ اِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ﴿۳﴾ وَ اَلْقَتْ

لائق ده (ده سره غاړه كيخودل) * او كله چې زمكه راښكلے شي * او اوغورځي

مَا فِيْهَا وَ تَخَلَّتْ ﴿۴﴾ وَ اَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَ حُقَّتْ ﴿۵﴾

هغه چې ئې په دې كښې او خالي شي * او غاړه به كيږدي (حكم) د رب خپل ته او لائق دي (دې سره غاړه كيخودل) *

يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ

اے انسانه يقينًا ته كوشش كونكے ئې خپل رب ته

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الاِنْشِقَاقِ

ربط د سورة الانشقاق :

(۱) مخکښې ذکر شو ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ دلته آية ۱۱ کښې په هغې زیادت او ترق ده. (۲) مخکښې اعمال صالحو ته ترغیب وو دلته ترغیب دے د قیامت منلو ته.

(۳) مخکښې منکرینو ته تخویف ذکر شو دلته آخری آیت کښې مؤمنانو ته بشارت ذکر کیږي .

امتیازات د سورة الانشقاق: (۱) دا سورت ممتاز دے په خصوصی انقلاباتو د زمکې او آسمان . (۲) سورت ممتاز دے په ذکر د شواهد ثلاثه . (۳) سورت ممتاز دے په قول د الله تعالیٰ باندې لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ﴿۱۹﴾.

دعویٰ د سورة الانشقاق: اثبات القيامة والترغيب الى الاعمال الصالحة .

خلاصه د سورة الانشقاق : سورت کښې پنځه خبرې دي :{۱} بیان د هغه احوالو چې قیامت ته به مخکښې وي{۲} ترغیب اعمال صالحو ته {۳} احوال د مؤمنانو او د هغوی د پاره بشارت {٤} احوال د کافرانو او د هغوی دپاره تخویف . {٥} منکرینو د قیامت ،معرضینو د قرآن او نافرمانو ته زجر آخر کښې بشارت .

كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ﴿۶﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ

كوشش كولو سره نو مخامخ كيدونكے يې د دې عمل سره * نو هر هغه څوک چې وركړے شو ده ته عمل نامه د ده

بِيَمِيْنِهٖ ۙ﴿۷﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا

په ښي لاس د ده باندې * نو زر دے چې حساب به اوكړے شي د ده سره حساب

يَّسِيْرًا ۙ﴿۸﴾ وَّ يَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿۹﴾

آسان * او واپس به شي خپل اهل ته خوشحاله *

وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿۱۰﴾

او هر هغه څوک چې وركړے شو هغه ته عمل نامه د هغه روستو د شا د هغه نه *

فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ يَصْلٰى سَعِيْرًا ؕ﴿۱۲﴾

نو زر دے چې غواړي به دے هلاكت * او دننه به شي جهنم ته *

اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿۱۳﴾ اِنَّهٗ ظَنَّ

يقينًا وو دے په اهل خپل كښې مست / خوشحاله * يقينًا ده به گمان كوو

اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۛ﴿۱۴﴾ بَلٰىٓ ۛ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ

چې دے به واپس نه شي (الله ته)* بے شكه ، يقينًا رب د ده دے ده لره

بَصِيْرًا ؕ﴿۱۵﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ﴿۱۶﴾ وَ الَّيْلِ

ليدونكے * نو نه دے داسے كار شاهد كوم زه تـــــرنگي لره * او شپه

وَ مَا وَسَقَ ۙ﴿۱۷﴾ وَ الْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ﴿۱۸﴾ لَتَرْكَبُنَّ

او هغه چې راجمع كړي (مخلوقات) * او سپوږمۍ كله چې پوره شي * خامخا لاړ به شئ تاسو

طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ؕ﴿۱۹﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۲۰﴾

يو حالت نه د بل حالت نه * نو څه دي دوي لره چې ايمان نه راوړي *

وَ اِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ۩﴿۲۱﴾

او كله چې لوستے شي په دوي باندې قرآن نو دوي سجده نه كوي *

Maktaba Tul Ishaat.com

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ
بلکه هغه کسان چي کفر ئي کړے دے نسبت د دروغو کي* او الله پوهه دے
بِمَا يُوْعُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٤﴾
په هغه باندي چي د دوی عقیده کښي دي* نو زيرے ورکه دوی ته په عذاب دردناک*
اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ
مګر هغه کسان چي ایمان ئي اوړه او عمل ئي اوکه نیک دوی لره
اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٢٥﴾
اجر دے بے حسابه*

آیاتها ٢٢ سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوين ٨٥ نزول ٢٧ رکوعها ١

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ﴿١﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ﴿٢﴾
شاهد دے آسمان د براوونو والا* او شاهد ده هغه ورځ چي وعده ئي کړے شوي ده*
وَ شَاهِدٍ وَّ مَشْهُوْدٍ ﴿٣﴾ قُتِلَ اَصْحٰبُ
او شاهد دے ګواه (پیغمبر علیه السلام) او ګواه کړے شوے (امت)* په لعنت د کړے شي هغه
الْاُخْدُوْدِ ﴿٤﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ﴿٥﴾ اِذْ هُمْ
خندقونو والا* د اوور ډیرو لمبو وو (ډیر خشاک والا)* کله چي دوی
عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ﴿٦﴾ وَّ هُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ
دي اوور سره ناست وو (د پاره د تماشي)* او دوی په هغه باندي چي کول ئي
بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ﴿٧﴾ وَ مَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ
مومنانو سره حاضر وو* او دوی بد نه ګنړه د دوی (مومنانو) نه مګر
اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿٨﴾ الَّذِيْ
دا چي دوی ایمان راوړے وو په الله غالب ستائلے شوي* هغه ذات

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ

ربط د سورت البروج:

(۱) مخکښې سورت کښې اثبات د قيامت اوشو دلته مقاصد اربعه عاليه ذکر کبري.

(۲) مخکښې ذکر شو بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ دلته ذکرئ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ.

(۳) مخکښې ذکر شو وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ دلته ذکر کئ وَّ اللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ.

امتيازات د سورت البروج:

(۱)دا سورت ممتاز دے په واقعې د اصحاب الاخدود.

(۲) په شواهد ثلاثه.

(۳) په خصوصي تخويف منکرينو ته. ۱۲۶٤

دعوىٰ د سورت البروج: البشارة للمؤمنين و التخويف للمنكرين.

خلاصه د سورت البروج: سورت کښې نهه خبرې دي:

{۱}شواهد ثلاثه په اثبات د توحيد. {۲}التذكير بايام الله. {۳} د مشرکانو دشمنی د مؤمنانو سره د ايمان اوتوحيد په وجه ده. {٤} تخويف منکرينو ته. {٥}بشارت دنيوی او بشارت اخروی مؤمنانو ته. {٦} ادله عقليه په اثبات د توحيد باندې. {۷}هلاکت د امم مکذبو {تخويف اخروی}. {۸} زجر منکرينو ته. {۹} توصيف او عظمت د قرآن کريم.

Maktaba Tul Ishaat.com

لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ ؕ وَ اللّٰهُ عَلٰی

چې هغه لره بادشاهي د آسمانونو او د زمکو ده ، او الله په

كُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ ؕ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ فَتَنُوا

هر يو شي باندې ګواه دے * يقينًا هغه کسان چې تکليف کښې ئې واچول

الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَ الۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ لَمۡ یَتُوۡبُوۡا فَلَهُمۡ

مومنان سړي او مومنانې ښځې بيا دوی توبه اونه ويسته نو دوی لره

عَذَابُ جَهَنَّمَ وَ لَهُمۡ عَذَابُ الۡحَرِیۡقِ ؕ﴿۱۰﴾

عذاب د جهنّم دے او دوی لره عذاب دے سوزونکے *

اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ

يقينًا هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے او عمل کړې نيک دوی لره

جَنّٰتٌ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ۬ؕ ذٰلِكَ

جنتونه دي چې بهيږي به لاندې د (اونو د) هغې نه ولې ، دا دے

الۡفَوۡزُ الۡكَبِیۡرُ ؕ﴿۱۱﴾ اِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِیۡدٌ ؕ﴿۱۲﴾

کاميابے لوئي * يقينًا نيول د رب ستا خامخا ډير سخت دي *

اِنَّهٗ هُوَ یُبۡدِئُ وَ یُعِیۡدُ ﴿ۚ۱۳﴾ وَ هُوَ الۡغَفُوۡرُ

يقينًا دا الله اول ځل پيدا کول کړي او دوباره ژوندي کول کړي * او دا الله دے ښښونکے

الۡوَدُوۡدُ ﴿ۙ۱۴﴾ ذُو الۡعَرۡشِ الۡمَجِیۡدُ ﴿ۙ۱۵﴾ فَعَّالٌ لِّمَا

مينه کونکے * مالک د عرش بزرګۍ والا * کونکے د هغه چې

یُرِیۡدُ ؕ﴿۱۶﴾ هَلۡ اَتٰىكَ حَدِیۡثُ الۡجُنُوۡدِ ﴿ۙ۱۷﴾

اراده اوکي * تحقيق سره راغلے دے تا ته خبر د لښکرو *

فِرۡعَوۡنَ وَ ثَمُوۡدَ ؕ﴿۱۸﴾ بَلِ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا فِیۡ

د فرعون او ثموديانو * بلکه هغه کسان چې کفر ئې کړے دے په

تَكْذِيبٍ ﴿۱۹﴾ وَّ اللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿۲۰﴾
دروغژنتیا کښې دي * او الله آخوا د دوی نه احاطه کونکے (راګیرونکے) دے *
بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾
بلکه دا دے قرآن د بزرګۍ والا * په لوح محفوظ (دفتر عالي د الله) کښې دے *

آیاتها ۱۷ سُوْرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوین ۸۶ نزول ۳۶ رکوعها ۱

وَ السَّمَآءِ وَ الطَّارِقِ ﴿۱﴾ وَ مَآ اَدْرٰىكَ مَا
شاهد دے آسمان او پټ راتلونکے د شپے * او څه شي پوهه که تا لره څه دے
الطَّارِقُ ﴿۲﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ اِنْ كُلُّ
پټ راتلونکے * ستورے دے پرقیدونکے * نشته هیڅ یو
نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ
نفس مګر شته په هغه باندې نګهبان * نو سوچ دِ اوکي انسان
مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿۶﴾ يَّخْرُجُ
چي د څه شي نه پیدا کړے شوے دے * پیدا کړے شوے دے د اوبو توب وهونکو نه * چي راوځي
مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ وَ التَّرَآئِبِ ﴿۷﴾ اِنَّهٗ عَلٰى
د مینځ د شا (د سړي) او د جڅکي (د ښځے) نه * یقینًا دا الله به
رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ﴿۸﴾ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ﴿۹﴾ فَمَا
واپس کولو د ده خامخا قدرت والا دے * (یاده که) هغه ورځ چي ښکاره به کړے شي پټ رازونه * نو نه به وي
لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّ لَا نَاصِرٍ ﴿۱۰﴾ وَ السَّمَآءِ ذَاتِ
ده لره څه طاقت او نه څوک امدادي * او شاهد دے آسمان خاوند د
الرَّجْعِ ﴿۱۱﴾ وَ الْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ
باران والا * او زمکه د چاودو والا * یقینًا دا

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوۡرَةُ الطَّارِقِ

ربط د سورت الطارق:

(۱) مخکښې سورت کښې اثبات د مقاصد اربعه عاليه اوشو دلته منکرينو د مقاصد اربعه عاليه ته زجر ورکې. (۲) مخکښې شواهد په اثبات د قيامت ذکر شو دلته دلائل په اثبات د قيامت ذکر کيږي. (۳) مخکښې ذکر شو اِنَّهٗ هُوَ يُبۡدِئُ دلته آيت ۷ کښې ئې تفصيل کې.

امتيازات د سورت الطارق: (۱) سورت ممتاز دے په شواهدو په محفوظيت د اعمالو د انسان. (۲) په تعريف د الطَّارِقُ په النَّجۡمُ الثَّاقِبُ سره. (۳) په قول د باری تعالیٰ: اِنۡ كُلُّ نَفۡسٍ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٌ۝.

دعویٰ د سورت الطارق: تسلی نبی ﷺ ته او تخويف منکرينو ته.

خلاصه د سورت الطارق: سورت کښې درې خبرې ذکر کيږي: {۱} شواهد په محفوظيت د اعمالو د انسان. {۲} دلائل عقليه په اثبات د قيامت او په صداقت د قرآن کريم. {۳} تسلی نبی ﷺ ته او تخويف منکرينو ته.

لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَّ مَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ اِنَّهُمْ

خامخا وینا ده واضحه * او نه دي دا توقے * یقینًا دوی

یَكِیْدُوْنَ كَیْدًا ﴿١٥﴾ وَّ اَكِیْدُ كَیْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ

تدبیر کئ تدبیر (ستا د هلاکت) * او زه تدبیر کوم تدبیر (د خلاصولو ستا) * نو مهلت ورکه

الْكٰفِرِیْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَیْدًا ﴿١٧﴾

کافرانو ته مهلت ورکه دوی ته لږ *

ع ١ / ١١

سُوْرَةُ الْاَعْلٰی مَكِّیَّةٌ

اٰیَاتُهَا ١٩ رُكُوْعُهَا ١

تدوین ٨٧ نزول ٨

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَی ﴿١﴾ الَّذِیْ خَلَقَ

پاکي بیانوه د ذات د رب ستا چې اوچت دے * هغه ذات چې پیدا کړے ئي دے (مخلوقات)

فَسَوّٰی ﴿٢﴾ وَ الَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی ﴿٣﴾ وَ الَّذِیْۤ

نو برابر کړے ئي دے (د هر یو شي) او هغه ذات چې اندازه کړے ئي دے (رزق) نو لار ئي ښودلے ده (١) * او هغه ذات

اَخْرَجَ الْمَرْعٰی ﴿٤﴾ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰی ﴿٥﴾

چې راویاسي چراګاه (ورشو) * نو او ګرځي دے لره اوچ (خس و خشاک) تک تور *

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰۤی ﴿٦﴾ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

زر دے چې اوبه لولم به تا باندې قرآن نو مه هیروه (قرآن) * مګر هغه چې خوښه شي د الله ،

اِنَّهٗ یَعْلَمُ الْجَهْرَ وَ مَا یَخْفٰی ﴿٧﴾ وَ نُیَسِّرُكَ

یقینًا دا الله پوهیږي په ښکاره او په هغه چې پټیږي * او زر دے چې آسان به بوزو تا لره

لِلْیُسْرٰی ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰی ﴿٩﴾

جنت ته * نو پند ورکه (په قرآن) که فائده ورکړي پند (او که نه ورکړي) *

سَیَذَّكَّرُ مَنْ یَّخْشٰی ﴿١٠﴾ وَ یَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَی ﴿١١﴾

زر دے چې پند به واخلي (قرآن نه) هغه څوک چې یریږي * او په ډډه به شي دي نه بدبخت *

(١) هر یو شي ته د ګرزان .

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الْاَعْلٰى

ربط د سورت الاعلیٰ:

(۱) مخکښې سورت کښې پیدائش د انسان ذکر شو دلته استکمال د انسان (قرآن) ذکر کیږي.

(۲) مخکښې ذکر شو چې الله حافظ دے دلته ذکر کیږي چې الله خالق دے.

(۳) مخکښې ذکر شو چې الله نګهبان دے دلته ذکر کیږي چې الله تعالیٰ عالم الغیب دے.

امتیازات د سورت الاعلیٰ: (۱) دا سورت ممتاز دے په بیان د مقصود اعلیٰ چې هغه توحید دے.

(۲) په ذکر د لارې دپاره د مقصود چې هغه قرآن دے.

(۳) په ذکر د مانع د مقصود نه چې محبت د دنیا دے.

دعوی د سورت الاعلیٰ: بیان د مضامینو ثلاثو: توحید، ترغیب الی القرآن، تزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة.

خلاصه د سورت الاعلیٰ: الله فرمائی دوه مسئلې اومنه: خالق لکل شئ هو الله، عالم بکل شئ هوالله. نو دوه نعمتونه به درکم علم د قرآن او جنت.

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ

ربط د سورت الغاشیة:

(۱) مخکښې سورة کښې تزهید من الدنیا او ترغیب الی الاخرة ذکر شو دلته منونکو د دې مسئلې ته بشارت ذکر کړ. (۲) مخکښې ئې د جهنم اور ته النَّارَ الْكُبْرٰى ویلی وو دلته ورته نَارًا حَامِيَةً وائی. (۳) مخکښې ذکر شو وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى۸ دلته د یُسْرٰی وضاحت کړ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ چې جنت دے.

امتیازات د سورت الغاشیة: (۱) دا سورت ممتاز دے په ذکر د الْغَاشِيَةِ.

(۲) په ذکر د عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ. (۳) په بیان د څلورو مثالونو د پاره د څلور درجو.

دعوی د سورت الغاشیة: تخویف منکرینو ته او بشارة مؤمنانو ته.

خلاصه د سورت الغاشیة: سورت کښې څلورخبرې ذکر کیږي:

{۱} تخویف منکرینوته اوناکاره حالت د دوی.

{۲} بشارت مؤمنانو ته په څلورو درجو سره.

{۳} الترغیب فی التبلیغ او تسلی نبی علیه السلام ته.

{٤} زجر او تخویف معرضینو د قرآن ته.

الَّذِیْ یَصْلَی النَّارَ الْکُبْرٰی ﴿۱۲﴾ ثُمَّ لَا

هغه کس چې دننه به شي اوور لوئي ته * بیا به نه

یَمُوْتُ فِیْهَا وَ لَا یَحْیٰی ﴿۱۳﴾ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ

مړېږي به دې کښې او نه به ژوندے کیږي (په ژوند د خوشحالۍ) تحقیق سره کامیاب شو هغه څوک

تَزَکّٰی ﴿۱۴﴾ وَ ذَکَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰی ﴿۱۵﴾ بَلْ

چې ځان ئې پاک که (په قرآن) * او یاد ئې که نوم د رب خپل نو مونځ ئې اوکه (۱) * بلکه

تُؤْثِرُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ﴿۱۶﴾ وَ الْاٰخِرَةُ خَیْرٌ

غوره کوئ تاسو ژوند د دنیا * او آخرت غوره دے

وَّ اَبْقٰی ﴿۱۷﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِی الصُّحُفِ الْاُوْلٰی ﴿۱۸﴾

او همیشه دے * یقینًا دا (بیان) خامخا په صحیفو ړومبنو کښې وو *

صُحُفِ اِبْرٰهِیْمَ وَ مُوْسٰی ﴿۱۹﴾

په صحیفو د ابراهیم (علیه السلام) او د موسی (علیه السلام) کښې *

(۱) یو الله ئې رامعبد که.

ع ۱۹ ۱۳

آیاتها ۲۶ — سُوْرَةُ الْغَاشِيَة مَكِّيَّة — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — تدوین ۸۸ نزول ۶۸ — رکوعها ۱

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴿۱﴾ وُجُوْهٌ

تحقیق سره راغلې دے تا ته خبر د پټونکي (ورځ د قیامت) * ډیر مخونه

يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿۳﴾

په دغه ورځ ذلیل به وي *عمل کونکي (په دنیا کښې) هسې ستړي شوي (په دنیا کښې) *

تَصْلٰی نَارًا حَامِيَةً ﴿۴﴾ تُسْقٰی مِنْ عَيْنٍ

دننه به شي اوور ګرم ته * څکولے به شي به دوی باندې د چینې

اٰنِيَةٍ ﴿۵﴾ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ﴿۶﴾

ګرمې نه * نه به وي دوی لره خوراک مګر زوز *

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يُسْمِنُ وَ لَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ﴿٧﴾ وُجُوْهٌ

نه به سربول کړي او نه به فائده ورکړي د لوږے نه * ډير مخونه

يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِيْ

په دغه ورځ خوشحاله به وي د خپل عمل نه به خوشحاله وي* په

جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيْهَا

جنت اوچت کښي* نه به اوري په دي کښي فضول خبره* په دي کښي

عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿١٣﴾ وَّ

چينه به ئي روانه * په دي کښي کټونه به وي اوچت اوچت * او

اَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾ وَّ نَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾

کوبونه کيخودے شوي به وي (په قطار باندي) * او بالختونه صف په صف *

وَّ زَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ﴿١٦﴾ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى

او بيچونړي (قالينونه) خواره شوي * آيا دوی نه ګوري

الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ

اوښ ته څه رنګے پيدا کړے شوے دے* او آسمان ته څه رنګے

رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾

اوچت شوے دے* او غرونو ته څه رنګے اودرولے شوي دي*

وَ اِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ

او زمکے ته څه رنګے غوړولے شوے ده* نو پند ورکه (په قرآن باندي)،

اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾

يقينًا ته ئي پند ورکونکے* نه ئي ته په دوی باندي ذمه دار*

اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَ كَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ

ليکن هغه څوک چي واوړيده (د قرآن نه) او کفر ئي اوکړه* نو عذاب به ورکړي ده ته الله

الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾

عذاب لوئي * يقينًا موږ ته دي راتلل د دوی *

ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

بيا يقينًا موږ باندې حساب د دوی دے *

آياتها ٣٠ سُورَةُ الْفَجْرِ مَكِّيَّةٌ ٨٩ ترتيب نزول ١٠ ركوعها ١

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾

شاهد دے صبا * او لس شپې (د رمضان) * او جفت (مخلوق) او طاق (مخلوق) *

وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ

او شپه کله چې آخر ته شي * تحقيق سره شته په دے کښې لوئي عبرت

لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ

د پاره د عقلمند * آيا ته نه گورے چې څه رنګے کار کړے وو رب ستا

بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ

عاديانو سره * (چې وو) ارم خاوند د پخو آبادو * هغه چې نه دي پيدا کړے شوي

مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا

په شان د هغې په کلو کښې * او ثموديان هغه کسان چې کنستل به ئې

الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

کاڼړي په کندو کښې * او فرعون خاوند د ميخونو *

الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا

هغه کسان چې سرکشي ئې کړے وه په کلو کښې * نو زيات ئې که په دې کلو کښې

الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ

فساد * نو راتوئ که په دوی باندې رب ستا شرک (يو خل)

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْرَةُ الْفَجْرِ

ربط د سورت الفجر :

(۱) مخکښې ذکر شو فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ دلته په هغې باندې ترقی ده وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ .

(۲) مخکښې ذکر شو وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ . دلته د دغه خلقو مثالو نه ذکر کړې لکه عادیان ، ثمودیان او فرعون .

